
# پیر د قران وویل...

## قران او مدرن مسلمان



هدایت الله ذاهب

ژباړه: ر. م. محمد

بسم الله الرحمن الرحیم

**د شهید احمد الهام ذاهب (زما د ګران فرشید) لوړ روح ته د ډالي وي. ستا یادونه زمونږ لپاره درانه دي. هیله لرو چې په جنت کې سره یوځای شو.**

# د قران پير وويل...
## قران او مډرن مسلمان

**هدايت الله ذاهب**

**ژباړونکی: ر. م. محمد**


**د کتاب ځانګړتياوې**

**اصلی عنوان:** پير قرآن گفت قرآن و مسلمان مدرن

- **عنوان:** پير د قــران وويل...: قران او مډرن مسلمان
- **ليکوال:** هدايت الله ذاهب
- **ژباړونکی:** ر. م. محمد
- **ناشر:** (انټرنېټي) کانون فرهنگی چراغ لاله
- **د خپرېدو وار او کال: لومړی ديجيتال، د ۱۴۰۴ هـ ش**



د چاپ، تکثير، ژباړې، خپراوي او کاپي حقونه خوندي نه دي، هر شخص يا اداره کولی شي دا کتاب چاپ يا يې خپور کړي.



ايميل: laleh@cheragh.info

# د عید محمد حامد تقریظ

بسم الله الرحمن الرحیم

ټولې ثنا او ستاینې هغه حق واجب الوجوب ذات لره دي، چې انسان یې په غوره او بهترینه بڼه پیدا کړ؛ «لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِيٓ أَحۡسَنِ تَقۡوِيمٖ»[1] «په حقیقت کې موږ انسان په ډېره ښه بڼه پیدا کړ». د خلقت له هماغه پیل نه یې د کرامت تاج د هغه پر سر ور کېښود؛ «وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ[2]» «دا خو زموږ پېرزوینه ده، چې بني آدم ته مو لویي ورکړه». هغه یې په علمي زېور سینګار کړ؛ «وَعَلَّمَ ءَادَمَ» «او آدم ته یې ورزده کړل». په ملأ اعلی کې پرښتې ترې ناخبره وې او د ملایکو په سجده یې مشرف وګرځاوه؛ «فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمۡ أَجۡمَعُونَ»[3]، «له دغه حکم سره سم پرښتې ټولې په سجده پرېوتلې». بېشمېره درودونه د وي د انبیاوو پر سپېڅلو ارواګانو باندې، چې د حق او حق پالنې لور ته یې دعوت وکړ؛ په ځانګړې توګه د انبیاوو پر سردار او سالار (وروستي امي نبي محمد مصطفی ﷺ)، چې تلپاتې معجزه یې په «ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ»[4] (اې پېغمبره ﷺ ولوله، د خپل رب په نوم، چې هغه ټول مخلوقات پیدا کړي)؛ سره پیل کېږي، تعلیم، تعلم او لوستل یې له هماغه پیل نه تر یوم الدین (قیامته) پورې پر خپل امت واجب وګرځول.

---

[1] سوره. التین، آیه. ۴

[2] سوره. الإسراء، آیه. ۷۰

[3] سوره. ص، آیه. ۷۳

[4] سوره. العلق، آیه. ۱

او بعد! په داسې يوه زمانه کې ژوند کوو، چې مډرن ژوندانه او د ټکنالوژۍ د عصر بوختياوو، د انساني ټولنو غوچ اکثريت له بېلا بېلو لارو، په ډول ډول طريقو او مختلفو لوبو او تفريحګانو سره د «ترکستان» پر لور سوق او روان کړي دي او دغه حالت د کلونو په اوږدو کې کرار کرار موږ د آب حيات (د قران عظيم الشان له سرچينې) لرې کړي يو. دغه ناورين په اوسني نسل کې د بل هر وخت په پرتله ډېر ليدل کيږي، داسې، چې د مانا او معنويت لپاره د زياتې تندې او د هوسايۍ لپاره د روح له ستړياوو سره سره، له نيږدې درملتونو څخه بې‌برخې شپه او ورځ تېروي.

دغه کتاب، چې تاسو يې مطالعه کوئ، د همدغه واقعيت له څهرې څخه نقاب (پرده) پورته کوي او د يوې کيسې په چوکاټ کې د همدغه تږي نسل واقعيت انځوروي؛ په دغه کتاب کې د يوه مډرن او بډايه ځوان کيسه، چې له معنوي پلوه تږی او فقير دی انځور شوې ده. هغه ځوان، چې د معنوي تندې تر څنګ په لسګونو پوښتنې لري او ځواب يې له داسې يوې سرچينې غواړي، چې زړه يې پرې سکون او آرام ومومي. بالاخره الهي عنايت يې لاس‌نيوی کوي او د قران پير لکه د خضر په څېر ورلېږي؛ تر څو يې هم پوښتنو ته ځواب ووايي، هم يې دننه په زړه کې د پلټنې او تحقيق قيامت را منځته کړي او د غوښتنې شوق يې ژوندی کړي.

ښاغلي ليکوال ورور هدايت الله «ذاهب»، چې له شکه پرته د دغه هېواد يو زړه سواند او رښتينی دعوتګر دی، هڅه کړې ده، چې هغه پوښتنې په ډېره عجيبه طريقه او په قران کريم باندې په تمسک سره ځواب کړي، چې ډېری ځوانان يې هر وخت د دين له عالمانو او د علم له خاوندانو پوښتي.

کله چې ما د هدایت الله ورور دغه اثر د روژې په میاشت کې مطالعه کړ؛ نو په زړه کې مې دا تمه او هیله را پیدا شوه، چې ای کاش! ټول ځوانان په ځانګړې توګه دري ژبي ځوانان دغه کتاب مطالعه او پر منځپانګه یې فکر او غور وکړي. له شک پرته د دغه کتاب په مطالعې سره به د ژوندي خدای له ژوندي کتاب سره ستاسو ګردجنه (کمزورې) اړیکه د غفلت له زنګ او دوړو پاکه او د ژوندانه په هره لحظه کې به په ډېره خوښۍ او پاک زړه له قران سره په خبرو راشئ.

قرآن د ژوندي خدای (الحی القیوم) کلام دی او د خدای تعالی کلام د هغه صفت دی؛ نو بیا قرآن د هر هغه چا لپاره، چې ابدي ژوند غواړي ژوندی، ګویا او روح بښونکی دی؛ نو د قرآن په بحر کې ځان غوټه کړه!

هیله ده، چې د دغه کتاب په لوستلو سره په ځوانانو کې د قرآن کریم د مطالعې او زده کړې روحیه را ژوندۍ شي؛ تر څو یو ځل بیا لکه د تېر په څېر د مسلمانانو ترمنځ یووالی، وروروګلوي، عدالت، شجاعت، مېړانه پیدا او دغه صفات عالمیانو ته ور زده کړي، او د دې شاهدان وي، چې د مسلمه امت په حق کې د الله ﷻ دا وینا حق ده: «كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَتَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِۗ»[1]. «اوس په نړۍ کې هغه غوره ډله تاسې یاست، چې د انسانانو د لارښوونې او اصلاح لپاره را منځته شوې ده، تاسې د نېکۍ امر کوئ او له بدیو منعه او پر الله ایمان لرئ».

[1] سو ره. آل عمران، آیه. ۱۱۰

په پای کې له الله ﷻ د ښاغلي لیکوال او درنو لوستونکو لپاره، چې دا ارزښتمند اثر مطالعه کوي، د دنیا او اخرت خیر او نېکه بدله غواړم؛ هیله لرم، چې زموږ زړه سوانده خویندې او وروڼه د دغه کتاب په نشر او خپراوي کې له نورو سره مرسته وکړي؛ تر څو د کتاب پیغامونه په لویه کچه دوستانو ته ورسېږي او ګټه ترې واخلي.

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

**عید محمد حامد**

**۲۸ شوال ۱۴۴۱ هـق**

## د شهید پوهنیار سید آصف هاشمي تقریظ

قرآنکریم د بشري دردونو شفا، د زړونو پسرلی او شفا ښبونکی دی؛ قرآنکریم د الله تَبَارَک وَتَعَالَی داسې کلام دی، چې په ښکلې او زړه منونکې طریقه او خوږو عباراتو خبرې کوي. دغه کتاب، چې د مډرن مسلمان پوښتنې پکې د قرآن کریم د آیاتونو په رڼا کې ځواب شوې؛ یو له هغو ښکلو او زړه را ښکونکو کتابونو څخه دی، چې د مرئ وچوالی لمدوي او تقریباً د مډرن انسان تنده لرې او ماتوي.

مډرن مسلمان واقعاً داسې ښې پوښتنې کوي، چې د هر اوسني ځوان په ذهن کې را ګرځي او د قران پیر هم مډرن مسلمان ته ډېر قانع کونکي ځوابونه ورکوي. دا کتاب د انسان ذهن روښانه کوي؛ ما یې له لوستلو زښت زیات خوند واخیست. باوري یم، چې لوستونکي یې نه یوازې دا چې خوند ترې اخلي؛ بلکه له هغه ډېر څه هم زده‌کوي؛ ما له دغه کتاب څخه ډېره زدکړه وکړه. زما په باور، هر ځوان چې دا کتاب ولولي، ان شاء الله چې د هدایت او کامیابۍ پر لور به قدم اخلي؛ ځکه دا داسې یو کتاب دی، چې د ډېرو ځوانانو تنده ماتوي ان.

د کتاب په پای کې د قرآن د پیر سپارښتنې او توصیې ډېرې په زړه پورې دي او که چېرې انسان پر دغو نصیحتونو، چې د سورة مؤمنون د شپږو لومړیو ایاتو په بنسټ بیان شوي، کټ مټ عمل وکړي، ان شاء الله، چې د فلاح او کامیابۍ پر لور به حرکت وکړي. زما تو صیه د هغو کسانو لپاره، چې دا کتاب لولي دا ده، چې کتاب د عمل په موخه ولولي، نه د پوهېدو په خاطر؛ د ځوانانو

لپاره توصیه کوم، چې له کتاب سره مینه، یوه ستره نېکبختي او د انسان د سعادت یو ستر رکن دی.

د ښاغلي هدایت الله ذاهب ورور دا کتاب، چې د روژې په مبارکه میاشت کې په پاک او خالص نیت سره لیکل شوی، یو ډېر ښکلی، عظیم او مرطوب کتاب دی. پوهېږم، چې دی هغه څوک دی، چې په دې دنیا کې د الله ﷻ او د هغه د رسولﷺ د رضا په خاطر ژوند کوي او د ځوان نسل د روزنې او هدایت لپاره ډېرې هڅې کوي.

الله تَبَارَک وَتَعَالَی دې د هغه په علم او عمر کې برکت واچوي او خپله رضا دې د هغه په برخه او نصیب وګرځوي.

**پوهنیار سید آصف هاشمي**

**د غزني پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي استاد**

**۳۱ جوزا ۱۳۹۹**

# لړلیک


هدایت چیرې دی؟ ........ ۱

د دین تکذیب؟ ........ ۸

عکس‌الریا؟ ........ ۱۲

د پرمختګ لپاره د پرمختګ فرهنګ ........ ۱۸

تکاثر ........ ۲٤

تکبر د هدایت مانع (خنډ) ........ ۲۹

قرآني تفکر ........ ۳۳

انسان باطن دی ........ ۳۹

د مسلمانانو وضعیت ........ ٤٥

د علم او دین تضاد ........ ٥۳

د خبرو (وینا) قدرت ........ ٦۱

شهرت ........ ٦۷

ارزښتمن‌والی ........ ۷۲

بې وزله او شتمن ........ ۷۸

تکفیر، د جنت او دوزخ ټاکنه ........ ۸٤

په جهنم باندې ایمان ........ ۹۱

په جنت کې د شرابو څښل ........ ۹۷

مذموم او ممدوح سوال ........ ۱۰۲

ایډیالوژیکي جګړه ........ ۱۰۹

انسان او څناور ........ ۱۱٥

قرآني قوم.................................................................................... ۱۲۲

باطن ته رسيدل .............................................................................. ۱۲۷

خوارجي فکر ................................................................................ ۱۳۱

د بدلون خنډونه................................................................................ ۱۳٦

خلیفه کېدل.................................................................................... ۱٤۲

له قران نه زدکړه.............................................................................. ۱۵۰

له قرآن څخه د علم اخذ ...................................................................... ۱۵٦

قران او تاریخ.................................................................................. ۱٦۱

خدای، قران او انسان ....................................................................... ۱٦٦

وروستۍ وینا.................................................................................. ۱۷۲

# سریزه

**سُبْحانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ وَ سَلامٌ عَلَى الْمُرْسَلينَ، خصوصاً على اولها آدم و افضلها محمد، وَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعالَمين.**

روژه یا رمضان هغه فرصت دی، چې له قرآن سره پرې شوې اړیکې ټینګې او یا له قرآن سره خپله کمه شوې اړیکه زیاته کړو. د ۱۴۴۱هـ ق کال د روژې په میاشت کې مې هره ورځ د هغو موضوعاتو اړوند یو لړ مقالې له قرآن نه په الهام اخیستنې، چې د اوسني وخت (مډرن مسلمانانو) لپاره ګټورې وې، لیکلې او د ټولنیزو رسنیو له لارې مې خپرولې. د هغو مقالو ټولګه، چې د روژې په ۳۰ ورځو کې مې لیکلې، په دغه کتاب کې را غونډې او ډېرو خلکو ته د لاس رسي لپاره نشر ته سپارم.

البته له هغو ویناوو او مطالعاتو، چې په دې څو کلونو کې مې درلودلې، اقتباسونه شوي دي؛ خو دا چې دغه کتاب د دوه کسانو تر منځ د مکالمې بڼه لري او د هر عنوان لپاره مې له درې ساعتونو ډېر وخت نه درلود؛ ومې نشو کړای او نه مې غوښتل، چې د کتاب د روان والي په خاطر دغه اقتباسونه د اخځلیکونو په توګه ذکر کړم. د ځینو هغو کسانو، چې ما د دغه کتاب په لیکلو کې د دوی له اثارو استفاده کړې ده، لکه: علي عزت بیګویچ، شیخ حمزه یوسف، ډاکتر اسرار احمد، شیخ عمران حسین او ډېر نور، چې نومونه یې زما له ذهن نه وتلي دي، د هغوی د نوم له نه اخیستلو او د ټولو مطالبو د دقیقو منابعو د نه یادولو په خاطر ترې د بښنې غوښتنه کوم او د دې کار په خاطر له الله نه مغفرت غواړم.

د دغه اثر لیکل له الهي توفیق، د کورنۍ او دوستانو له ملاتړ نه پرته ممکن نه وو او غواړم، چې له ځینو یې مننه وکړم. له مور او پلار نه مې د دې له امله، چې د دنیا تر ټولو غوره مور او پلار دي او زه یې د تحقیق او لیکوالۍ په برخه کې هڅولی یم، یوه ځانګړې مننه کوم. له خپلو وروڼو مې د زړه له تله مننه کوم، چې په ژوندانه کې زما تر څنګ، لکه د یوې قوي او ځواکمنې اتکاء په څېر ولاړ وو. له مېرمنې مې، چې د دغه کتاب د لیکلو او تحقیق پر وخت مې ونشو کولی، د هغې په اړه خپل مسوولیتونه ادا کړم؛ خو په خورا صبر او زغم سره یې تحمل او وزغملم او په تندي یې ګونځې را نه وستلې؛ د زړه له تله ترې مننه کوم. له هغو دیني وروڼو مې، چې له ما څخه یې ملاتړ وکړ، غواړم هغوی ته د «خپلو انډیوالانو» خطاب او مننه ترې وکړم. له پوهنیار سید آصف هاشمي، استاد غلام محمد سعیدي، عید محمد حامد، محمد مصطفی نعیمي، نور الله نورزي، محمد الیاس شهیر، اسامه ځلاند او سید میثم تمار څخه هم د کتاب د سمون او اېډېټ په خاطر د زړه له تله مننه کوم او له الله تَبَارَک وَتَعَالَی څخه ورته د زیات او بې‌شمېره اجر امېد لرم.

هیله لرم، چې دا کتاب د لوستونکو لپاره ګټور تمام شي؛ په دغه کتاب کې هره ښېګڼه الهي رحمت او هره خطا زما خپله ده.

هدایت الله ذاهب

رمضان ۱۴۴۱

## هدایت چیرې دی؟

خپل ښکلی او قیمتي بالا پوش یې له ځانه را وکښه او د کال د لوړ ماډل موټر په څوکۍ یې په ډېر احتیاط سره کېښود، په ډېر تکبر او افتخار سره یې د خپل موټر شترینګ ونیو او د خپل کور پر لور یې په خورا چټکۍ سره حرکت وکړ؛ هر څه یې د ژوندانه اړوند غوره ښکارېدل، د «داروین په یوه کامل حیوان» بدل شوی و؛ یو محضې عقلاني، مؤثر او مرفه. عقل یې لکه د داروین د کامل حیوان په څېر له مادې نه د ګټې اخیستنې پر لور سوق کړی و او د مادي بقا او رفاه لپاره یې کار کاوه، له هر څه یې یوازې مادي ګټه لټوله او په دې کار کې بریالی هم و؛ مالداره، د شهرت خاوند، د جاه او جلال څښتن و.

هر چا دا غوښتل، چې د هغه په څېر شي او د هغه غوندې یو ژوند ولري؛ خو ده په لومړني توقف کې، کله چې د شا په هنداره کې خپلې څیرې ته وکتل، یو ځل بیا یې سره له دې، چې باور یې نه کېده، یا یې نه غوښتل چې ویې مني، د خپلې هغې څېرې تر شا چې د کریم په واسطه یې براق او... کړې وه تر شا، یو ستړی روح احساس کړ. سترګو یې سره له دې، چې د لرې سندونو زلالتیا درلوده؛ خو د هغو کم عمقي ورته ځوروونکې وه. غوښتل یې له خپل هغه نا آرامه ذهن څخه، چې په خوش بویه غوړیو غوړ کړو وېښتانو لاندې ؤ، په نا بریالۍ توګه تېښته وکړي. نه یې شو کولی د خپل هغه مړاوي زړه غږ، چې د سینې په پراخه قفس او په ورزش باندې په ښکلی کړاي شوې اندام کې یې په هر ټوپ سره د خوړو غوښتنه کوله، په پام کې ونه نیسي.

هغه پوهېده، چې نور نشي کولی د خپل روح اواز چوپ کړي، بايد خپله هغه ازادي، چې په خپل لاس جوړو شوو قوانينو او ژوندانه ته يې سپارلی وه بيا ځلې لاس‌ته راوړي؛ خپل روح يې بايد په لاس راوړی وای.

هغه د خپل ځان پر وړاندې يوازې دوه لارې او انتخابونه درلودل. د روح د څربولو په واسطه د ازادۍ تر لاسه کول او يا د يوازې محاسبه کوونکی عقل په څربولو سره اسارت او غلامي (محاسب ذهن)؛ د روحاني او معنوي ژوندانه په انتخاب کې ازادي او يا د «داروين د کامل حيوان والی» په انتخاب سره زندان. بايد له دين او بې دينۍ څخه يې يو غوره کړی وای. پوهېده، چې يا خو د دين په انتخاب سره بايد له خپلو شتو خوند واخلي او يا د بې مانا ژوندانه په غوره کولو سره د خپلو شتو بندي پاتې شي.

خو دې حالت دی له دوو لوريو سخت ځوراوه؛ له يوه پلوه ده بايد له دوو شته انتخابونو څخه دين غوره کولی، له بل پلوه کوم دينداران چې د ده په شاوخوا کې وو، د هغوی ژوند ورته له ريا ډک برېښېده. هغه روحاني کس چې د خلکو سلام ته يې وعليکم نه ويل، رشوت خور کس به رشوت په دې خاطر په تيزۍ سره غوښت، چې د جماعت لمونځ يې قضا نه شي، تجار حاجي صيب به چې د مشتري له مجبوريت نه په استفادې قېمته سودا ورکوله، ملا امام چې خپل موبايل به يې له بدو مستهجنو فيلمونو ډک ؤ، له نامحرمانو سره معاشرت يې جهنم ته د تلو لار اعلانوله، عالم چې خپل ګاونډي ته به يې ازار رساوه او... دين يې ورته غير جذاب ګرځولی ؤ. دغه دوه اړخيز فشار او ورسره ګډو پوښتنو يې ژوند راتنګ کړی ؤ. په داسې يو چا پسې ګرځېده، چې وکولی شي خپلې پوښتنې ورسره شريکې کړي او يا لږ تر لږه د ده د پوښتنو د زغم او

هضمولو ورتيا ولري.

الهی سنت دا ده، چې هدف تل د لټونکي لپاره په داسې ځای کې پيدا کېږي چې تمه يې نه وي. لنډه دا چې د خپلې خوښې او مطلوب کس يې ومونډ؛ مطلوب کس يې هغه بوډا و، چې له ډېر بوډا توبه يې وريځو پر سترګو چتر جوړ کړی و، خو بيا يې هم دانه دانه شمېرلې، څرګنده خبرې کولې او د قرآن نور يې له څيرې څلا کوله. د دې ځوان له دوستانو څخه يو تن، چې د خپل دوست پرېشانه حالت اندېښمن کړی و او هغې تجربې ته په پام سره، چې له دې پير سره يې له وړاندې درلوده، پوهېده چې دا کس کولی شي د دوست د پرېشانۍ د لرې کولو لپاره به يې ګټور تمام شي. ده چې له دې بوډا سره د خپل دوست اړوند خبرې کړې وې، هغه يې د خپل دوست دفتر ته راوست او د اوږدو خبرو اترو لپاره يې وهڅاوه.

دوی دواړه د هغه ځوان د دفتر د انګړ په چمن کې، چې سپينې سپوږمۍ د اسمان پر څنډو خپله زرينه لمن غوړولې وه، په پستو او ښکليو چوکيو سره کېناستل او وروسته له دې، چې د پېژندنې او پېژندګلوۍ رسميات پای ته ورسېدل او ځوان د اسلام د حقانيت او مزاياوو اړوند د سپينږيري له لومړنيو خبرو ډاډمن شو، چې ګواکې کولی شي خپلې پوښتنې له دې بوډا سره شريکې کړي، په پوښتونو پيل وکړ:

**دا څنګه ممکنه ده، چې د حق دين پيروان دې پخپله په ګمراهۍ کې وي؟ دا څنګه کېدای شي، چې په ځينې مواردو کې دې نور خلک د حق دين له پيروانو غوره اخلاقي چلند وکړي؟ که دا دين واقعاً د رحمت او رښتينوالي دين وي، نو بيا يې ولې پيروان د رحمت اهل او د سمې لارې خاوندان نه دي؟**

د قرآن پیر پرته له کومې سکتګۍ او په ډاډمن غږ ځواب ورکړ: ځکه، چې زموږ په عصر کې اکثره مسلمانان او که رښتیا ووایو، زیاتره مډرن مسلمانان درواغ وايي. زه له تا پوښتنه کوم، چې تاسې ته د ژوند په اوږدو کې کوم شي ډېر ارزښت درلودلی دی او کوم شی دې له هر څه زیات غوښتی دی؟

ځوان ځواب ورکړ: پیسې!

د قران پیر وپوښتل: د خپلو غوښتنو د لاسته راوړنو لپاره د څه وکړل؟

ځوان ځواب ورکړ: شپه او ورځ مې ورته پلانونه جوړول. د خپل وخت زیاته برخه مې ورکړې ده، د هغو د لاسته راوړلو لپاره مې ډول ډول لارې چارې جوړې کړې دي، خپل وخت مې ورکړی دی...

د قرآن پیر یې خبرې ور پرې کړې او ویې ویل: نو مډرن مسلمان وګوره! که یوازې د هرې ورځې فرض لمونځ وشمېرو، په شپه او ورځ کې اوولس ځلې د هدایت غوښتنه کوي او له خدای نه غواړي: **اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ**[1] **«موږ پر سمه نېغه لاره هدایت کړه».**

مډرن مسلمان په هره دعا کې د هدایت غوښتنه کوي؛ خو د دوی غوښتنه رېښتینې نه ده؛ ځکه د خپلې دغې غوښتنې لپاره وخت نه ورکوي. تا په خپله د خپلو غوښتنو د لاسته راوړلو لپاره نوې او تازه لارې چارې اختراع کړې دي؛ خو هغوی دې کار ته اړتیا نه لري؛ ځکه د راتلونکې سورة په لومړي ایت کې یې غوښتنه ورته آماده شوې ده: **ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ**[2] **«دا**

---

[1] سوره. الفاتحه، آیه. ۶

[2] سوره. البقره، آیه. ۲

**هغه کتاب دی چې پکې هیڅ شک نشته؛ دا د متقیانو لپاره هدایت دی.»** د مسلمان هغه غوښتنه، چې د هغې لپاره دعا کوي، ورته اماده شوې ده او دې ته اړتیا نه لري، چې د تر لاسه کولو لپاره دې تازه لارې چارې رامنځته کړي. یوازې دومره، چې باید ورشي او هغه را واخلي. ورته ویل شوي دي، چې د خلکو د لارښوونې لپاره همدا کتاب دی او د هدایت لارښونې هم ورته اماده شوې دي: **شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقران هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ**[1] **«رمضان هغه میاشت ده، چې په هغې کې قران نازل کړای شو، چې د انسانانو لپاره له سره تر پایه هدایت دی او داسې څرګندې لارښوونې په کښې دي، چې د سمې لارې ښوونکې او د حق او باطل یو له بله په ډاګه بېلوونکې دي».** مسلمان باید د دې زیار وکاږي، یو ساده ګام اوچت کړي او کوم څه چې غواړي هغه را پورته کړي.

اوس ته ووایه! که چیرې ته د پیسو غوښتونکی وای او یو چا درته ویلي وای، چې د لاس ته راوړلو لپاره یې یوازې همدا کتاب ولوله، څه دې کول؟

ځوان وویل: سل ځلې به مې لوستلی و.

د قران پیر وویل: که د ټنبلي کړې وای نو بیا څه؟

ځوان ځواب ورکړ: نو بیا به زه په خپله غوښتنه کې رښتینی نه وم.

وې ویل: ریښتیا ده! موږ رښتیني نه یو. موږ درواغ وایو، چې د هدایت غوښتونکي یو. که چیرې په رښتیا موږ د هدایت غوښتونکي وای، کله چې

---

[1] سوره. البقره، آیه. ۱۸۵

هدايت موږ ته را ښودل کېده، نو په ډېر شور او شوق مو هغه را اخيست؛ هدايت موږ ته د رب له خوا ښکاره شوې ده؛ خو موږ هغه نه را اخلو.

که چېرې يو مډرن مسلمان په شپه ورځ کې لږ تر لږه د قرآن يوه رکوع په تدبر او له ژباړې سره تلاوت کړي، هدايت تر لاسه کوي، ان شاء الله. يوه رکوع له لس دقيقو څخه زيات د هغه وخت نه نيسي، کله چې موږ د خپلې يوې وړې غوښتنې لپاره په کيلو مترونو مزل کوو؛ خو د خپلې سترې غوښتنې لپاره هغه مصحف، چې په څو پوښونو کې د کور په يوه ګوټ کې پروت دی، نه راخلاصوو؛ نو په خپله غوښتنه کې صادق نه يو، درواغ وايو، چې ګواکې د هدايت غوښتنه لرو. د هدايت کچه د قرآن له اړيکه سره نېغ په نېغه متناسبه ده، الا ماشاء الله.

اوس ته ووايه، چې څرنګه موږ په سمه لار شو، په داسې حال کې، چې د هغه رښتيني غوښتونکي نه يو؟ که چيرې موږ په رښتيا سره هدايت غواړو، بايد له قرآن سره همېشنۍ اړيکه او أنس ولرو. په ځانګړې توګه زموږ په عصر کې، چې د مډرنو مسلمانانو روح او روان د فِروـ اتومی (Sub-Atomic) په کچه د ډول ډول الکترو مقناطيسي شعاعګانو له لوري تر بمبارۍ لاندې دی او له هغه يې له بره عالم سره د ده متواضعانه اړيکه اخيستې ده، يوازې د قرآن د تلاوت په اثر د قرآن په نوراني وړانګو باندې د متجلي شوو شعاګانو په وسيله کولی شو، ځان ته د «داروين له پوره حيوان کېدو» څخه نجات ورکړو.

يوازې په سجدو سره کولی شو، هغه امواج چې موږ يې د فروـ اتمی په کچه (موبايل، کمپيوټر، وای فای، مضره برق Dirty Electricity او...) پر وړاندې قرار لرو، له خپلو اندامونو ځمکې ته ورکړو او يوازې د قرآن په تلاوت سره

کولی شو، نوراني څپې د هغوی پر ځای، ځای پر ځای کړو، تر څو بالاخره د قرآن په واسطه له بره عالم سره د اتصال وړ وګرځو او یو انساني ژوند ولرو.

## د دين تکذيب؟

ځوان ژور فکر کې ډوب شو، په داسې حال کې، چې ټول وجود يې غوړ غوړ ؤ، په زياتې پلټنې سره يې د شنو چايو له هغې پيالې، چې سپوږمۍ ته يې رنګ لا زيات زړه را ښکوونکی او خوندور شوی ؤ، يو غوړپ وکړ او په ډېر رغبت او لېوالتيا سره يې وپوښتل؛ غواړم په دې اړه زيات وپوهېږم.

**دا څنګه شونې ده، چې يو مسلمان دې هم لمونځ وکړي او هم دې له هدايت څخه لرې وي؟ داسې مسلمان څنګه درواغجن بلل کېدای شي؟**

د قرآن پير يو سوړ اسوېلی وکړ او ويې ويل: تا نه دي اورېدلي، چې الله تَبَارَک وَتَعَالَی فرمايي: **أَرَءَيْتَ الَّذِی يُکَذِّبُ بِالدِّينِ * فَذَالِکَ الَّذِی يَدُعُّ الْيَتِيمَ * وَ لَا يَحُضُّ عَلیَ طَعَامِ الْمِسْكِينِ * فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّين**[1] **«ايا تا هغه څوك وليدی، چې د اخرت جزا او سزا ته دروغ وايي؟ نو دا هماغه څوك دی، چې يتيم په سپکاوي سره شړي او د مسکين د ډوډۍ په ورکړه هڅونه نه کوي. بيا د هغو لمونځ کوونکو لپاره تباهي ده».**

د «فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ» ايت د فاء په توري پيل کېږي، د ډېری مفسرينو په اند، د سورة له مخکنيو او وروستنيو اياتو سره يې د تړاو ښکارندوی ده. هغه مسلمانان، چې کرنې يې دوی د دين د تکذيب تر پولو پورې رسوي.

---

[1] ۴- سوره. الماعون، آيات. ۱-۴

د دين دغه تکذيب کوونکي دين داران، د شيخ عبدالقادر جيلاني په وينا هغه کسان دي، چې حق يې پر ژبه دی، خو دننه زړونه يې له حق نه خالي دي. د دغو خلکو په اند دين يوازې يو لړ ديني هغه مراسم دي، چې ظاهراً يې څرګند وي او په زړونو کې نه دي باطني شوي. **قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا وَلَٰكِنْ قُولُوا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ**[1] **«دغه باندهچيان (صحرايي عرب) وايي، چې موږ ايمان راوړ. دوی ته ووايه: تاسې ايمان نه دی راوړی، بلکي داسې ووایاست، چې موږ اطاعت کوونکي شوو. ايمان لا تر اوسه ستاسې په زړونو کې داخل شوی نه دئ».**

الله تَبَارَک وَتَعَالَی د هغو لمونځ کوونکو ځانګړني، چې د دين تکذيبوونکي دي بيانوي: دا هماغه کسان دي، چې يتميان په سختۍ سره شړي او [نور] مسکينانو ته په طعام او خوړو ورکولو نه هڅوي.

دا انسان سره له دې، چې پر خدای د ايمان ادعا کوي، سره له دې، چې د صدقې ثواب او حکمتونه بيانوي او د انفاق له حکمتونو بحث کوي؛ خو له قهر او خشم نه ډک دی، يتيم او بيچاره په بد اخلاقۍ او توهين له ځانه شړي. کوم حق، چې پر ژبه لري، هغه يې په زړه کې نه دی دننه کړی او په زړه کې يې د حق ځای په بخل سره ډک کړی دی. بناءً نه په خپله مسکين ته د څه ورکولو هڅه کوي او نه نورو ته په هغه ترغيب کوي؛ ځکه خپل دننی بخل په نورو کې همويني. دا ډول نا شکره انسانان له دروېزګرو سره هم ښه چلند نه

---

[1] سوره. الحجرات، آيه. ۱۴

کوي او دغه الهي فرمان په پام کې نه نیسی: **وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ**[۱] **«او سوال کونکی له ځانه مه رټه».** دی نه پوهېږي، چې سوال کوونکي د مرستې په غوښتلو سره د ده په حق کې یو ستر احسان کوي، ده ته ارزښت ورکوي، هغه د خدایۍ تر کچې پورې لوړوي او خپل غرور تر پښو لاندې کوي. سره له دې، له حق نه تش زړه یې دی دې ته اړ باسي، چې له یوه داسې کس سره سپک چلند وکړي او د خپل خدای نا شکره وي.

**فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ * الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ**[۲] **«نو افسوس د وي پر هغو لمونځ کوونکو، چې له خپل لمانځه غافله دي».** هو! دغه کسان لمونځ ادا کوي، خو لمونځ یې له یوې ظاهري بڼې بل څه نه دی. لمونځ یې له بره روحاني عالَم سره د وصلت او تړاو څه له ځانه سره نه لري. لمونځ یې له روحاني دنیا تش دی. که څه هم د دوی د لمانځه ظاهر د قران او سنت سره برابر دی. ټولې هڅې یې د پیچلی الهیات مفاهیمو پر تشو بحثونو ضایع کېږي. اسلامي ساده او په زړه پورې عقیده په درې اویا برخو وېشي او بیا هغه هر څوک چې وغواړي، مشرک یې بولي او یوې برخې ته یې منسوبوي او د زړه داخلي مسایلو ته پام نه کوي. بناءً په هغه لمانځه او نورو عبادتو کې، چې له خشوع نه تش دي، ظاهري پالنه یې تقوا نه ور دېروي او ژوندون یې خدای محوره نه ګرځوي. د رفع الیدین پر سر د یو بل د وینو تږي وي، خو له خشوع نه تش لمانځه ته، چې د لمانځه روح ګڼل کېږي، کوم ارزښت نه ورکوي. آخر

---

[۱] سوره. الضحی، آیه. ۱۰

[۲] سوره. الماعون، آیات ۴-۵

خشوع او روحاني وصلت د نورو لپاره د ليد وړ نه دی. خدای محوره ژوند په ظاهري عباداتو کې خلاصه کوي او له ظاهري عباداتو نه بهر په ژوندانه کې د خدای عدم حضور، د دې لامل کېږي، چې خلکو ته له خدای نه ډېر ارزښت قائل شي. بناءً ريا کارۍ ته مخه کوي؛ **الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ**[۱] **«هغه کسان، چې [دوی په لمانځه کې هم] رياکاري کوي».**

پرته له خدای نه (حقيقي) اخلاق او خدای محوره ژوند ناشونی دی، بناءً د دا رنګه خلکو له مانا څخه تش او خالي لمونځ دوی په داسې اخلاقو نه سينګاروي، چې د هغه په خاطر د نورو مرستې ته را ووځي او هغوی ته داسې څه برابر کړي، چې له ځان نه يې هېڅ شی نه کمېږي. **وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ**[۲] **«او (خلکو ته) د عادي اړتيا وړ شيانو له ورکړې څخه ډډه کوي».** يو ګاونډی دې ته اړتيا لري، تر څو چې خپل ناروغ يې روغتون ته ورسوي، خو دوی يې د خپل موټر په واسطه روغتون ته د ناروغ د رسولو لپاه بهانه کوي. په لاره او کوڅه کې خلکو ته په ازار رسولو کې له نورو خلکو نه وړاندې‌والی کوي. له سړک نه د تېرېدو پر مهال، د يوه ړانده لاس نيوی نه کوي، تر څو له هغه سره مرسته وکړي. ان له نورو خلکو موسکا هم منع کوي. لمونځ يې دومره تش او خالي دی، چې د دې لامل کېږي، چې له نورو ښه او نېک چلند هم منع کړي. نور خلک له دوی سره د دين‌دارۍ له امله نه سکون مومي او نه باور. شتون يې د مهربانۍ يا ښه والي سبب نه دی.

---

۱ سوره. الماعون، آيه. ۶

۲ سوره. الماعون، آيه. ۷

## عکس‌الریا؟

د قرآن پیر د ځوان په زړه کې داسې یو اور بل کړی ؤ، چې یوازې هغه وخت کېدای شوه، د ده تجسس او کنجکاوي خاموشه شي، چې دغه اور په رڼا بدل شي. هغه په ډېرې بې صبرۍ سره د بوډا خولې ته خپلې سترګې ګنډلې وې او په تمه و، تر څو خپل بل سوال وپوښتي:

**تاسو له ریا وویل، خو نن مسله داسې نه ده. نن چې ډېری ملګري زه پېژنم، هغوی د غیر دیني احساساتو په درلودلو تظاهر کوي (ځان په غیر دیني ښه ښيي). څنګه یو مسلمان یې له خپلې عقیدې نه ډارېږي؟**

د قرآن پیر په داسې یوه لحن باندې خپل ځواب پیل کړ، ښکارېده چې دې موضوع ته ډېر اهمیت قائل دی. په یوه قاطع لحن سره، خو ډېر آرام او په زړه را ښکونکي حالت یې خبرې داسې پیل کړې: داسې ښکاري، چې زموږ په زمانه کې ریاکاري سرچپه شوې او «عکس‌الریا» ورته ویلای شو، یعنې داسې ریا چې دین پټوي. په پخوا کې ریاکار هغه څوک و، چې دیني اعمال به یې پرته له دې، چې پر هغو دې باور ولري، د خلکو د پام را اړولو لپاره تر سره کول، خو نن که څه هم پخواني ریاکاران شته، خو ډېری خلک نه غواړي دیني باورونه یې په عمل کې را څرګند او ښکاره شي.

ډېری خلک د خپلو دیني باورونو په پټولو پسې دي؛ ځکه په مادیت پرسته او سکولر زمانې کې دیني باورونه غریب ښکاري. ټولنیزه فضا ډېره مهمه ده؛

په تېره زمانه کې ټولنیزه فضا په ټولو بشري ټولنو کې یوه دیني فضا وه، نو پر دې اساس ملحدانو به ځانونه په ریاکارانه توګه دیني ښودل، خو د بشر د تاریخ په اوږدو کې، د لومړي ځل لپاره داسې یوه عصر ته رسیدلي دي، چې ځینې کسان په ریاکارانه توګه خپل دیني باورونه پټوي او ځانونه له مروجې عیارې بېخدایۍ فضا سره څرګند وي. پخوانۍ ریا او یا اوسنۍ عکس الریا دواړه یوه مانا ورکوي. د رایجې یا متعارفې نا لیدونکې رسۍ په واسطه تړلی او قیدوالی، د ریاکارۍ دواړه ډولونه یې منافقت دی او دواړه ډوله ریاکاري د عدم ازادۍ ښکارندویه ده. **يَسْتَخْفُونَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ اللَّهِ**[1] **«دوی له خلقو نه ډېر پټوي او له الله نه یې نه پټوي».**

په داسې حال کې، چې ټولنیزه فضا یو عمده رول لوبوي، خو په حقیقت کې دغه ریاکاري په یوه دنني فردي جګړه کې ریښه لري. د عقل او زړه ترمنځ جګړه، د روح او نفس ترمنځ جګړه او د مینې او محاسب ذهن ترمنځ جګړه، په بېلابېلو کلمو سره مترادف ماناګانې.

محاسب ذهن، نفس او منفعتطلبه عقل، تل له ټولنې سره د یو رنګوالی او په ټولنه کې په رایج فکر پسې د تللو توصیه کوي او تل د عقل او نفس له اسارت نه منندویي کوي. په داسې حال کې، چې یو متعالی روح له موجوداتو سره د انسان د یوې ممیزې په توګه او زړه د مینې او رڼا د مقام په صفت، تل په ازادۍ او منحصر په فردوالي پسې دي. لومړنی یې د هغو اعمالو د را څرګندېدو لامل کېږي، چې په هغو کې مادي ګټې نغښتې وي او دویم یې له

[1] سوره. النساء، آیه. ۱۰۸

مادياتو ور هاخوا تجلي ده، چې په هغه کې د مينې او محبت له مخې قرباني، د شجاعت له مخې ايثار او فداکاري، شاعرانه او نازک نوښتونه او خلاقيت، داسې تواضع او عاجزي، چې په هغه کې ريا نه وي او منشأ يې قلبي اخلاق وي شتون لرى. محاسب ذهن او نفس، زندان داسې سينګاروي لکه جنت، او خلکو ته يې د نعمت په توګه وړاندې کوي. زړه او روح د ټولو محدودوونکو تمبو په ماتولو سره په ازادۍ پسې دی.

اسلام سره له دې، چې محاسب ذهن کاملاً نه ناهيلی کوي؛ خو د روح په روزنې سره آزادي په تحفه کې راوړي. روح او عقل دواړه په تعادل کې راولي. کوم کسان، چې دين يوازې په عالَم روح پورې تړلی ګڼي، په مادي نړۍ کې کم راځي او د دين دارانو په دنيا کې د فقر او ضعف د توجيه او تشويق لامل کېږي او کوم کسان، چې له دين نه په بشپړه توګه محاسبوي پيروي کوي، د دين له شاعرانه خوندونو، قهرمانانه ارزښتونو او آزادۍ راوړونکو تجربو بې برخې پاتې کېږي او کله چې د هغوی محاسبوي ګټې په خطر کې ولوېږي، بيا نو د قرباني ورکولو او د مخالفو څپو پر وړاندې د درېدو جرأت نه لري. عکس الريا، چې يادونه مو يې وکړه، په دويمه ډله خلکو کې زياته ليدل کېږي. کله چې له دين نه په پيروۍ له داسې لقبونو لکه ملا، بنسټ پاله، افراطي او... سره مخامخ شي، نو د خپلو باورونو د پټولو هڅه کوي؛ ځکه چې د خلکو په منځ کې ومنل شي او د خپلو باورونو له څرګندولو څخه وېرېږي.

له بل پلوه هغو کسانو، چې خپل باطن يې د قران مطابق جوړ کړی دی او د کوثر له اوبو نه په ګټه اخيستنې سره يې د زندان تمبې ماتې کړې دي، هغوی آزادي او سر لوړي ترلاسه کړې او د هېڅ ملامت‌کوونکي له ملامتيا نه

ډارېږي. **لَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ**[۱] **«د هېڅ ملامت‌کوونکي له ملامتيا نه وېرېږي»**. (کوثر) او ورسره آزادي ته په احترام او په ټولنه کې د رائج فکر د محکوميت نه په نه وېرېدو سره، خپل ديني شعاير تر سره کوي او له روحي خوندونو يې خوند اخلي او د محاسب ذهن د غريزې په قرباني کولو سره، داسې چې ځان په ټولنه کې د رائج فکر همرنګه کړی او د دغه باطله خيال په مقابل کې، چې ديني او قراني ژوند کول د بې نوم او نښانې (ګمنامۍ) لامل کېږي، د هر باطل پر وړاندې درېږي؛ ځکه پوهېږي چې نوم، نښان او ژوندون يوازې په ازادۍ کې معنا لري. **إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ * فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ * إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ**[۲] **«[اې پېغمبره ﷺ!] بېشکه موږ تا ته کوثر درکړی دی. نو ته د خپل هماغه رب لپاره لمونځ ادا کړه او قرباني وکړه. ستا هماغه دُښمن په خپله بې ستې دی (د هر خير ځخه پرې کړل شوی دی)»**.

ځينو مفسرينو کوثر په خير کثير (زيات خير) سره مانا کړی دی او قرآن بيا خير کثير د حکمت معادل ګڼلی. **وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا**[۳] **«چا ته يې چې خوښه شي، حکمت ورکوي او چا ته چې حکمت ورکړ شي، هغه ته په حقيقت کې ستر دولت (خير کثير) ورکړ شو»**. حکمت نه فلسفه ده او نه رايج علم او پوهه؛ حکمت هغه حقيقت دی، چې له روح نه متجلي کېږي. حکمت آزادي وربښي؛ ځکه چې روح د آزادۍ اصلي سرچينه ده.

---

[۱] سوره. المائده، آيه. ۵۴

[۲] سوره. الکوثر، آيات ۱-۳

[۳] سوره. البقره، آيه. ۲۶۹

پوهه له کمیت سره سروکار لري، په داسې حال کې، چې حکمت له کیفیت سره پوهه د ذهن د محاسبو محصول دی، خو حکمت د روح له معنوي تجربو نه زېږېږي. علم د ارقامو او تجربو پر اساس، یو تقریبي اټکل کوي او حکمت د معنوي تجربیاتو پر اساس حقایقو ته رسېږي. پوهه مادي منفعت سنجوي او حکمت له مادي لوړ لذاتو ته د قربانۍ او ځان تېرېدنې له لارې رسېږي. آزادي او روح دواړه روحي ریښه لري؛ ځکه دواړه کیفي دي او کیفیت یوازې په روح سره تجربه کېږي.

کوم کسان چې له (کوثر) نه برخمن شوي، حقیقي او رښتینې آزادۍ ته رسېدلي دي او همدا حقیقي آزادي ده؛ که چېرې دوی د ټولنې یواځینی فرد هم وي، نه له روحي تجربو تېرېږي، نه له دیني عملونو لاس اخلي او د دې آزادۍ د ساتنې لپاره دې ته حاضر دي، چې خپل نوم خپلې مادي ګټې او آن خپل ژوند قربان کړي. **فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ. «نو ته د خپل هماغه رب لپاره لمونځ ادا کړه او قرباني وکړه».**

که چېرې دغو آزادو خلکو ته وویل شي، چې د لمانځه په ادا کولو او د قربانۍ په کولو سره د عقل خلاف ښکاري، په ډېر ویاړ سره وایي، چې د تاسې هوښیارانو په دنیا کې موږ کم عقله یو. که ورته وویل شي، چې افراطي یاست، په لوړه او هسکه غاړه وایي، د تاسې له نرۍ سره افراطاً مخالف یو. که ورته وواییې، دنیا مریخ ته رسېدلې ده او تاسې لا هم په دعا او لمانځه پسې یاست، پرته له دې چې ښښنه وغواړي او اوربه خالي کړي، په قاطعانه توګه وایي، چې موږ په ځمکه کې د یوې ځمکنۍ ټوټې له درلودو نه بغیر خوښ او آزاد یو او که چېرې مریخ ته تلل زموږ د شاعرانه قربانیو، ازادیو او اتلولیو د له منځه وړلو

په مانا سره وي، هېڅکله به ور نه شو. مريخ ته تلل هغه مهال مناسب ګڼو، چې انسان په انساني ځمکه کې ژوند وکړي، ازادي ولري او په يوه بې روحه توليدي ماشين باندې بدل نه شي. او که ورته وواېې، چې زوړ فکره او وروسته پاتې ياست، پرته له دې چې له خپل بې نوم او نښان‌والي دې وډار شي او پرته له دې چې له بې هويت‌والي ووېرېږي، وايي کوم خلک، چې انساني شخصيت يوه ماشين ته را ټيټ وي او کوم کسان چې له مادياتو پورته هدف نه‌لري، د تاريخ په پاڼو کې بې نوم او نښانه او بد نام پاتې وي. **إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ. «ستا هماغه دُښمن په خپله بې ستې دی (د هر خير څخه پرې کړل شوی دی)».**

## د پرمختګ لپاره د پرمختګ فرهنګ

ځوان چې له دې خبرو خفه شوی و، په اعتراضیه غږ یې وویل: **داسې معلومیږي، چې تاسو ښاغلي هوډ کړی دی، چې پر علم او عالمانو (پوهانو) برید او تېری وکړې او د پرمختګ پر ضد خبرې وکړي.**

د قران پیر پرته له دې، چې له دې اعتراض خواشینی شي او یا پرېږدي، چې غوسه پرې غالبه شي په آرام غږ او سړه سینه یې ځواب ورکړ:

دا اعتراض له هغو کسانو، چې د «پرمختګ لپاره د پرمختګ» په فرهنګ کې را لوی شوي دي، د وړاندوینې وړ دي. پرمختګ په حقیقت کې ښه او نېک کار دی؛ خو مهمه دا ده، چې د دې پرمختګ حاصل څه وي. که چېرې دا پرمختګ د انساني اړتیاوو د پوره کولو طبیعت او د ژوندانه سیستم لپاره وي، په حقیقت کې یو ډول عبادت دی؛ خو که چېرې پرمختګ یوازې د پرمختګ لپاره وي، حاصل یې بیا اتومي او بیولوژیکي وسلې، ګلخانه‌یي ګازونه او تباهي ده.

ګوره! د سرپناه درلودل یوه اړتیا ده او د هغه لپاره کار کول هم یو انساني نېک عمل دی؛ خو د ښو قصرونو درلودل، هغه هم د پرمختګ د ښودلو په نیت او ټول وخت خپلې، خوشحالي او انرژي پرې لګول، په داسې حال کې، چې له ټولو یې ګټه نه شي اخیستلی، یو غیر اړین کار دی او د پرمختګ لپاره د پرمختګ فرهنګ بیا هغه ښکلی معرفي کوي. او یا د اتصالاتو په پرمختګ سره د بشري ټولنې ډېری اړتیاوې پوره کېږي او 3G اتصالاتي سیستم زموږ

ډېرې اړتیاوې را پوره کړې دي، نو په ورته وخت کې جانبي عوارض هم لري. انسانانو او مرغانو ته یې ډېرې ستونزې را ولاړې کړې دي او د پوهانو د راپورونو پر بنسټ د 5G سیستم عوارض بیا نه جبرانېدونکي دي. اوس که پرمختګ د اړتیا لپاره په پام کې ونیول شي، تر څو چې د دغو جانبي عوارضو د مخنیوي لپاره لارې چارې پیدا نه شي، باید د دغو سیستمونو د نصبولو مخه ونیول شي؛ خو د پرمختګ لپاره د پرمختګ فرهنګ بیا وایي، چې باید نصب شي.

زه د اړتیا لپاره د پرمختګ مخالف نه یم؛ خو که چېرې بیا پرمختګ د جانبي عوارضو او اخلاقي مسایلو ته په نه پام لرنې سره عرضه شي، نو د هغه لنډمهاله ګټه به اوږدمهاله بحران رامنځته کړي. زه د عالم او دانشمند مخالف نه یم؛ خو که چېرې دغه دانشمند د اخلاقي آزادۍ او خپلواک فکر خاوند نه وي، علم او پوهه یې د محاسب ذهن په اسارت او بند کې وي، داسې محصولات به ولري، که څه هم په لنډ مهاله کې به ښه وځلېږي، خو په اوږد مهاله کې به تباکوونکې وي.

الله تَبَارَک وَتَعَالَی فرمایي: **وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ * وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ**[1] **«په انسانانو کې څوک داسې دي، چې د هغه خبرې د دنیا په ژوند کې تاته ډېرې ښې ښکاري او هغه پر خپلې نېک‌نیتۍ په وار وار الله شاهد نیسي؛ خو په حقیقت کې هغه د حق ډېر سخت**

---

[1] سوره. البقره، آیات ۲۰۴-۲۰۵

**دښمن وي. او کله چې هغه ته قدرت په لاس ورځي (یا کله چې بېرته وګرځي)، نو په ځمکه کې د هغه ټولې هلې ځلې د دې لپاره وي، چې فساد خپور کړي، کښتونه لوټ کړي او انساني نسل له منځه یوسي».**

هغه پوهه، چې د محاسب ذهن په اسارت کې وي او هغه محاسب ذهن، چې بیا تل په دنیوي ګټو پسې وي او تل د نورو د منلو په لالچ کې وي، هڅه کوي، چې خپلې شخصي ګټې د اجتماعي خیر په توګه وښیي. د هغه خبرې داسې بشردوستانه ښکارې، چې انسان یې خبرو ته حیرانېږي او هغه بیا د سترو شخصیتونو له بشر دوستۍ څخه هم زیات انسان دوسته ګڼي؛ خو په حقیقت کې د انسانیت دښمن دی؛ ځکه خپله پوهه د فساد لپاره کاروي. نو د پرمختګ لپاره د پرمختګ فرهنګ د همدغو دانشمندانو په واسطه را منځته شوی دی. دغه دانشمندان بیا د دې آزادي نه لري، چې د بشر دوستۍ رښتینی غږ د خپل روح له تله واوري او پر هغه عمل وکړي؛ بناءً په مکارانه خبرو ځان بشر دوست ښیي.

زه د علم او ساینس دښمن نه یم؛ ځکه چې علم او ساینس په اصل کې بې طرفه دی. علم یې یوازې کشف کوي. ساینس بیولوژیکي وسلې کشف کوي؛ خو هېڅکله دا نه وایي، چې د هغو جوړول سم او یا ناسم کار دی! په دې برخه کې د ساینس د ځواب نه تمه درلودل له ساینس د عدم درک ښکارندویي ده. دا د روح او معنوي آزادۍ غږ دی، چې دا رنګه پوښتنو ته باید ځواب ووایي. نن د پرمختګ لپاره د پرمختګ فرهنګ روح نفی کوي، له همدې امله د هغه غږ نه اوري او هر هغه څه چې نفس وغواړي او نفس چاغ کړي، هغه پرمختګ بولي. د پرمختګ لپاره د پرمختګ فرهنګ د انسان ګرایۍ (پالنې)

ادعا کوي؛ خو که څه هم د دې فرهنګ ویناګانې او لیکنې سرې په حیرانتیا کې واچوي، غیر انساني دي؛ ځکه هر هغه لیکنه او وینا، چې روح نفی کړي، انسان په هغه کې انسان نه پاتې کېږي او د یوه غیر انسان شي ته تقلیل پیدا کوي. د انسان تقلیل یو غیر انساني کار دی. د روح په نفی سره، د انسان آزادي نفی کېږي او انسان پرته له آزادۍ، انسان نه پاتې کېږي. د روح په نفی سره، د انسان شاعرانه، او خلاقانه، او هنري ځانګړتیاوې نفی کېږي او انسان پرته له دې انسان نه پاتې کېږي. د روح په نفی کولو سره د انسان د اخلاقو، اتلولۍ او قربانۍ وړ کړنې نفی کېږي او له اخلاقو، قربانۍ او اتلولۍ پرته انسان، انسان نه پاتې کېږي. اوس نو هغه فرهنګ، چې له انسان څخه د انسانیت جامې وباسي، ایا دا فرهنګ د انسانیت ادعا کولی شي؟

پرېږده، چې په دې اړه یو دوه بېلګې درته وړاندې کړم. جابر ابن حیان د خپل وخت له سترو ساینس‌پوهانو څخه یو و. ده د علم په پرمختګ کې داسې یوه برخه درلوده، چې نن د کیمیا د علم پلار ګڼل کېږي. عباسي خلیفه له هغه وغوښتل، چې داسې یو زهر جوړ کړي، چې انسان ډېر ژر له منځه یوسي او د علاج وړ نه وي. جابر ابن حیان په آزادۍ سره دا وړاندیز رد کړ او ویې ویل: هېڅکله به د بشر د قتل داسې یوه وسیله جوړه نه کړي. هغه یو آزاد روح درلود، چې د هغه ژور غبر ورته د اورېدلو وړ ؤ. بناءً په آزادۍ سره یې دا ډول زهر جوړ نه کړل. خو د پرمختګ لپاره د پرمختګ په فرهنګ کې، د داسې زهرو جوړول پرمختګ ګڼل کېږي او نن ورځ لیدل کېږي، چې څومره پوهانو دا کار کړی دی. زه دا نه وایم، چې نن سبا داسې ساینس پوهان نه شته؛ خو نني فرهنګ د دا ډول ساینس پوهانو قدر نه کوي.

لکه څنګه چې کولی شو، یو با اخلاقه ملحد ومومو، خو اخلاق محوره الحاد نه. او همدا ډول له اخلاقو لرې او تش په نوم مسلمان موندلی شو او اسلام له اخلاقو تش نه؛ د پرمختګ لپاره د پرمختګ په فرهنګ کې هم کولی شو، یو آزاد ساینس پوه ومومو، خو دا فرهنګ د آزادۍ لپاره هڅوونکی او درناوی کوونکی نه شي موندلی. په بل مثال کې د پرمختګ لپاره د پرمختګ په فرهنګ کې په ښه توګه کولی شو، چې د ساینس پوهانو عدم اخلاق او عدم آزاد والی په ښه توګه وګورو. لکه څنګه، چې پورته ذکر شو، الله تَبَارَک وَتَعَالَی فرمایي: او کله چې (کوم) ځواک او قدرت وموموي، هڅه کوي، چې په ځمکه کې فساد او تباهي وکړي او زراعت او نسل له منځه یوسي.

په نن سبا زراعت کې تخمونه اصلاح شوي دي، د نباتاتو او حیواناتو ژنتیکي بدلون او (Genetically Modified Foods) نړیوال شوی دی، په داسې حال کې، چې زیان یې د ورځې په څېر روښانه دی. نسل له منځه وړي؛ ځکه چې له دغو ژوندیو موجوداتو څخه د نسل وړتیا اخلي او د خوړو اداره خلک د ګوتو په شمار یو څو ملتي شرکت ته سپاري. په زرګونو ساینس پوهان د خپلو شخصي ګټو لپاره د هغه په توسعه کې کار کوي او له هغه داسې دفاع کوي، چې د دوی بشر دوستانه خبرې، د ذکر شویو ایاتو مطابق انسان په حیرانتیا کې اچوي. **وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ «او زراعت او نسل له منځه وړي».**

له دې هم له اخلاقو لرې کړنه، په انسانانو کې د جنسیت بدلول دي. د جنسیت بدلون یو ناشونی عمل دی؛ ځکه چې یوازې ظاهر یې بدلون کوي، خو په انسان کې پروت فطرت، چې له هغه سره پیدا شوی دی، هېڅکله به

بدلون ونه کړي او یوه ښځه به باطناً په نارینه او یو نارینه به باطناً په ښځې باندې بدل نه شي. له همدې امله دی، چې د ځان وژنې کچه په هغو انسانانو کې، چې خپل جنسیت یې بدل کړی لوړه ده او ډېری هغه کسان، چې خپل جنسیت ته یې بدلون ورکړی، له خپل دې کار پښېمانه دي او ان تر دې، چې بېرته خپل اصلي جنسیت ته د راګرځېدو لپاره یې عملیات او جراحی کړې دي. د پرمختګ لپاره د پرمختګ فرهنګ دا کار یو مثبت پرمختګ بللی او له هغه دفاع کوي، آن تر دې، چې داسې ساینس پوهان هم شته، چې د هغه په دفاع کې یې په زرګونو مقالې او کتابونه لیکلي دي او هغه یې یو انساني کار او د بشر په ګټه بللی دی. **سَعَى فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا. «هڅه کوي، چې په ځمکه کې فساد او تباهي را منځته کړي».**

زه له داسې ساینس پوهانو څخه کرکه لرم، دا مهمه نه ده، چې څومره لوړ نوم او نښان لري. زه له هغه چا، چې اتومي وسلې جوړوي، بیولوژیکي او کیمیاوي وسلې جوړوي او د ژوندیو موجوداتو په ژن کې بدلون راولي او... متنفر یم او زما په اند دغه ډول خلک د شیطان هغه غولېدلي دوستان دي، چې فکر کوي، په یوه سم مسیر کې روان دي. **إِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ مُهْتَدُونَ**[1] **«دوی د خدای پر ځای شیطانان [خپل] دوستان نیولي دي او ګومان کوي، چې هدایت شوي دي».**

---

[1] سوره. الأعراف، آیه. ۳۰

# تکاثر

ځوان، چې په خبرو اترو کې ډوب و، د وخت تېرېدل يې هېر کړي ؤ؛ پرته له دې، چې متوجه شي، شپه په چټکتيا سره په تېرېدو وه، خپل بل سوال يې داسې مطرح کړ:

**زه يو شتمن او بډايه ځوان يم، سره له دې، چې زه له مادي پلوه خپلې ټولې لومړنۍ اړتياوې پوره کولی شم، خو بيا هم په باطن کې د فقر احساس کوم، له ژوندانه سره د همغږۍ احساس نه کوم او ډېری وخت د غم يو عجيبه احساس ما زوروی، ايا فکر کوې، چې شتمني د غم او فکر لامل کېږي او د مال او مقام کثرت د بدبختۍ سبب دي؟**

برعکس! د قرآن پير په پوره قاطعيت سره ځواب ورکړ: الله تَبَارَک وَتَعَالَی خپل بندګان فقر ته نه هڅوي او دا يې په دين کې ښکاره ده؛ په حقيقت کې رسول الله ﷺ غوره بندګان هغه څوک بللي دي چې نورو ته يې خير رسېږي، بډايه او مالداره کس نورو ته ډېر مادي خير رسولی شي، خو مهمه دا ده، چې مال او ثروت زموږ په زړه کې کوم ځای او مقام لري. که چېرې ثروت زموږ هرڅه نه وي او که ثروت موږ فقيران نه کړي... ثروت خير دی.

ځوان د قرآن د پير خبرې ور پرې کړې او ويې ويل: فقر؟ ثروت څنګه د فقر لامل کېږي؟

د قرآن پير يوه ترخه موسکا وکړه او ادامه يې ورکړه: د فقر ډېر ډولونه لرو، خو دلته يې دوه ډوله بيانوم، د اړتيا او د شرم فقر. د اړتيا فقر هغه دی، چې انسان ونه شي کولی، خپلې لومړنۍ اړتياوې پوره کړي؛ لکه خواړه، پوښاک او سرپناه. د شرم فقر هغه دی، چې يو څوک له دې څخه خواشينی شي، چې ولې نور ډېر څه لري، او غواړي له ټولو پورته وي. که چېرې هغه داسې يو موبايل لري، چې د ده اړتياوې پوره کوي، خو دی تر هغې نه راضي کېږي، تر څو د خپل دوست او ملګري ماډل موبايل ونه لري؛ که سرپنا لري، خو دی نه راضي کېږي، ترڅو چې د خپل تجاري شريک په څېر فرنيچر او... ونه لري؛ که چيرې موټر ولري پر هغه راضي نه دی، تر دې، چې شخصي الوتکه ځانته ونه لري؛ که ونه شي کولی، چې له نورو سره ځان برابر کړي، له ځان او له خپلو لاسته راوړنو د شرم احساس کوي او تل ځان د نورو ځای ته په نه رسېدو ملامتوي؛ اړتياوې يې پای نه موندونکې ګرځي او ټول شته يې بې مانا کېږي. له خپلو شتو يې قدرداني نه شي کولی او د نعمتونو شکرانه ورته بې مفهومه کېږي او تل له نورو سره په سيالۍ کې خپله خوښي له لاسه ورکوي. تکاثر او حرص يې پاي ته نه رسېږي، د پرمختګ لپاره د پرمختګ په فرهنګ کې د يوه ستر روزل شوي په مصداق بدلېږي.

تکاثر او حرص يې، لکه څنګه چې الله تَبَارَک وَتَعَالَی فرمايي، دی په ځان بوخت کړی دی، د ژوندانه له واقعي خوند (مادي او معنوي) نه يې غافله کړی او د زيات درلودو تندې يې فکر او ذهن اسير کړی دی. **أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ**[1]

[1] سوره. التکاثر، آيه. ۱

**«تاسې د شتمنۍ په ګټلو کې (او یو له بله په ډېرولو کې) ډېرې زیاتې لېوالتیا په غفلت کې اچولي یاست».** د ډېر ثروت په درلودلو کې داسې غرقېږي، چې خپلې ټولې آزادۍ د هغه لپاره لیلاموي؛ د زیات مال د درلودلو لپاره فکر کوي، کار کوي، لالهاندي او هڅه کوي. هر څومره چې زیات (مال) مومي، حرص یې ورسره زیاتېږي او ډېرې آزادۍ یې ترې اخیستل کېږي. بناءً تر مرګه پورې دغه حرص، دې لکه د یوې قبولې شوې ښیرا په څېر تعقیبوي. **حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ**[1] **«تر دې پورې، چې (په دې فکر کې) قبرونو ته ورشئ».**

دې دا کار کوي، تر څو له لاسه ورکړې ارامتیا یا بایللې هوساینه بېرته ترلاسه کړي؛ خو په څومره کچه چې زیات (څه) مومي، آرامتیا یې کمېږي؛ ځکه د هوسایۍ او آرامتیا ستره سرچینه یې یعنې خپله آزادي او روح یې د حرص قرباني کړې ده. کله چې انسان خپل روح نفې کړ، خدای نفې کوي او یا لږ تر لږه په خپل ژوندانه کې د خدای رول نفې کوي. کله چې خدای نفې شو، نو بیا انسان او د هغه د نفساني اعمالو غمجنې او دردناکه پایلې پاتې کېږي. نفس یې د آرامتیا په بدل کې، له هغه د لا زیاتو غوښتنه کوي او هغه د خپل نفس د غوښتنو د پوره کولو لپاره، په ناهیلۍ سره ډېره هڅه کوي، چې په بدل کې یې لا نور زیات غمونه او رنځونه لاس ته راوړي او د هغه آرامتیا او هوسایي نوره هم ور پسې قرباني کېږي. کله چې یو مډرن انسان وایي، چې «خدای مې وواژه» «العیاذ بالله» په حقیقت کې یې د روح په نفې سره خپل ځان او آزادي وژلې ده؛ د خلاقیت، د شاعرانه والي او روحانيتوب لذت یې په ځان کې وژلی

---

[1] سوره. التکاثر، آیه. ۲

دی. انسان پرته له آزادۍ د حرص په قید کې خپل ژوند جهنم ګرځوي. **كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ * ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ * كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ * لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ**[1] **«هېڅکله داسې نه ده، ډېر ژر به تاسې پوه شئ. بیا (واورئ چې) هېڅکله داسې نه ده، ډېر ژر به تاسې پوه شئ. هېڅکله داسې نه ده، که تاسې د باوري پوهې له مخې (د دې چلند په عاقبت) پوهېدلی (نو ستاسې به دا چلند نه وای)؛ تاسې به هرو مرو دوزخ وګورئ».**

که دغه انسان پر علم الیقین پوه وای، نو هغه اوربه یې لېدلی وای، چې په هغه کې به وخت تېروي.

نو اې ځوانه! له تا هیله او غوښتنه کوم، د ځان په آزادۍ او روزنې سره دې خپله پوهه او بصیرت زیات کړه او له نفساني خواهشاتو نه دې د روح په ازادولو سره، فراست او پوهه په لاس راوړه، لکه څنګه چې له بدن څخه د روح په آزادېدلو سره د انسان د سترګو لید ډېرېږي. **لَقَدْ كُنْتَ فِي غَفْلَةٍ مِنْ هَذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَاءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ**[2] **«په یقیني توګه، د دغې (ورځې) له پلوه ته په غفلت کې وې. موږ هغه پرده لرې کړه، چې ستا په مخکې پرته وه او نن ستا نظر ښه تېز دی».** په داسې یوه فراصت سره به جهان په بل ډول وګورې. د هغو کسانو، چې ظاهراً له خپل آرام او هوسا ژوند سره له سهار نه تر ماښامه او له ماښامه تر شپو پورې په حرص پسې دي، د تر او تازه سترګو تر شا به یې داسې د غم او رنځ اور ووینې، چې هغوی سوځوي. د عشق او خوښۍ

---

[1] سوره. التکاثر، آیات. ۳-۶

[2] سوره. ق، آیه. ۲۲

داسې کانکرېټي حائل دېوالونه به وګورې، چې خپلو اوسېدونکو ته سخت فشارونه ورکوي. د روحونو داسې خفه شوي غړونه به واورې، چې خپل هغه خاوندان، چې زړه را ښکونکې ماشين ډوله زندګي لري، د آزار ورکوونکو ارواګانو په څېر يې زوروي. داسې ستر صنعتونه به وګورې، چې خپل جوړوونکي يې زنداني کړي او هغوی تعذيبوي. دا هر څه به ووينې، که چېرې د خپل روح ازادي دې د نفس له خواهشاتو را وګرځوې.

بيا هم ټينګار کوم، چې ثروت بد نه دی، د ثروت بدي او ښېګڼه د ثروت په پرتله، د ثروتمند په ليد پورې تړلې ده. شتمني ترلاسه کول عبادت دی، که د آزادۍ لپاره وکارول شي؛ خو که د آزادۍ له منځه وړونکې وي، نو د عذاب يو سيوری ګرځی.

## تکبر د هدایت مانع (خنډ)

روح د انسان هغه برخه ده، چې د حق ترې وي او که یو ځل یې د دغو اوبو خوند وڅکي، لا ورپسې ترې کېږي او ورپسې ځغلي. هر چېرې چې هغه ومومي، د هماغه ځای کېږي؛ حکمت د مؤمن ورکه ده. ځوان، چې د قرآنکریم د حقایقو غوړپ په خوند ښنبلی و، پرته له دې، چې د قرآن پیر ته د مرۍ د تازه کېدو وخت ورکړي، وروستی سوال یې داسې مطرح کړ:

**په نني دنیا کې، چې علم خپل اوج ته رسېدلی دی، خلک ولې د قرآن په حقانیت نه پوهیږي؟ ایا دا دومره خلک، چې قرآن لولي او د هغه آسماني والي ته د تعظیم سر نه ټیټوي، احمق دي؟**

د قرآن پیر د ځوان له دې توري، چې احمق دي، خوښ نه و، ویې ویل: د احمق کلمه د عمومي مانا له مخې دومره خلکو ته کارول مناسب نه دي. هغوی د احمق د کلمې د عامې مانا پر اساس احمق نه دي، بلکه له مورږ ښخه هوښیار او عقلمندان دي. په حقیقت کې هغوی سر تر پښو عقل دي، هغه عقل، چې یوازې د نفس د ګټو لپاره کار کوي. هغوی احمقان نه دي، کبرجن دي.

متکبر انسان، خپله ټوله روحي ازادي محاسب ذهن ته سپاري، هغه چې تل د ګټې په لټه کې او ځان خوښوونکی وي. محاسب ذهن تل په ګټې او منفعت پسې دی؛ خو کوم منفعت چې دی ورپسې دی، د هغه په کلي مقیاس کې یې نه ویني، بلکه هغه د نورو په پرتله ویني. منفعت او ګټه په کلي مقیاس کې

سعادت دی، چې په نورو پورې تړاو نه لري؛ خو منفعت د نورو په پرتله، د هر چا په نسبت د برترۍ غوښتنه ده. محاسب ذهن تل غواړي، چې بهتره او غوره وي. د دې برترۍ د غوښتلو په بهیر کې، د محاسب ذهن په وړاندې تر ټولو لوی خنډ، خدای او د روح ازادي غوښتنه ده. کله چې د خدای مفهوم منځ ته راځي، دلته بیا د نهي او حرامو مسله را منځته کېږي او کله چې د روحي ازادي غوښتنه منځته راځي، دلته بیا ایثار، له ځان تېرېدنه او تواضع را منځته کېږي او دا ځانګړتیاوې بیا د محاسب ذهن (نفس) د منفعت غوښتنې پر وړاندې قرار نیسي. متکبر یا له سره تر پښو د محاسب ذهن تابع شخص، د خپلو ګټو د غوښتلو په لاره کې هېڅ ډول خنډ نه غواړي، نه کومه نهي او نه کوم اولوالامر غواړي او له همدې امله د ځان لپاره حق په داسې ډول تعریفوي، تر څو چې هغه خپلې ګټې ته نیږدې کړي او باطل داسې تعریفوي، چې ګټې ته یې د رسېدو مخه نیسي؛ حق ورته هماغه څه دی، چې په خپله یې خپلو ګټو ته د رسېدو لپاره تعریف کړی.

اوس نو چې کله دین راځي او هغه ته وایي، باید له سود اخیستلو ځان وساتې، دی په داسې حال کې، چې د سود له لنډ مهاله او اوږد مهاله پایلو خبر دی، خو دا چې له سود خوړلو ګټه تر لاسه کوي، هغه د یوه منصفانه تجارت په توګه، حق معرفي کوي. که چېرې یوه کپیټلست او هغه چاته، چې له کپیټالیزم څخه ګټه تر لاسه کوي او په دې کار کې یې د خپل روح ازادي محاسب ذهن ته سپارلې ده، که د کپیټالیزم له ګڼو عملي نیمګړتیاوو یادونه وکړې، دی به نظري ګټې ډېرې درشمېري؛ ځکه کپیټالیزم د هغه نفس چاغوي او متکبر نفس دا نه غواړي، چې بل څوک دې حق ورته ووایي. متکبر نفس په خپله د

خپل ځان خدای دی، ښه او بد په خپله تعريفوي؛ بناءً نفس که چاغ شي، انسان د حق له منلو منع کوي. الله تَبَارَک وَتَعَالَی فرمايي: **سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَإِنْ يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَا يُؤْمِنُوا بِهَا وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ الرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا**[۱] **«زه به له خپلو نښانو څخه د هغو خلکو سترګې واړوم، چې په ناحقه په ځمکه کې تکبر کوي. هغوی که هره نښانه وګوري، هېڅکله به ايمان پرې را نه وړي. که سمه لاره يې په مخ ورشي، نو هغه به غوره نه کړي او که کږه لاره يې تر سترګو شي، نو پر هغې به وخوځېږي».**

ځان لوی ليدل او لويي د انسان زړه او سترګې داسېړندوي، چې د حق د واضح والي او ښکاره توب سره سره، نه غواړي، هغه ووينې. د تکبر او لويۍ تر ټولو ستر مثال ابليس دی، هغه حق پېژانده، حق ورته ځرګند ؤ، خو نه يې غوښتل هغه ووينې. هغه د خپل رب له عظمت نه خبر ؤ او ان د خپل پروردګار پر عزت يې قسم ياداوه. **قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ**[۲] **«ابليس وويل: ستا پر عزت قسم دی، زه به دوی ټول ګمراه کړم».** خو بيا هم تکبر يې د حق د منلو مانع وګرځي او هغه يې د باطل پر لاره روان کړ.

تکبر او ځان برحق ګڼل په ډېرى مسلمانانو کې هم رواج ده؛ ډېرى طريقوي شخړې، لکه د غير ثوابتو او مستحباتو پر سر شخړې او جنجالونه، له تکبر را پورته شوي دي. د مسلمانانو ترمنځ وروروليي د دين له ثابتو اصولو

---

[۱] سوره. الأعراف، آيه. ۱۴۶

[۲] سوره. ص، آيه. ۸۲

څخه ده؛ خو تکبر ځینې دغه ثابت شوی اصل د اته رکعته تراویح او شل رکعته تراویحو، رفع الیدین او عدم رفع او... له امله په خطر کې اچوي. تکبر د مقابل لوري د سموالي احتمال او یا د دواړو د سمون احتمال په دغو مسایلو کې د اجتهاد د اصل والي له نظره د دغو جدل کونکو په ذهن او فکر کې ناممکن څرګند وي. د دې په خاطر، چې ځان په اجتهادي مسایلو کې حق ثابت کړي، له ثوابتو تېرېږي. **فَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ زُبُرًا كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ**[1] **«خو وروسته خلکو دین په خپلو منځو کې ټوټه ټوټه کړ؛ له هرې ډلې سره، چې څه دي، هغوی په همغه خوشاله دي».** خو متکبر انسان هدایت نه مومي، حتی که د عزازیل په څېر شپه او ورځ په ظاهري عبادت بوخت وي. د هدایت لپاره شرط تواضع ده، چې د محاسب ذهن له امله په لاس نه راځي. تر دې، چې زموږ بدنونه او ذهنونه، زموږ له روح سره په همغږۍ په عبادت نه شي، زموږ ظاهري اعمال به د هدایت پر لور لارښوونکی نه شي کېدای او زموږ تکبر به زموږ د والا روح په تسلط کې رانه شي. **إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَخْبَتُوا إِلَى رَبِّهِمْ أُولَئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ**[2] **«پاتې شول هغه خلك، چې ایمان یې راوړ او ښه کارونه یې وکړل او یوازې خپل رب ته په عاجزۍ شول، نو هغوی به بې له شکه د جنت خاوندان وي او په جنت کې به د تل لپاره اوسېږي».**

---

[1] سوره. المؤمنون، آیه. ۵۳

[2] سوره. هود، آیه. ۲۳

# قرآني تفکر

په داسې حال کې، چې د قرآن د پیر خبرو د ځوان په زړه کې ځای نیوه او په سوچ کې تللی و، خو په سوچونو کې یې دا سوچ په ګرځېدا ؤ، چې د قرآن پیر ولې په تفکر باندې نیوکه کوي. یو څوک، چې د باطني بدلون سره مخ وي، د زړه او ذهن ترمنځ په داخلي اخ او ډب کې قرار نیسي او په داسې حالت کې د فکر کولو په اړه فکر کول یو اغتشاش رامنځته کوي. ځوان ونه شو کولی، چې خپل دغه داخلي اغتشاش د قرآن له پیر سره شریک نه کړي، نو ورپسې سوال یې دا ډول مطرح کړ:

**په داسې حال کې، چې د تاسو خبرو زما تفکر تحریک کړ، خو فکر کوم د شپې له پیل نه تر اوسه پورې تاسو په فکر او عقل تېری کوئ. د تاسو په اند، ایا تفکر او تعقل مذموم دی؟**

د قرآن پیر، چې د ځوان له ناسم فهم نه یو څه نا ارامه شوی و، خو د حکمت او نېک وعظ کولو په پار یې **(ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ)**[1] **«[اې پېغمبره ﷺ]، د خپل رب د لارې په لورې په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه، چې ډېره غوره وي»**؛ سوچ خراب نه کړ، خپل ځواب یې دا ډول پیل کړ: په حقیقت کې د قرآن یوازینی پند او نصیحت تفکر دی. **قُلْ**

---

[1] سوره. النحل، آیه. ۱۲۵

**إِنَّمَا أَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ أَنْ تَقُومُوا لِلَّهِ مَثْنَى وَفُرَادَى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوا**[۱] **«[اې پېغمبره ﷺ!] دوی ته ووایه: زه تاسې ته فقط د یوې خبرې نصیحت کوم، د خدای لپاره تاسې یو یو او دوه دوه یو ځای شئ، خپل ماغزه وجنګوئ او فکر وکړئ».** دا چې زه او ته په دې نیمه شپه کې، حق ته د رسېدلو په خاطر مختلف مسایل سره څېړو، د هغو اړوند تفکر کوو، د قرآن کریم له نظره فکر کول دوه ګونی فکر دی او دا چې ان شاء الله له دې وروسته د مسایلو اړوند تفکر وکړئ، یو کسیز تفکر دی؛ دا تفکر د قرآن تر ټولو لوی نصیحت او تر ټولو لوی عبادت دی. د تفکر، تدبر او تعقل اړوند د قران کریم ټینګار دومره ډېر دی، که هغه بیان کړو، نن شپه او یو زر یوه شپه نورې به هم ورته بسنه ونه کړي؛ خو دلته یې یوازې څو بېلګې ذکر کوو. **أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا فِي أَنْفُسِهِمْ مَا خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ**[۲]**... «ایا هغوی کله په خپل ځان کې غور او فکر نه دی کړی؟ الله اسمانونه او ځمکه او هغه ټول شیان، چې د هغو په منځ کې دي، په حقه او د یوې ټاکلې مودې لپاره پیدا کړي دي». إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ... لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ**[۳] **«(د دې حقیقت پېژندنې لپاره که کومه نښه نښانه په کار ده)، نو د اسمانونو او ځمکې په جوړښت کې،... د هغو خلکو لپاره بې شمېره نښانې دي، چې له پوهې څخه کار اخلي». أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقران أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا**[۴] **«ایا دوی پر قران غور نه دی کړی، یا که پر زړونو باندې یې قلفونه**

---

[۱] سوره. سبأ، آیه. ۴۶

[۲] سوره. الروم، آیه. ۸

[۳] سوره. البقره، آیه. ۱۶۴

[۴] سوره. محمد، آیه. ۲۴

**وهل شوي دي؟».**

خو قرآن وړاندې له دې، چې تفکر تحریک کړي، هغه آزادوي، لکه څنګه چې، قرآن د رسول ﷺ رسالت د انسان آزادول ښيي. **الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي... يَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ**[1] **«(نو نن ورځ دا رحمت د هغه چا په برخه دی)، چې د دې أمي نبي پیغمبر پیروي غوره کړي... هغه څوک، چې له دوی څخه هغه پېټي کوزوي، چي پر دوی دروند شوي ؤ او هغه بندیزونه ماتوي، چې په هغه کې دوی کلک تړل شوي وو».**

هغه ځنځیرونه، چې له هغو څخه د خلکو د آزادولو لپاره رسول الله ﷺ مبعوث شوی دی، هغه یوازې د سیاسي او اقتصادي استعمار ځنځیرونه نه ؤ، بلکه فکري او ذهني ځنځیرونه ؤ. داسې ځنځیرونه، چې انسان یوازې یو منطقي حیوان او د دنیوي بقا لټوونکی او غوښتونکی معرفي کوي. داسې ځنځیرونه، چې انسان یوه محض محاسب ذهن ته په راټیټولو سره، هغه د ډلهییزو افکارو په بندونو کې بندوي. داسې ځنځیرونه چې له انسان څخه په ټولنه کې د غلطو افکارو پر وړاندې درېدل له انسانه اخلي. داسې ځنځیرونه، چې انسان دې ته اړ باسي، تر څو هغه باطل ومني، چې نورو حق ګڼلی دی. داسې ځنځیرونه، چې یو پلار د هغه په قید کې د لور پیدا کېدل شرم وګڼل او د لور د پیدا کېدو په خاطر یې له خلکو مخ پټاوه. داسې ځنځیرونه، چې د هغو په قید کې انسان دې ته اړ شي، چې لرګیو او ډبرو ته سجدې وکړي او د خپلو اولادونو وژلو ته اړ شی. **وَكَذَلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَادِهِمْ**

[1] سوره. الأعراف، آیه. ۱۵۷

**شُرَكَاؤُهُمْ[1] «او په همدې ډول د ډېرو مشرکانو لپاره، د هغوی شريکانو د خپل اولاد وژل ښايسته کړي دي».**

داسې هم نه وه، چې د هغوی روح دې له خپلو اولادونو سره له فطري محبت نه بې برخې وي. کله به يې چې هم خپلې لوڼکانې ژوندۍ تر خاورو لاندې کولې، روح به يې ځورېده؛ خو محاسب ذهن يې په انساني تفکر باندې داسې غلبه کړې وه او هغوی يې داسې د نورو پيروان ګرځولي ؤ، چې د مقابلې توان يې نه درلود او د دې دود په بطلان باندې له پوهېدو سره سره د هغه پر وړاندې يې د آزاد درېدو توان نه درلود.

زنداني او غير آزاد عقل، د آزاد روح غږ پيکه کوي، د حق آواز خپه کوي، د باطل پر وړاندې د درېدو جرأت له لاسه ورکوي، صرف نظر له دې، چې نور حق او که باطل وي، د هغوی پيروي کوي او د ځان لپاره د فکر کولو آزادي نه لري. نو د زنداني عقل تفکر د ډله ييز تفکر په ګرو کې دی.

اجازه راکړئ، له زنداني فکر سره د متفکرينو يوه عصري بېلګه درته ووايم؛ په ډېر کم آزاده تفکر سره، آن که يو څوک د مکتب د يوه زده کوونکي په اندازه هم هوښيار وي، کولی شي، دا درک کړي چې د سپټمبر د يوولسمې پېښه، د پېړۍ تر ټولو ستر درواغ ؤ؛ خو تر ټولو سترو تش په نامه متفکرانو، يوازې د دې په خاطر، چې توطيه کونکی ونه ګڼل شي، د دغې پېښې له څرګندولو او منلو اجتناب کوي؛ ځکه که حقيقت ووايي، ټولې رسنۍ به دوی ته د احمق خطاب وکړي. د دغو خلکو تفکر آزاد نه دی، د دوی تفکر د

---

[1] سوره. الأنعام، آيه. ۱۳۷

ټولنيزو رسنيو او د دغو رسنيو د حکاياتو په ګرو کې دی. دا مهمه نه ده، چې يو څوک په علم کې څومره لوړ نوم او نښان لري؛ د نړۍ لومړی متفکر دی او يا دويم متفکر، که د دې کس تفکر د رايج فکر تر نفوذ لاندې وي، هغه يو فکري غلام دی.

يو څوک په ساعتونو د يوې موضوع د حقانيت لپاره مجادله کوي، خو يوائې له دې امله چې د ده د وينا خلاف وينا له پلانکي مشهور عالم را نقل کړې، خاموشه کېږي. دغه يو آزاد تفکر نه دی، قرآن د تفکر په له منځه وړلو پسې نه دی، قرآن د تفکر په آزادولو او بيا د تفکر په تحريکولو پسې دی.

قرآن ټولې د حق هغه مراجع، چې د هغه په واسطه فکرونه زنداني کېږي، نفی کوي او د خلکو د سرګردانۍ د مخنيوي لپاره، د حق يوائينۍ منبع، چې په هغه کې هيڅ شک نه شته، ورته معرفي کوي. **الْحَقُّ مِنْ رَبِّكُمْ**[1] **«حق يوازې ستاسو د پروردګار له لوري دی».** په قرآني تفکر کې د انسان روح د باطني قوې په توګه نه سرکوبېږي، ترڅو د هغه په سرکوبولو کې انسان په دنيوي قيد او بند کې زنداني شي. قرآن روح او ذهن همغږی کوي ترڅو يو حق محوره لاره چاره رامنځته شي. قرآن ټول دنيوي قيد او بندونه له بېخه باسي او حق له هغې سرچينې څخه معرفي کوي، چې روح ورڅخه راغلی او مينه ورسره لري. د قرآن په آزاد محوره تفکر کې، نه د انسان روح آزار مومي او نه يې عقل سرکوب کېږي. قرآن د آزادۍ درس ورکوي. دغه آزاده تفکر، روح آزادوي او آزاده روح، له خدای سره رغبت لري. هر څوک، چې له خدای سره مينه او

[1] سوره. الکهف، آيه. ۲۹

رغبت نه لري، آزاده روح او تفکر نه لري.

اصلي سعادت او سوکالي د روح په آزادۍ کې ده؛ نو رښتينې انسان پالنه هم په آزاد تفکر کې ده. هر فرد او هر فکر، چې له انسان نه آزادي واخلي، روح او د روح روزنه يې نفی کړي، يو غير انساني او غير قرآني کار کوي، که څه هم ټولې ادعاوې يې د انسانيت پر بنسټ وي، که څه هم له اقتصادي مساوات، د سياسي رايې حق او مدني حقوقو خبرې وکړي؛ خو که يوه رښتينې آزادي نفی کړي، نو يو غير انساني کار کوي؛ ځکه انسان يوه غير انساني شي ته را ټيټوي.

بناءً په زيات ټينګار سره وايم، چې قرآن تفکر تشويقوي؛ خو آزاده تفکر د شخصي منفعت په قيد او بند او رايج فکر کې تفکر د کلمې په اصلي مانا تفکر نه دی، بلکه دا په مغزو کې يو بيولوژيکي بهير ده، چې حيوانات هم دا لري. قرآن انساني تفکر غواړي، نه حيواني تفکر.

## انسان باطن دی

په ځوان کې یو عجیبه شور را پیدا شوی ؤ، ګواکې د خپل روح هغه بې تابه آواز یې اورېده، چې له ده څخه د قرآنکریم د نورو آزادۍ ښښونکو ایاتونو اورېدل غوارې. هغه د خپل زړه هغه ګرېندي، خو له آرامتیا سره مله درزا اورېده، چې نارې یې وهلې، آزاد مې کړه، خو په ورته وخت کې د نفس فعالیت یې هم زیات شوی ؤ او په چټکۍ سره یې تیار شوي معلومات چڼ او غلبېل کړل او تازه مقاومتي سوالونه یې مطرح کول. دغه دنني جنګ دی بیچاره او بې‌تابه کاوه. ځوان د خپل دنني امنیت د راوړلو لپاره غوښتل، چې واوري، نو له همدې امله یې د مخکني حالت په پرتله په ورو او متواضعانه غږ وپوښتل:

**تاسو دومره د روح او روحانیت خبرې وکړې، زه فکر کوم، چې ټول پام مو پر زهد ده او له دنیا او دنیا دارۍ څخه عزلت ته ترجیح ورکوئ؛ آیا قرآن له دنیا او دنیا دارۍ سره واټن ایجادوي؟ آیا دین یوازې دننۍ یا باطني تقوا ده؟ ایا انسان یوازې روح دی؟**

د قرآن پیر د دې لپاره، چې موضوع یې ښه تشریح کړې وي، د موضوع طرح یې داسې پیل کړه، چې له پوښتنې سره ظاهراً بې‌اړخ ښکارېده:

د انسان د باور او عمل ترمنځ مستقیم او نېغ تړاو شتون نه لري. ټولې انساني کړنې د دوی سیاسي، فلسفي او ایډیالوژیکي عقیدې نه تعقیبوي. د

انسان هر عمل اختياري او د هغه له باورونو سره سنجول شوی نه دی. د انسان ډېری اعمال غير اختياري او له هغه څه سره مطابق دي، چې هغه په خپل باطن کې کسب کړي دي. غير ارادي اعمال له زرګونو کلونو راهيسې، چې د انسان په باطن کې يې ځای نيولی، له داسې کلتور نه چې په هغه کې را لوی شوی او په غير شعوري توګه په هغه کې باطني شوی او له هغو څيزونو، چې ده زده کړي، سرچينه او نشأت مومي.

ګوره! د يوه مسلمان کس د باور بنسټ، حسن اخلاق جوړوي؛ موږ داسې مسلمانان لرو، چې بد اخلاقه دي او د يوه ملحد او ماده پالونکي شخص د باور بنياد په اخلاقو او اخلاقياتو باندې عدم باور جوړوي؛ خو داسې ملحدان او ماديت پرسته شته، چې اخلاقي چلند کوي. دا د دې په خاطر ده، چې د يوه انسان ټول اعمال د هغه باورونو ته په کتو نه دي؛ هغه مسلمان، چې غير اخلاقي چلند کوي د دې په خاطر دي چې، هغه د بد اخلاقی تاريخ، چې دی او پلرونه يې شاهدان و، د غير اخلاقي رايج فرهنګ او د مادی ګرايي تدريسات په هغه کې باطني شوي دي او هغه ماده پال او ملحد، چې اخلاقي چلند کوي، د دې له امله دی، چې د هغه په باطن کې ديني کلتور، تاريخ او تدريسات شتون لري. ډېری اعمال په غير شعوري توګه په هغه مسلمان کې، چې ملحد شوی دی، له هغه مسيحي سره، چې ملحد شوی دی، په يو ځانګړي وضيعت کي به سره ورته نه وي؛ ځکه په دواړو کې باطني شوی فرهنګ، تاريخ او ديني تعليمات توپيرسره لري.

پرته له اخلاقو ټولنيز نظم ناشونی دی. د بېلګې په توګه، کارل مارکس اخلاق په تئوری کې نفی کاوه؛ خو کله چې مارکسيستانو غوښتل، دغه تئوری په عمل

کې پلی کړی، درک یې کړه، چې دا کار عملي کېدونکی نه دی. بناءً لنین وویل، اخلاق یوه سوشیلست دولت ته وفاداري ده. ماده پال لیبرالیستان هم په اخلاقو باور نه لري، خو د ټولنیز نظم لپاره اخلاق ترویجوي؛ ملت او دولت ته وفاداري، له هېوادوال سره مینه، د هیواد او هیوادوال لپاره قرباني، دولت ته خیانت نه کول او... دا کار د عمل او باور ترمنځ تناقض را پیدا کوي. کله چې یو مادیت پال اخلاقي عمل کوي، بل یې نه پرېږدي؛ کله چې یو مؤمن غیر اخلاقي عمل کوي، بل مؤمن یې نه پرېږدي؛ البته مؤمن! مسلمان نه. او دغه تناقض په هغو ادیانو کې، چې کاملاً د روحانیت پر محور را څرخي، هم صادق دی. کله چې یو مسیحي د مسیحیت له سیاست نه خبرې وکړي او مسیحیت په سیاست کې شامل کړي، د خپل باور مخالف خبرې یې کړې دي؛ ځکه په (رایج) مسیحیت کې، دیني سیاست شتون نه لري. دغه تناقض په خپله د فرد لپاره ازار ورکوونکی نه وي، خو د ټولنیز نظم لپاره د هغه پوره وفادارۍ ته نه وي شامل. دغه تناقض د روح او تن ترمنځ، د دین او دنیا تر منځ، د عمل او باور ترمنځ په فردي کچه باطني تشه او په ټولنیزه کچه بې نظمي راوړي. د دغې تشې د ډکولو لپاره، د ټولنیز نظم متصدیان (مسوولان) دې ته اړ کېږي، چې ټولنې ته د تمرین ورکولو لپاره هڅه او هاند وکړي. کمونېستي حکومتونه له مکاتبو، رسنیو او ان د هنرونو له لارې، خلکو ته د اخلاقي تمرین ورکولو لپاره استفاده کوي؛ د بېلګې په توګه، د امریکا په کپیتلیستي ماده پالو هیوادونو کې یوه ستره اداره په لوړو مصارفو سره د عامه روابطو په نامه لري، چې د دغې اداري یوائینۍ موخه، د خپلو خلکو د اذهانو مهارول او تمرین ورکونه ده.

قرآن د دغه تناقض په ختمولو پسې دی. قرآن د عمل او باور ترمنځ د دغه

اختلاف په لرې کولو پسې دی. قرآن د دین او دنیا روح او تن باور او عمل ترمنځ همغږي رامنځته کوي. نو قرآن خلکو ته په تمرین ورکولو امر نه کوي، بلکه د خلکو په روزلو پسې دی.

**آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ**[1] **«ایمان راوړئ او [د ایمان مطابق] نېک او صالح کارونه وکړئ.»** په دغې جملې کې، چې په قرآن کې له ۵۰ ځلې نه زیاته راغلې ده، په ښکاره توګه د عمل او باور ترمنځ له تناقض نه مخ نیوی کېږي؛ خو د قرآني روزنې بهیر، یوازې له ایمان څخه تر عمل پورې محدود نه دی، بلکه له عمل څخه تر ایمان پورې هم شامل دی. **لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ**[2] **«تاسې نېکۍ ته هېڅکله نه شئ رسېدی، تر څو خپل هغه شیان (د خدای په لار کې) ونه لګوئ چې تاسې ته ګران وي».** دلته بهیر سرچپه ده، دلته قرآن نه وایي، چې ایمان راوړې ښه کېږي، بلکه وایي، چې ښېګڼې وکړئ او ښه اوسئ، تر څو د تاسې ایمان زیات او قوي شي. د قرآن روزنه شخص له عمل نه باور ته او له باور نه عمل ته رسوي. د قرآن لخوا د روزل شویو په عمل او باور کې دوه مخيتوب شتون نه لري، د روح او تن (ذهن) ترمنځ تناقض نه احساسوي او د خپل دنیوي نظم د ساتلو لپاره د تمرینونو د جبري تطبیق ته اړتیا نه لري، بلکه په اختیارانه روزنې سره یې دین او دنیا همغږي کېږي.

انسان عبارت له هغو تعالیمو او افکارو څخه دی، چې په هغه کې باطني شوي دي؛ نه هغه باورونه، چې د خپل ذهن په یوه ګوټ کې یې زېرمه کړي

---

[1] سوره. محمد، آیه. ۲

[2] سوره. آل عمران، آیه. ۹۲

دي. قرآن د دغو دوارو ترمنځ همغږي رامنځته کوي. د هغو همغږیو اوج، چې په هغه کې عمل او باور سره همغږي وي، تقوا ده. تقوا د اسلام باطني شوي تعالیم دي. عمل له باطن څخه سر چینه اخلي او تقوا په باطن کې ده. د انساني باطن کمي نه، بلکه کیفي دی؛ نو ځکه د اندازه ګیرۍ وړ نه دی. تقوا د انسان تعریفوونکې ده، نو انسان نه شي کولی، هغه اندازه کړي او د هغه له نظره بل انسان پرې تعریف کړي. یوازې الله پوهېږي، چې څوک متقي دی. **هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَى**[1] **«یوازې هماغه ذات دی، چې متقیان پېژني»**. له همدې امله ده، چې یو څوک د بل په نسبت د تقواداری دعوا نه شي کولی. دیني اعمال الزاماً د تقوا څرګندوونکي نه دي. د آدم عَلَيْهِ السَّلام دوه زامنو، دوارو یې قرباني وکړه؛ خو الله تَبَارَک وَتَعَالَی له یوه څخه یې قرباني ومنله؛ ځکه: **إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ**[2] **«الله یوازې له متقیانو څخه یې قبلوي»**.

له همدې امله انسان هغه څه دی، چې د هغه باطن دی. د انسان کیفیت د هغه د تقوا کیفیت دی. د انسان د اعمالو اعتبار، اخلاص او د نیت سموالی په دې کې دی، چې څومره یې له خپل باور سره همغږی دی او تر کومه بریده د تقوا له مخې دی. انسان هغه څوک دی، چې عمل او عقیده یې یو شان وي، دین او دنیا یې همغږي وي روح او بدن یې په همدې همغږي کې آرام وي؛ همدا دی د تقوا اوج. د اسلام پالنه د تقوا سبب ګرځي؛ د داخلي آرامتیا او وروسته بیا د باثباته او انساني ټولنیز نظم لامل کېږي. قرآن راغلی دی، تر څو

---

[1] سوره. النجم، آیه. ۳۲

[2] سوره. المائده، آیه. ۲۷

په انسان کې د پخوانیو غلطو باطني شویو باورونو پر ځای، ځان د انسان د باطن برخه وګرځوي او په پایله کې انسان، ټولنه، نظم او داسې یو دولت جوړ کړي، چې له ارامتیا ډخه برخمن او له دوه مخي توب ډخه پاک وي.

## د مسلمانانو وضعیت

ښايي د قرآن پير په دې پوهېده، چې په دې پسې سوال به څه وي او وړاندې له دې، چې ځوان سوال بشپړ کړي، په خپل ذهن کې يې ځواب اماده کاوه. هغه سوال، چې ډېرکله پوښتل کېږي، اورېده او بېلابېل ځوابونه ورته شته او د هر پلټونکي په ذهن کې، چې مخکنۍ خبرې يې اورېدلې وي، را ټوکېږي.

**هغه سوال دا و، که چېرې د قرآن روزنه په دومره ثبات او آرامتيا پای مومي، نو بيا ولې مډرن مسلمانان له يوه ټولنيز ثبات او آرامتيا څخه برخمن نه دي؟ بيا ولې مسلمانان تر نورو وروسته پاتې شوي دي؟ مسلمانان ولې په اقتصادي فقر کې وخت تېروي؟ ولې د پرمختګ په دې کاروان کې يو ځانګړی ځای نه لري؟**

د دې سوالونو په ځواب کې يو قاطع ځواب او مشخص دليلونه شتون نه لري؛ خو د قرآن پير داسې دانه دانه د دغو سوالونو په ځوابولو پيل وکړ، ته به وايې، چې له دغو سوالونو سره څو ځايه نور هم مخ شوی دی. خو په دې تړاو يو څو نور ټکي دي، چې بايد پر هغو وپوهيږو؛ د قرآن پير د خبرو پر دوام کې وويل:

لومړی دا، چې د دې دنيا ژوند يوه ازموينه ده او د هغو خلکو لپاره، چې په ابدي ژوندانه ايمان لري، په دې دنيا کې ورته حقيقي ژوند نه دی. يو مؤمن بايد په دې دنيا کې د خپلو ټولو غوښتنو په لټه کې نه وي. که چېرې موږ په همدې دنيا کې د يوه ښه ژوندانه د تېرولو، د خپلو ټولو غوښتنو په پوره کولو

پسې شو؛ نو بيا همدا دنيا زموږ جنت کېږي، خو دا دنيا جنت نه ده او د دنيا د جنت جوړولو هيله، هغه څه چې نه ده او هېڅکله به هم نه شي، ځوروونکې ده. همدا راز موږ له نورو سره د ثروت او «پرمختګ لپاره د پرمختګ» په رقابت کې قرار نه لرو. قرآن د دې لپاره نه دی راغلی، تر څو موږ د نورو په پرتله بډايه او ثروتمند کړي، قرآن د دې لپاره راغلی چې خپل پيروان حقيقي آرامتيا ته ورسوي. زموږ سترګې بايد د نورو خلکو شتو ته نه وي او خپله سوکالي او ارمتيا بايد د خلکو مالونو ته د رسېدو په خاطر برباد نه کړو. **لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَى مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ**[1] **«ته هغو دنيوي ګټو ته سترګې مه اړوه، چې موږ له دوی څخه بېلابېلو خلکو ته ورکړي دي. او مه د دوی پر حال باندې خپل زړه ځوروه. دوی پرېږده، د مؤمنانو خوا ته، د خواخوږۍ او مهربانۍ پاملرنه وکړه».** که چيرې رښتيا په اخرت ايمان لرو، نو بيا بايد خپل ټول ځواک د دې دنيا په جنت بدلولو باندې مصرف نه کړو. که چېرې زموږ ټولې هيلې له همدې دنيا څخه وي، نو ايا اخرت ته به زموږ هيله کاذبه نه وي؟

قران وايي، که چېرې خلک نه ناهيلي کېدلی او د کفارو د زيات ثروت په خاطر د هغوی لور ته نه راغب کېدلی، کفارو ته يو نه باور کېدونکی مال او دولت ورکول کېده. **وَلَوْلَا أَنْ يَكُونَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً لَجَعَلْنَا لِمَنْ يَكْفُرُ بِالرَّحْمَنِ لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِنْ فِضَّةٍ وَمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُونَ * وَلِبُيُوتِهِمْ أَبْوَابًا وَسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِئُونَ * وَزُخْرُفًا وَإِنْ كُلُّ ذَلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَالآخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ**

[1] سوره. الحجر، آيه. ۸۸

**لِلْمُتَّقِينَ**[1] **«او که دا (وېره) نه وای، چې ټول خلک به د يوې کړنلارې پيروان شي، نو موږ به په الرحمان (خدای) باندې د کافرکېدونکو د کورونو چتونه او د هغوی زينې، چې دوی ور باندې بامونو ته خېژي، د سپينو زرو ګرځولې وای. او همدارنګه، د هغوی د کورونو دروازې او د هغوی تختونه، چې هغوی ورباندې تکيه وهونکي کښېني، (هم د سپينو زرو ګرځولي وای). او د سرو زرو، دا هر څه خو يوائې د دنيوي ژوندانه متاع ده او اخرت ستا د رب په وړاندې يوازې د پرهېزګارانو خلکو لپاره دی».**

انسان ته هغه څه ورکول کېږي، چې په هغه پسې دی. **وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَى**[2] **«او دا، چې د انسان لپاره (د کړنو بدله) پرته د هغه د هڅې او کوښښ څخه بل هېڅ نه شته».** که چيرې موږ په دنيا پسې شو او له اخرت نه کومه تمه ونه لرو، دنيا موږ ته را کول کېږي. هغه کافران، چې يوازې دنيا غواړي، هغوی ته ورکړل شوې ده. **مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ**[3] **«کوم خلک، چې يوازې د همدې دنيا د ژوند او د هغې د ښکلاوو غوښتونکي وي، د هغو د کړو وړو ټوله مېوه موږ همدلته ورکوو او په دې کې له هغو سره هېڅ کمی نه کېږي».**

د مډرن مسلمان ستونزه دا ده، چې باور يې آخرت غواړي او عمل يې دنيا غواړي. د دغه تناقض سزا ننی وضعيت دی، چې نه يې دنيا د نورو په څېر

---

[1] سوره. الزخرف، آيات. ۳۳-۳۵

[2] سوره. النجم، آيه. ۳۹

[3] سوره. هود، آيه. ۱۵

ډېرېږي او نه يې پر خپل اسلام باندې په پوره توګه پای‌بند پاتې کېدای شي. دغو طعنو، چې ولې مسلمانان لکه د نورو په څېر د پرمختګ په کاروان کې مخکښ نه دي؟ معاصر مسلمان تر اغېز لاندې راوستلی دي. دا پېغورونه نوي نه دي او بېلګې يې قرآن دا رنګه بيان کړې دي: **وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا**[1] **«دوی ته چې کله زموږ روښانه ايتونه اورول کېږي، نو منکران مؤمنانو ته وايي: «وښاياست! زموږ دواړو ډلو څخه کومه يوه په ښه حالت کې ده او د چا غونډې زياتې شانداري دي؟»**.

خو دا بايد ووايو، چې قرآن فقر نه هڅوي، مظلوميت نه تشويقوي او پرمختګ مذموم نه ګڼي؛ خو قرآن غواړي، چې د پيروانو ثروت، دولت، حکومت او پرمختګ يې د حق او عدالت له لارې په لاس راشي. که موږ غواړو، چې حالت مو بدل شي، موږ بايد د نورو سره سيالي ونه کړو او هڅه وکړو، چې د دوی په پلونو باندې په پښو اېښودلو سره ځانونه لکه د هغوی نه کړو، بلکه که چېرې د قرآن د ارشاداتو او تعاليمو په قالب کې بهتره دنيوي حالت وغواړو او د خپل عمل او باور ترمنځ همغږي راولو؛ په دې صورت کې زموږ دولت به يو ځل بيا نړيوال مقام ومومي، هم به خپل دين او هم دنيا وساتو. د نورو غوندې د کېدو په هڅه کې، موږ نه نور جوړېږو او نه په خپله پاتې کېږو؛ داسې يو څه کېږو، چې نن يو.

دويم دا، چې په قرآني باور سره دنيا د ازمايښت او آزمون ځای دی او د

---

[1] سوره. مريم، آيه. ۷۳

انسان وروستۍ موخه نه ده او په داسې یوه دنیا کې، چې د ازمایښت لپاره پیدا شوې ده، نو د هرې ټولنې او هر أمت لپاره د بریا او ناکامۍ ورځې د ګرځېدو په حال کې دي؛ تر څو مؤمنان او هغه کسان، چې یوازې ژبنی باور لري، سره جلا شی. **تِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا**[1] **«دا د زمانې خوږې ترخې دي، چې موږ یې د خلکو ترمنځ اړوو را اړوو. پر تاسې دا مرحله ځکه راوستل شوه، چې الله دا کتنه غوښتله، چې په تاسې کې رښتیني مؤمنان څوک دي».** په هغه حالت کې، چې بني اسرائیل د فرعون تر واک لاندې (د نزول پر مهال) یو سخت حالت تېراوه، موسی عَلَيْهِ السَّلام ورته را ولېږل شو، چې یو له رسالتونو څخه یې د همدغه امر تدریس و، چې د ټولنو او ملتونو ترمنځ د بریا او ناکامۍ ورځې د ګرځېدو په حال کې دي. **وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَى بِآيَاتِنَا أَنْ أَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَذَكِّرْهُمْ بِأَيَّامِ اللَّهِ**[2] **«موږ له دې څخه مخکې موسی علیه السلام هم له خپلو نښانو سره لېږلی دی. هغه ته هم موږ حکم کړئ ؤ، چې خپل قوم له تررېمیو څخه، رڼا ته راوباسه او هغو ته د الهي تاریخ د درس اخیستنې وړ پېښو په اورولو سره نصیحت وکړه».**

بشري تاریخ دا څرګندوي، چې ټولو جوامعو او أمتونو دغه د سختۍ او اسانۍ ورځې شکلې دي. دا یو الهی سنت دی. **لَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ تَبْدِيلًا**[3] **«او ته به د الله په کړنلاره کې هېڅ تبدیلي ونه مومې».**

---

[1] سوره. آل عمران، آیه. ۱۴۰

[2] سوره. ابراهیم، آیه. ۵

[3] سوره. الأحزاب، آیه. ۶۲

د تاريخ قانون همدا ډول دی. اروپايانو چې له منځنيو پيړيو وروسته په يوه بدترينه حالت کې ژوند کاوه، د وخت په تېرېدو سره اوسني تمدن ته ورسېدل. مسلمانانو د اموي او عباسي دوران له برياوو وروسته، د نزول په حالت کې قرار ونيوه او وروسته له هغه بيا د عثمانيانو د بريا دوران راغی او وروسته يې بيا د امريکايانو د امپراطورۍ پر مهال يو ځل بيا د نزول په حالت کې قرار ونيوه. په همدې ډول سره ټولې ټولنې او اُمتونه، په صعود او نزول کې د ازمايښت ور ګرځي.

که څه هم موږ د خلفاؤ په حيث دنده لرو، تر څو د ځمکې په رغونه او پرمختګ کې هڅه وکړو. **هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا**[1] **«هماغه ذات دی، چې تاسې يې له ځمکې څخه پيدا کړي ياست او دلته يې تاسې مېشت کړي ياست».** د خلافت لازمه دا ده، چې سړی له خدای سره وي او په ځمکه کې د پرمختګ راوستلو او جوړولو دنده د الهي ارشاداتو په سيوري کې ترسره کول دي.

خو دا يادونه بايد وکړم، که چېرې نن زموږ د برياوو دوران هم وای، زما په اند ښايي موږ به د غربيانو په څېر بدايه نه وای؛ ځکه زموږ باور وايي، چې دنيا د کافرانو لپاره جنت ده. نو زموږ د همدې باور په اساس د نورو د ورانۍ او خرابۍ په قيمت سره، خپله ابادي نه اخلو. اسلام د يوې جغرافيې د لوټ او غني کولو لپاره بلې جغرافيې ته نه ځي. مسلمان نورو ملکونو ته د غارت او سرقت لپاره نه ځي. په اسلام کې سرحد او پوله کومه مانا نه لري. مسلمان

---

[1] سوره. هود، آيه. ۶۱

ټوله ځمکه د الهی نور مستحقه ګڼي او هغه د اسلام ګڼي. بناءً کله چې ملسمانان یوه ملک او هیواد ته ځي، د هغه ملک او هیواد سرمایه هغو هیوادونو ته، چې دوی ترې راغلي دي، نه انتقالوي. مسلمان ځي، تر څو هلته رڼا خوره کړي، نه دا چې سرمایه غلا کړي. مسلمانان چې هر ځای ته ځي، د هماغه ځای کېږي. تاریخ د دې کار ګواه دی. مسلمانان د آفریقا سواحلو ته لاړل او د هماغه ځای شول. د آفریقا د سواحلو تمدن د جوړښت په حال کې ؤ. ښارونه مخ په پرمختګ ؤ، چې پرتګالیان را ورسېدل؛ د هغه ځای ټول شته یې غلا کړل. هرڅه یې غارت او پرتګال ته انتقال کړل. همدا رنګه مسلمانان هند ته لاړل؛ د انګلیسانو له را تلو وړاندې، د مسلمانانو په حاکمیت کې د دنیا د نا خالصو تولیداتو (GDP) ۳۰ سلنه د هند وه. داکه د اوسني بنګلادېش پلازمینه د منچیستر له ښار نه ډېره صنعتي وه. مسلمانانو په هند کې د تمدن ستري نښانې پر ځای پرېښودې؛ خو کله چې انګلیسان راغلل، دا هر څه یې غلا او چور کړل. د هند صنعت یې لمنځه یوړ؛ د انګلیس له وتلو وروسته د جهان د ناخالصو تولیداتو برخه ۲ سلنه د هند کېدله.

په دې باید اعتراف وکړو، چې مسلمانانو هم تاریخي تېروتنې کړې؛ له ځینې مسلمانو حاکمانو ظلمونه ترسره شوي؛ مسلمان باید خپلې دغه خطاوې ومني، خو د اسلام د تاریخ کلي بهیر د دې ښکارندوی ده، چې مسلمانان چور او چپاول ته نه تلل. ځکه نو که چېرې زموږ د بریاوو وخت هم وای، د غربیانو غوندې به ثروتمندان نه و؛ ځکه موږ د دومره غارت او غلاوو وړتیا نه لرو. که د یو مسلمان په زړه کې، د قرآن یوه ذره هم ځای پر ځای شوې وي، هغه نه شي کولی د آمریکا او آسترالیا د وچو په میلیونونو اوسېدونکي د هغوی د

شتمنیو د غلا کولو په خاطر قتل عام کړي. نه شي کولی، آفریقا د هغوی د سرمایې په خاطر کنډواله او په وینو ولړي. هغه نه شي کولی، منځنی ختیځ د تېلو او نفتو په خاطر، په درواغو او پلمو سره بمباري پرې وکړي. نه شي کولی، چې قاتلې ډلې وروزي او د خپلو ګټو په خاطر عام او ملکي خلک پرې ووژني. نو باید په بدیو کې سیالي ونه کړو، بلکه په ښېګڼو کې باید مخکښي ووسو. زموږ حالت هغه وخت بدلېږي، چې وغواړو خپل دنیوي او اخروي ژوند د قرآني ارزښتونو پر بنسټ لاښه کړو او پخپل ژوندانه کې مادي او روحي آرامتیا بنسټیزه کړو.

دربیمه دا، چې زموږ بریا مشروطه ده. زموږ مقصد دنیا نه ده، چې په غوښتونو یې زموږ په پښو کې وغورځېږي. زموږ بریا په قرآن او د رسول الله ﷺ پر سنتو باندې پر عمل کولو پورې مشروطه ده. **وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَآمَنُوا بِمَا نُزِّلَ عَلَى مُحَمَّدٍ وَهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَبِّهِمْ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَأَصْلَحَ بَالَهُمْ**[۱] **«او کومو کسانو، چې ایمان راوړ او ښې چارې یې سرته ورسولې او دغه (قران) یې ومانه، چې پر محمد ﷺ باندې نازل شوی او د هغو د رب لخوا سر تر پایه حق دی؛ الله یې بدي ایسته کړه او د هغو حالت یې سم کړ».** که چېرې غواړو، چې زموږ وضعیت بېرته بهتره شي، باید خپل اصل ته را وګرځو. باید قرآني ووسو. باید زموږ ظاهري او باطني اعمال د اسلام مطابق وي.

---

[۱] سوره. محمد، آیه. ۲

## د علم او دین تضاد

الفاظ د دوه انسانانو ترمنځ د مکالمې یوه کوچنۍ برخه جوړوي، د مکالمې مهم ترینه برخه د زړونو ترمنځ د اړیکو برقرار کول دي. غوره او خوندوره مکالمه هغه ده، چې الفاظ او قلبي څپې له یو بل سره په همغږۍ کې د یو او بل تصدیقوونکې وي. انسان بیا تل هڅه کوي، تر څو دغه صادقانه مکالمه اوږده کړي .د قرآن د پیر له زړه راوتلې خبرې د ځوان پر زړه مستقیم اغېز وکړ، له همدې امله یې په زړه کښېناستلې، په دې خاطر هغه غوښتل، چې د دغې مکالمې لړۍ وغځېږي. ځوان په لېوالتیا سره خپل بل سوال دا ډول مطرح کړ:

**تاسو د عقل او زړه ذکر وکړ او پوښتنو ته مو په عقلي استدلالونو ځواب ورکړ. غواړم د دین او عقل ترمنځ د تقابل په اړه د تاسو نظر واورم؛ هغه خبرې، چې د کرونا د خپرېدو په ورځو کې هر چېرې په شخصي او عامه مباحثو کې لیدل کېدې. د دین او علم په تقابل کې، کوم یو یې ګټونکی دی؟**

مخاطب ته د ښې زدکړې لپاره مقدمه او شالید ډېر ګټور وي، د قرآن یو شاګرد دا مسله په ښه توګه درک کوي؛ بناءً د قرآن پیر په داسې اسلوب ځواب پیل کړ:

علم ډېر تعریفونه لري، کله چې د معاصرو موضوعاتو په ترڅ کې د دین او علم تر منځ د اختلاف خبرې کېږي، مقصد یې د ساینس او دین ترمنځ تقابل دی. د دین او ساینس ترمنځ د تقابل بحث که څه هم نن سبا په بین المللي

فکري دایرو کې یو ګرم بحث دی، خو په اسلام کې ځای نه لري؛ دغه بحث د رایجې مسیحي ټولنې لخوا په اسلام کې یو را وارد شوی بحث دی. رایج مسیحیت له علم سره په تقابل کې قرار لري. په رایج مسیحیت کې اصلي ګناه د علم کسب کول ؤ؛ ځکه د مسیحیانو په باور، د آدم عَلَیْهِ السَّلام اصلي ګناه د علم له ونې څخه د هغه خوړل و. له همدې امله رایج مسیحیت علم او د علم زده کړه لویه ګناه بلله؛ ځکه خو تر کومه وخته، چې په اروپا کې کلیسا په قدرت کې وه، له علم سره جنګېدل، ساینس پوهان یې وژل او په ډېرې بې رحمی سره یې د علم ستونی نیوه او خپه کاوه یې.

په اسلام کې د آدم عَلَیْهِ السَّلام تېروتنه، د علم ترلاسه کول نه دي. په اسلام کې د آدم عَلَیْهِ السَّلام خطا، د شیطان په وسیله د تل پاتې ژوندانه او بې پایانه ملک د غوښتنې په خاطر د هغه خطا ایستل دي. **فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَانُ قَالَ يَا آدَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَا يَبْلَى**[1] **«خو شیطان هغه تېر ایستی، ورته یې وویل: اې ادمه! تا ته هغه ونه در وښیم، چې په هغې سره تل تر تله ژوند او نه ختمېدونکی سلطنت په لاس درځي؟»**. د مهړن انسان او مهړن مسلمان تر ټولو ستره تشه، همدا ابدیت او د نه ختمېدونکي ملک غوښتنه ده. د دنیا پر هغه څه باندې د بدلولو لپاره هڅې، چې هغسې نه ده، بې ګټې دي؛ تل پاتې او نه فنا کېدونکې. د دنیا په نسبت د قرآن لید او آند دا دی، دنیا لکه څنګه، چې ده باید هماغه شان ورته وکتل شي. قرآن د یوه مرفه او سوکاله ژوندانه ضد هم نه دی. قرآن بیانوي، چې له دنیا څخه ګټه واخله، خو له هغې زیاته تمه مه

---

[1] سوره. طه، آیه. ۹۲

لره، چې پرېشانه کوي دي. **وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الآخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ**[۱] **«کومه شتمني، چې الله تاته درکړې ده، په هغې سره د اخرت د کور جوړولو فکر وکړه او له دنیا څخه هم خپله برخه مه هېروه. احسان وکړه، لکه څنګه چې الله ستا سره احسان کړی دی او په ځمکه کې د فساد ولاړولو هڅه مه کوه؛ الله فساد کوونکي نه خوښوي».** د قرآن په هېڅ ځای کې داسې نه دي راغلي، چې آدم عَلَيْهِ السَّلام دې د علم له ونې څکلي وي، بلکه د قرآن له آیاتو داسې برېښي، چې آدم او حوا عَلَيْهِما السَّلام، له داسې یوې ونې وخوړل، چې د نفس غوښتنې یې لوړولې. بناءً له هغې ونې نه په خوړو سره یې ټول معنوي معصومیت له لاسه ورکړ او د نفس په فعاله کېدو سره یې له خپل بربنډوالي خبر شول. **فَدَلَّاهُمَا بِغُرُورٍ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ**[۲] **«په دې توګه یې په غولولو سره هغه دواړه، کرار کرار خپلې لارې ته را واړول. په پای کې، چې کله هغوی د هغې ونې خوند وڅکه، نو د یو بل په وړاندې یې ستر مات شو او هغوی د جنت په پاڼو سره د خپلو بدنونو په پټولو لاس پورې کړ».**

اسلام له علم سره متضاد نه دی، بلکې قرآن علم یوه الهی ډالۍ ګڼي. **وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا**[۳] **«له هغه وروسته، الله ادم عَلَيْهِ السَّلام ته د ټولو شیانو نومونه**

---

[۱] سوره. القصص، آیه. ۷۷

[۲] سوره. الأعراف، آیه. ۲۲

[۳] سوره. البقره، آیه. ۳۱

**وښودل».** ساینس (علم) د انسان د تفکراتو له بسط او توسیعې نه پرته بل څه نه دی؛ هغه تفکرات، چې د «اسماء کلها» په یادولو سره توسعه پیدا کوي. پر طبیعت او د طبیعت پر قوانینو غور او تدبر، د علم د ودې لامل شوی دی او بیا دغه تفکر او مشاهدات د هستي په نظام کې له تفکر سره یوځای مکرراً په قرآن کې د تأیید وړ ګرځېدلي؛ د بېلګې په توګه: **أَوَلَمْ يَنْظُرُوا فِي مَلَكُوتِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا خَلَقَ اللَّهُ مِنْ شَيْءٍ وَأَنْ عَسَى أَنْ يَكُونَ قَدِ اقْتَرَبَ أَجَلُهُمْ فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ**[۱] **«ایا دې خلکو د اسمان او ځمکې پر انتظام هېڅکله غور نه دی کړی او د خدای له هستونو څخه یې هېڅ شی هم په غرېدلو سترګو نه دي لیدلي؟ او ایا هغوی په دې هم فکر نه دی کړی، چې ښایي د ژوند ددې مهلت د پوره کېدو وخت را نژدې شوی وي؟ ښه نو د پیغمبر له دې اخطار څخه وروسته، بله څه ډول خبره داسې کېدای شي، چې دوی ایمان پرې راوړي؟».** په اسلامي روایتونو کې دا ډول تفکر له عباداتو څخه ګڼل شوی؛ په خلقت کې یو ساعت تفکر له ۷۰ کلونو عبادت څخه غوره دی.

نو پر دې اساس، اسلام هېڅکله د علم په تقابل کې قرار نه دی نیولی او په اسلام کې د دې بحث نویستل تېروتنه ده. علم د مسلمانانو د عباداتو یوه برخه ده. اسلام د علم د ودې او پرمختګ لپاره دی، نه د هغه د مخنیوي لپاره.

که چېرې داسې دی، نو دلته بیا یو سوال را ولاړېږي، چې ولې په اوس عصر کې د مسلمانانو علمي کاروان د نورو خلکو تر علمي کاروان شاته او وروسته

---

[۱] سوره. الأعراف، آیه. ۱۸۵

دی؟ ولې په علم کې د مسلمانانو ونډه کمه ده؟ ځواب دا دی، چې علم د تمدن په بستر سیاسي او اقتصادي ثبات کې وده کوي. لکه څنګه مو چې وړاندې بیان کړل، مسلمانان د خپل تمدني نزول او تمدني فترت په طبعي دوره کې قرار لري. په داسې یوه حالت کې، د خلکو ډېره پاملرنه د تمدني نزول او بې ثباتیو له پایلو سره مقابلې ته وقف کېږي او دوی د ساینس پرمختګ ته لږ وخت لري. خو داسې یوه ادعا، چې مسلمانانو د علم په توسعه او پرمختګ کې لږ ونډه درلودلې ده، یا خو له کوم ناپوهه مغز او یا له کوم متکبر فکر څخه را وځي. علم د انسانانو د ګډ تمدني میراث یوه لاسته راوړنه ده. که چېرې کوم څوک د دې خلاف خبره کوي او هغه یوه قوم او یوه تمدن پورې تړي، یا خو د علم له تاریخ نه نا خبره دی او یا د متکبر فکر محصول دی. (فونتیک) الفباء په فلسطیني فونیشیا تمدن کې پراختیا ومونده، هندي تمدن تر هغه د ګټې اخیستنې له لارې ریاضي ته توسعه ورکړه، یونانیانو کرار کرار فلسفې او نورو علومو ته توسعه ورکړه او همدا راز هر تمدن او خلکو د علم په توسعه کې ونډه واخیسته. وروسته له هغه د اسلامي تمدن په اوج کې، دغه علمي مبناوې په بغداد او نورو اسلامي تمدني ښارونو کې راغونډې شوې او پراختیا یې ومونده. دغه را جمع کړل شوې سرچینې د اسلامي تمدن په مرسته، اروپا ته ولېږدول شوې او کله چې اسلامي تمدن د نزول او اروپایي تمدن د صعود په حال کې ؤ، هغوی له دغو شیانو ګټه پورته کړه او نني پرمختګونه یې په وجود راوړل. کوم علم، چې نن ورځ موجود دی، په ټول بشر پورې مربوط دی، نه په یوه ځانګړي تمدن او یوه قوم پورې.

خو باید د دوه مهمو ټکو یادونه وکړم. لومړی، دا چې علم له اسلام سره په

تقابل کې نه دی، خو دا مانا نه لري چې علم د ځینو مسلمانانو له برداشت سره ټکر نه لري. ځینې کسان، نه یوازې د مسلمانانو ترمنځ، بلکه په ټولو جوامعو کې دي، چې له علم سره دښمني او کرکه لری؛ د اروپا د روښاني د عصر پر مهال په غرب کې لودیتیان[1] یې یو ستر مثال دی. دویم دا، لکه څنګه چې علم د ځینې مسلمانانو له برداشت سره په تقابل کې قرار نیسي، اسلام هم له علم څخه د ځینې برداشت او انګیرونو څخه په تقابل کې قرار نیسي.

یو له هغو برداشتونو، چې اسلام له هغه سره په تقابل کې قرار لري، یوازې په دې خاطر ده، کله چې علم څه ته و نه شي رسېدلی، یوازې په دې خاطر که علم په څه ونه پوهېده او یوازې په دې خاطر، چې علم که څه شی اثبات نه کړل، هغه څه شتون نه لري. علم د پېریانو او ملائکو شتون نه شي ثابتولی، دا په دې مانا نه ده، چې شتون نه لري. اوس د برداشت او انګېرنې په داسې یوه طریقه او طرز کې علم د حق څخه د انکار او ځان لوې ښودلو وسیله ګرځي. **وَإِذْ لَمْ يَهْتَدُوا بِهِ فَسَيَقُولُونَ هَذَا إِفْكٌ قَدِيمٌ**[2] **«څنګه چې دوی له هغه څخه هدایت ونه موندی، له دې کبله اوس به دوی هرومرو ووایي، چې دا خو زاړه درواغ دي».** په دا ډول یوه برداشت کې علم د فرعون مانۍ ګرځي، دا چې موسی ورته د اسمانونو له خدای نه یادونه وکړه، له هامان څخه یې وغوښتل داسې یو قصر

[1] لودایتیان هغه ډله کارګران ول چې په نولسمه پېړۍ کې یې په انګلستان کې د نساجی او اوبدلو په صنعتونو کې کار کاوه. دوی د اعتراض په توګه د اوبدلو ماشینونه ویجاړول. دوی باور درلود چې کارفرمایان په قصدي ډول، د دوکې او چل له لارې، هڅه کوي چې ماشینونه د دوی پر ځای وکاروي او د دوی حقونه او امتیازات له منځه یوسي.

[2] سوره. الأحقاف، آیه. ۱۱

ورته جوړ کړي، چې اسمان ته ورسېږي او که چېرې هلته یې خدای ونه لید، په دې مانا، چې هغه شتون نه لري. په دا ډول یوه برداشت کې علم د حق د نښو د ناپېژندنې او د تکبر سبب ګرځي، مثلاً کله چې روح او روحي تجربيات نه شي اثباتولی، پر هغه باندې باور لرونکي خلک ماشومان ماشوم مزاجه او کم عقلان ګڼي. **فَلَمَّا جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَرِحُوا بِمَا عِنْدَهُمْ مِنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِمْ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ**[1] **«کله چې د هغو پېغمبران ورته له ښکاره دلیلونو سره راغلل، نو هغوی پر هماغه علم وویاړېدل، چې په خپله ورسره ؤ. او بیا په هماغه شي کې راګیر شول، چې ټوکې یې ور پورې کولې».** په دې ډول یوه برداشت کې علم خپل محدودیتونه نه پیژني او له خپلې دایرې نه بهر په سلطه ګرۍ او واکمنۍ لاس پورې کوي.

په اسلام کې علم له طبیعت څخه یوازې مادي ګټه اخیستنه نه ده، بلکه د بشر د مادي او معنوي ګټو لپاره یوه بهتره استفاده ده. پر طبیعت باندې د خدای توب غوندې تسلط نه دی. دغه تسلط او له طبیعت څخه د هغه بالأثره سؤاستفاده، له طبیعت سره د فساد او دښمنۍ یو سبب رامنځته کوي. علم له طبیعت سره د سالمې همزیستۍ د رسېدو لاره ده. هغه علم، چې له طبیعت څخه په متکبرانه توګه په سؤاستفادې پسې دی، نو هغه داسې یو طبیعت په دښمني را ننګوي، چې د انسان په پرتله په میلیونوو کلونو لرغونتیا لري او له مادي پلوه په میلیونونو وارې له انسان څخه ځواکمن دی؛ دغه دښمني بیا د طبیعت خشم او غوسه را پاروي او هغه انسان، چې د طبیعت له خشم سره د

[1] سوره. غافر، آیه. ۱۳

مقابلې توان نه لري، یوه ستره ضربه او زیانویني.

نو بناءً علم د اسلام په تقابل کې نه دی؛ علم ښایي له اسلام څخه د برداشتونو په تقابل کې وي او اسلام ښایي، له علم څخه د برداشتونو په تقابل کې قرار ونیسي. اسلام د تکبر په تقابل کې دی او که چېرې علم متکبر او خدای معرفي شي، د اسلام په تقابل کې قرار نیسي. که چیرې علم له طبیعت څخه د سؤاستفادې یوه وسیله وي، د اسلام په مقابل کې قرار نیسي. که علم د فساد لامل شي، نو د اسلامي اصولو سره مخالفت پیدا کوي. په اسلام کې علم د هستۍ سره د همغږۍ او سالمې ګټې اخیستنې وسیله ده.

## د خبرو (وینا) قدرت

ډېری وختونه هغه انسان، چې د خپلو باطني اندېښنو اورېدونکی وي، نو د آرامتیا د ترلاسه کولو لپاره، محض په داسې یوه احساس سره، چې دی به نور واهي او تش خالي ځوابونه نه اوري؛ نو خپلې باطني اندېښنې را سربېره او د سوال په قالب کې بیانوي. ځوان، چې د قرآن د پیر خبرې جالبې او په زړه پورې موندلې وې، نو د قرآن له پیر سره د خبرو اترو په لړ کې یې ایجاد شوې اندېښنې داسې بیان کړې:

**ډېر وخت مې اورېدلي دي، چې ویل شوي، چوپتیا د علم شرط دی، خاموشي د سترو شخصیتونو نښانه ده، خاموشي د انسان د متانت نښه ده او دې ته ورته خبرې؛ خو تاسې د ماښام له سر نه تر اوسه ماته لګیا یاست، غږېږئ، تر دې چې د تاسو چای څو ځلې پرته له دې، چې وې څښئ، سوړ شو. ایا چوپتیا تل مذمومه ده؟**

ځیرک او هوښیار پیر د داسې یوه ځواب د وړاندې کولو لپاره، چې په ښه توګه د درک وړ وي، د قرآن له اسلوبو استفاده وکړه او وې غوښتل چې د یوه مثال په بیانولو سره موضوع شرح کړي. **تِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ**[1] **«دغه مثالونه موږ خلکو ته د دې لپاره بیانوو، چې (پر خپل حالت باندې) غور وکړي».**

[1] سوره. الحشر، آیه. ۲۱

د محمد اسد په نامه باندې یو کس و. نوموړی له اروپايي يهودانو څخه و. منځني ختيځ ته يې د يوه خبريال په توګه سفر وکړ. بالاخره د اسلامي كلتور او منځني ختيځ د خلکو د ژوندانه په ليدو، مسلمان شو. په منځني ختيځ کې د کلونو ژوند وروسته، هند ته لاړ او بالاخره له علامه اقبال لاهوري سره له ليدو وروسته يې له هغه سره يو ځای کار پيل کړ؛ وروسته له دې، چې هندوستان د انګليستان له استعمار نه آزاد شو او پاکستان له هند نه را جلا شو، هغه د تازه جوړ شوي هېواد، پاکستان تابعيت واخيست او د دغه هېواد له مشهورو ديپلوماتانو څخه شو. سربېره پر دې، هغه د اسلامي نړۍ له فکري سرمايو څخه ګڼل کېږي اود ډېرو اغېزناکو کتابونو ليکلو سربېره يې د قرآن کريم تفسير په انګليسي ژبه هم وليکه. د هغه د ژوند کيسه د ده له خولې نه په هغه کتاب کې، چې ده د «مکې ته لار» تر سرليک لاندې ليکلی، دا ډول خلاصه کېږي:

کله چې په فلسطين کې و، د مسلمانانو لمانځه ته يې پام اوړي. له هغه لمونځ کوونکي، چې هغه ته يې حاجي ويل، پوښتنه کوي، تاسې مسلمانان ولې په عبادت کې خپل بدنونه کښته او پورته کوئ؟ ايا داسې نه ده، چې دين يوه روحاني مسله ده او د خپل ځان په زحمت کې له اچولو پرته او د آرامتيا په يوه حالت کې، په محض روحي تمرين سره عبادت وکړې؟ حاجي چې يو عالم نه دی، په ساده ژبه ورته وايي: زموږ دين د بدن او روح ترمنځ يوه همغږي ايجادوي، زموږ دين د بدن په قيمت، په روحي ترفيع پسې نه دی، زموږ دين د روح او بدن ترمنځ دا رنګه جدايي نه مني... (البته الفاظ دقيق نه دي، موخه يې بيانوم). له کلونو مطالعې او په اسلامي نړۍ کې له سفرونو وروسته، يوه ورځ

زموږ د افغانستان په هزارجاتو کې له يو چا سره مېلمه کېږي.

محمد اسد د مسلمانانو له کم کارۍ او بې کارۍ نه سر ټکوي او وايي: تاسې مسلمانان د بهترینه دين او بهترينه ميراث په درلودلو سره، ولې دومره وروسته پاتې او له علم څخه لرې شوي ياست. کوربه چې د دې يهودي قلبي احساسات ويني، د اسلام وړانديز ورته کوي. محمد ورته وايي، چې لا تر اوسه زما پلټنې نه دي بشپړې شوې، خو د کوربه په ځواب کې داسې يو څه ؤ، چې د محمد اسد په وينا د مسلمانېدو لامل يې کېږي، «ته مسلمان يې، خو په خپله نه پوهېږې»؛ په حقيقت کې محمد اسد د دغه سړي خبرې د هغه د اسلام د قبلولو لامل ګڼي.

د خبرو قدرت او ځواک له هغه څه، چې موږ يې فکر کوو، ډېر لوړ دی. په خبرو سره کولی شو، دنيا آباده او يا ويجاړه کړو. خبرې د بشر له سترو او ځواکمنو وسلو څخه دي. هره خبره، چې د انسان غوږنینه ژبه په اهتزاز کې راولي، حتماً خپل اغېز لري؛ برابره خبره ده، که ويونکی يې احساس کړي او که نه. ښايي هغه فلسطيني حاجي په دې هېڅ نه وي خبر، چې خبرو يې د يوه يهودي په زړه کې له اسلام سره مينه پيدا کړې ده. او ښايي زموږ هغه هېوادوال هېڅکله په دې نه وي خبر، چې د ده لنډې خبرې د هغه يهود مسلمانېدو سبب ګرځېدلې.

هو! زموږ په کلتور او رواياتو کې، پر خاموشۍ باندې ډېر ټينګار شوی دی؛ که څه هم خاموشي د زده‌کړې يوه ستره وسيله ده؛ خو تل يو بهترينه انتخاب نه دی. هېڅکله بايد د خاموشۍ د ځانګړتيا په درلودو سره، د ښې خبرې له ويلو، ډډه ونه کړل شي. ښه خبره تل بايد وکړل شي. موږ په داسې يوه مفهوم

سره حدېث لرو: «له موږ یې (نورو ته) ورسوئ، که څه هم یو ایت وي». دا مهمه نه ده، چې د ښې خبرې پر وړاندې سم لاسي غبرګون څه وي، خو ښه خبره به تل خپل اغېز ولري، که نن وي که سبا او که سل کاله وروسته. هېڅ خبره بې اغېزه نه ده. د ټولنیزو شبکو په عصر کې، د دغې موضوع درک حیاتي دی. په داسې یوه وخت کې، چې ټولنیزې شبکې له فحش، تخریبي، تعصب پاروونکو او فاسدو خبرو ډکې وي؛ باید د ښو او ګټورو خبرو په ویلو کې ونه شرمېږي. که خوښ کړل شي (لایک واخلي) او که خوښ نه شي، که اغېز یې ښکاره وي او که نه وي.

که چېرې کومه د تعصب پارونې یوه خبره ولیدل شوه، باید لس د تعصب ضد خبرې وشي؛ که چېرې یوه ناهیلې کوونکې خبر ولیدل شي، باید لس هیله بښونکې خبرې وشي او... آیا نه دي دې اورېدلي، چې الله تَبَارَک وَتَعَالَی د خبرو اړوند هم داسې فرمایلي دي: **يرِيدُ اللهُ أَنْ يحِقَّ الْحَقَّ بِكلِماتِهِ وَيقْطَعَ دابِرَ الْكافِرِينَ**[1] **«خو د الله اراده دا وه، چې په خپلو لارښوونو سره حق، حق ثابت وښیي او د کافرانو سته وباسي».**

خبره یوه دوه مخې توره ده، یا خو یو ښه اغېز پر ځای پرېږدي او یا بد؛ دا بیا په دې پورې اړه لري، چې څوک دا خبره کوي، څه خبره او څنګه یې کوي. الله تَبَارَک وَتَعَالَی آن له فرعون سره، د نرمو خبرو سپارښتنه کوي. **فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَيِّنًا**[2] **«له هغه سره په نرمۍ خبرې وکړئ».** رښتینې او محکمې خبرې

[1] سوره. الأنفال، آیه. ۷

[2] سوره. طه، آیه. ۴۴

خوښوي، **قُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا**[۱] **«حق او ربښتيني خبر وکړئ»**. او آن د بدو خبرو پر وړاندې نېکې خبرې او نېک ځواب محبت راوړونکی ګڼي. **ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ**[۲] **«ته د بدی مخنیوی په هغې نېکی سره وکړه، چې هغه ډېره ښه وي، (ته به وګورې)، چې ستا سره چې د چا دښمني لوېدلې وه، هغه دې لکه صميمي دوست ګرځېدلی دی»**. د اعظمي اغېز لپاره يوازې د نېکو خبرو کول بسنه نه کوي، بلکه د ويلو څرنګوالی او د الفاظو انتخاب هم مهم دی.

لکه څنګه چې خبرې کول، په جهان کې خپل اغېز پرېږدي، د خبرو اورېدل هم پر انسان باندې لوړ اغېز لري. له همدې امله ده، چې الله تَبَارَک وَتَعَالَی د خپلو غوره بندګانو له ځانګړتياوو څخه يوه ځانګړنه، له بدو او بېهوده خبرو څخه لرېوالی بيان کړی دی. **وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ**[۳] **«او کله چې يې بابېزه خبره واورېدله، نو په دې وينا سره ورڅخه په ډډه شول»**.

د دې انتخاب، چې څه وايو او څنګه يې وايو او څه اورو (لوستلو ته هم شاملېږي)، د دې تعينوونکی دی، چې موږ څوک يو او په په کوم کس باندې د بدلېدو په حال کې يو. اصلا په وينا کې مهم دا دي، کله چې خبرې کوو، آګاهانه خبرې وکړو او له ځان سره دا سوچ وکړو، چې زموږ خبرې نورو ته څه ګټه لري (ليکل هم همدا رنګه دي) او کله، چې اورو او لولو يې، مهمه دا

---

[۱] سوره. الأحزاب، آيه. ۷۰

[۲] سوره. فصلت، آيه. ۳۴

[۳] سوره. القصص، آيه. ۵۵

ده، چې ښنګه یوه موضوع انتخابوو، له چا یې اورو او د چا لولو.

که چیرې تل بې ګټې اورو، بې فایدې لولو، بې فایدې او بېهوده انسان به یو. او که چېرې تل بېهوده خبرې کوو، سره له دې، چې یو بېهوده انسان یو، یو بېهوده انسان جوړوونکی به هم یو.

## شهرت

هر انسان خپلې پټې غوښتنې لري او يوازې يې له هغه چا سره شريک ولی شي، چې د هغه کس له راز دارۍ پوره ډاډمن وي. ځوان، چې د قرآن پير خپل همراز او د راز ساتونکی انګېرلی و، له خپلو باطني احساساتو او اندېښنو يې يوه له پير سره شريکه کړه. هغه راز، چې تر اوسه يې هېچا ته نه ؤ ويلی؛ پير ته يې وويل:

**تاسو له تقوا يادونه وکړه او د تقوا مفهوم زما په زړه کې کښېناست، خو ما تل داسې اورېدلي دي، چې تقوا د شهرت ضد ده، تقوا د رهبريت او رهبر کېدو له غوښتنې سره سمون نه خوري. زه له نوموړکۍ څخه وېرېږم. بې‌نومي ماته په دې ستره نړۍ کې د مطلق يوازيتوب احساس راکوي. کله چې زه ځان نوموړکی تصور کوم، ټوله هستي د ځان پر وړاندې مومم. ايا له دغو غوښتنو سره کولی شم تقوا ته ورسېږم؟**

د قرآن پير وويل: شهرت، د نوم او نښان درلودل يوه غريزه ده؛ قران غرايز نه ځپي، بلکه د هغو د ارضا او پوره کولو لپاره سمه لار ښيي. د غريزو ځپل او ماتول خطرناکه دي. کله چې غريزه وځپل شي، هغه د زړه په تل کې خپه کېږي، دغه فشار او خپه کېدل بلآخره داسې يوه حد ته رسېږي، چې نور نو د فشار ګنجايش نه پکې پاتې کېږي، انفجار کوي او په يوه بله خطرناکه بڼه باندې را څرګندېږي. ځينې بيا دغه تېروتنه تر سره کوي، ترڅو خپل غرايز وځپي؛ خو د حل تر ټولو غوره لاره دا ده، چې غريزه د مجاز په حد کې يې

ارضا کړي، افراط يې د ایمان په وسیله له منځه یوسي. مثلا، د انسان له غرایزو څخه یوه هم جنسي غریزه ده. ځینې بیا د دې لپاره، چې ځان ظاهراً پرهېزګاره او متقي وښايي، خپله دغه غریزه ځپي، چې وروسته بیا د خشم او په نورو بڼو را څرګندېږي. ځینې مذهبي څېرې تل په غوسه او سخت حالت کې وي او ځینې ديني ښوونکي، چې پر ماشومانو تېری کوي، د دې عمل ښکاره بېلګې دي. خو یو مؤمن بیا خپل جنسي غرایز، له مشروع لارې ارضا کوي او د غریزو غیر مشروع غوښتنې د ایمان په وسیله محوه کوي. د تقوا اوج دا نه ده، چې زړه دې له مخالف جنس سره د معاشرت غوښتونکی وي او جسم دې د ریا په خاطر له دې کار نه را وګرځوي؛ د تقوا اوج دا دی، چې زړه دې داسې وروزې، چې له مخالف جنس سره د غیر مشروع معاشرت غوښتنه ونه لري. **وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ**[1] **«تاسې هم له ښکاره ګناهونو څخه ځان وژغورئ او هم له پټو څخه».**

همدا راز، شهرت هم یوه غریزه ده، خو مهمه دا ده، چې ولې او څه ډول شهرت غواړئ؟! کوم شهرت، چې یوازې د شهرت لپاره وغوښتل شي، هغه شهرت لنډمهاله او بې ارزښته دی؛ خو هغه شهرت، چې د یوه ستر کار د ضمیمې په حیث راشي، هغه بیا تل پاتې وي.

د هغه شهرت مثال، چې یوازې د شهرت لپاره غوښتل کېږي، د تفریحي صنعت موډلونه، ځینې رسنیز شخصیتونه او... دي؛ یو موډل تر هغه وخته پورې د خپل شهرت په اوج کې دی، چې جسمي ښکلا يې موجوده وي؛ خو

---

[1] سوره. الأنعام، آیه. ۱۲۰

همدا، چې جسمي ښکلا یې له منځه ولاړه شي، ورو ورو شهرت هم له منځه ځي او له هغه یو نسل وروسته به یې ډېر کم کسان پېژني او څو کلونه وروسته هېرېږي. خو هغه شهرت، چې د سترو کارونو په ضمیمه کې لاس ته راځي، تل پاتې دی؛ فرعون ډېری خلک پېژني؛ ځکه د الله له پیغمبر سره یې جګړه او مشاجره وکړه، د خدایی دعوا یې وکړه، یو ستر شیطاني نظام یې اداره کړ او د بني اسرائیلو قوم یې تعذیب کړ. محمد ﷺ ډېری خلک پېژني؛ ځکه بشریت ته یې له تیارو نجات ورکړ، عدالت یې نړیوال کړ او د رڼایي تمدن یې بنا کړ. او ادیسن هم ګڼ شمېر خلک پېژني؛ ځکه، چې هغه ډېرې اختراعګانې په خپل نوم کړې دي.

له پورته درې ډوله شهرتونو څخه، لنډمهاله شهرت، تلپاتې منفور شهرت او تلپاتې محبوب شهرت دي؛ د درېیم ډول غوښتنه، هېڅ کومه ستونزه نه لري. ابراهیم عَلَیْهِ السَّلام دا ډول دعا وکړه: **وَاجْعَلْ لِي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الآخِرِينَ**[1] **«او په وروسته نسلونو کې، رښتیا نومیالیتوب را په برخه کړه».**

شهرت معمولا له رهبریت سره هم راځي او د الله تَبَارَک وَتَعَالَی د خاصو بندګانو له ځانګړتیاوو څخه یوه دا ده، چې دعا کوي، ترڅو دوی ته د متقیانو رهبریت ور عطا کړل شي. **وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا**[2] **«موږ د پرهېزګارانو امامان کړه».**

بناءً، هم کولی شو شهرت وغواړو، هم رهبري او هم متقیان شو؛ خو

---

[1] سوره. الشعراء، آیه. ۸۴

[2] سوره. الفرقان، آیه. ۷۴

لنډمهاله شهرت نه، بلکه تلپاتې او محبوب شهرت. د دا ډول شهرت په غوښتلو کې په حقیقت کې شهرت نه غواړو، بلکه بزرګي او نېک کېدل، چې ضمیمه یې نېک او تلپاتې شهرت وي. که چېرې شهرت د شهرت لپاره وغواړو؛ نو د شهرت لپاره مو ځان ښودنه کړې او ریا کارۍ ته مخه کوو، که څه هم په لنډ مهاله کې مشهوره کېږو او په اوږد مهاله کې به یې اغېز برعکس وي. خو که مشري او نېک کار کول وغواړو، په ځان مو کار کړی او د بزرګۍ او ښېګڼو په اوج سره به، الله تَبَارَک وَتَعَالَی په ضمیمه کې موږ ته نېک او تل پاتې نوم عطا کوي.

دغه ستر مقام ته د رسېدو لپاره دوه قرآني طریقې ذکر کوم:

لومړی، محسن کېدل، چې مکافات یې نېک نوم وي. **وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ * سَلَامٌ عَلَى إِبْرَاهِيمَ * كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ**[1] **«او د تل لپاره مو د هغه ستاینه په وروستیو نسلونو کې پرېښودله. پر ابراهیم عَلَيْهِ السَّلام سلام دی. موږ نېکي کوونکو ته همدغسې غوره بدله ورکوو»**. په دغه آیت کې الله تَبَارَک وَتَعَالَی بیانوي، چې د محسنینو او نېکي کوونکو بدله او ثواب نېک نوم او نښان دی.

همدا راز د رهبر کېدو او مشهوره کېدو لپاره اغلبا علم او حکمت ته هم اړتیا ده، چې دا په خپله د نېکو انسانانو یوه بله بدله وي. **وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَاسْتَوَىٰ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ**[۲] **«او کله، چې موسی**

---

[1] سوره. الصافات، آیات. ۱۰۸-۱۱۰

[۲] سوره. القصص، آیه. ۱۴

**عَلَيْهِ السَّلام د خپلې ځوانۍ پوره عمر ته ورسېدی او د هغه وده بشپړه شوه، نو موږ حکم او علم ورکړ، موږ نېکانو ته همدغسې مکافات ورکوو».**

دویم کار د بشر د ګټې لپاره دی؛ ځکه د الله تَبَارَک وَتَعَالَی پر وعدې باور لرم، هغه څه، چې په هغه کې د خلکو ګټې وي، تل پاتې کېږي. **مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ**[1] **«کوم شی، چې د انسانانو لپاره ګټور دي هغه په ځمکه کې تم کېږي».**

بناءً، که چېرې په رښتیا هم له نوموړکی څخه وېرېږئ او غواړئ نېک او تلپاتې نوم ولرئ، نېک او محسن کس شه او د خلکو د ګټو لپاره کار وکړه.

د رسول الله ﷺ د حدیث له مخې احسان، چې د مرقات د کتاب خاوند هغه د جبرئیل د حدیث او د ام الاحادیث، ام الجوامع په نامه ذکر کړی دی، دا ډول تعریف کړی دی: «د خدای عبادت کول داسې، چې ګواکي ته هغه وینې او که چېرې ته هغه نه وینې، نو هغه خو تا ویني». یعنې هر هغه عمل، چې موږ کوو، آګاهانه وي او خدای حاضر او ناظر ووینو.

---

[1] سوره. الرعد، آیه. ۱۷

# ارزښتمن‌والی

ځوان چې د قرآن د پیر له ځوابونو خوښ ښکارېده، خپله بله اندېښنه یې دا ډول مطرح کړه:

**ډېری وختونه داسې احساس کوم، چې یوازې او بې ارزښته یم. داسې فکر کوم، چې په دې لویه او سترې هستۍ کې، چې زموږ ځمکه په هغې کې د یوې شګې د دانې هومره هم نه ده، زه پکې کوم خاص ارزښت نه لرم. دغه د بې ارزښتوالي احساس، سکون او آرامتیا را نه اخلي؛ کله کله ټول څه بې مانا کوي او ډېری وختونه ژوند داسې بې ارزښته ګڼم، چې د مرګ هیله را ته راشي. آیا له دغه باطني عذاب نه د را وتلو کومه لار شته؟**

په داسې حال کې، چې په دې نیمه شپه کې د قرآن د پیر په سترګو کې، بې خوبي نه لیدل کېده، خپلې خبرې یې داسې پیل کړې:

انسان یو دوه بعدي موجود دی، چې له تن او روح نه جوړ دی؛ ماده او غیر ماده. کله چې د کوم انسان لید، ټول مادي شي، هستي یو بې نهایته ستر ماشین مومي او په هغه ستر ماشین کې یې خپل رول، د یوه ډېر کوچني فیزیکي موجود په توګه، بې ګټې او بې ارزښته دی. شتون او نه شتون، په یو نامحدود لوی ماشین کې، د یو ناچیزه موجود په توګه بې ارزښته کېږي او ژوند یې بې مانا ښکاري. ځان یوازې احساسوي او د دغه ماشین له غټوالي وېرېږي. د لوی ماشین هر څرخ یې روح ځپي او فشار ورکوي. خو هغه انسان، چې له خپل ځان څخه خبر وي، له خدایه خبر وي او له قرآن څخه خبر وي، په دې

پوهېږي، چې له دې ستري هستۍ نه هم یو ستر روح لري. پوهېږي هغه خدای، چې په دا دومره هستۍ کې نه ځایېږي، خو د ده په غیر مادي زړه کې ځایېږي [د حدیث قدسي مفهوم]. پوهېږي، چې د هستۍ خالق دا هر څه بې موخې نه دي پیدا کړي. **وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَاعِبِينَ**[۱] **«موږ دغه اسمان او ځمکه او هر څه، چې په دې دواړو کې دي، د لوبې په ډول نه دي پیدا کړي».**

د قرآني لید په طرز سره پوهېږي، چې د ده ژوند بې موخې نه دی او بې مانا نه دی. هغه د خپل هدف د پروسې په همغږۍ کېدو کې، له ځان او باطن څخه یې خبرېږي. دغه له ځان خبرېدنه، ده ته دا ور زده کوي، کله چې د هستۍ خالق، دی په دې ستره هستۍ کې په داسې یوه ستره موخه سره پیدا کړی دی، نو بیا یې ژوند دومره با ارزښته دی، چې دغه بې نهایته ستر ماشین به پرته له ده نیمګړی وي. ارزښت یې دومره لوی دی، چې کائنات به تر ټاکلي وخت پورې، پرته له ده زیان منونکي وي. قرآن انسان ته یوازې په نظري توګه د هغه د نړۍ لید، مانا ورکول، ارزښت ورکونه او بدلون تر بحث لاندې نه نیسي، بلکه قرآني سپارښتنې په عملي بڼه هم انسان ته د ارزښت احساس ورکوي او د هغه تر ټولو ستر مثال صدقه او انفاق وي.

وګوره! زموږ په عصر کې یو له هغو مرضونو، چې په جهان کې شایع او خور دی، هغه ځان کم ګڼل دي، چې په دغو ناروغانو کې د ځان وژنې د تحریک لامل کېږي. د بریتانیکا (Britinnica) د دایرةالمعارف مطابق، دغه

---

[۱] سوره. الأحقاف، آیه. ۳

ناروغي په بشپړ او جزي توګه نا خود آګاه او غير شعوري ده؛ يعنې ډېرى ناروغان په خپل وجود کې، د دغې ناروغۍ له شتون څخه خبر نه دي. زه يو ارواپوه نه يم، خو په دې برخه کې زما مطالعات دا څرګندوي، چې د دغو ناروغيو د درملنې، ډېرى لارې چارې، چې په لار اچول کېږي، په دغو ناروغانو کې، د يوې بلې ناروغۍ لامل کېږي، چې هغې ته ځان باور (تکبر) ويل کېږي؛ ځکه د يوې غير شعوري (روحي) ستونزې د حل لپاره، يوه شعوري (محاسبوي) حل لاره وړاندېز کېږي. ځان کم ګڼل، لکه څنګه چې غير روحي لارې چارې يې وړاندېز کوي، د باور د نفى په زياتولو، د نفس په چاغوالي سره نه شو درمان کولى. په دې صورت کې به په تکبر او لويۍ باندې تمام شي.

خو يوه داسې قرآني درملنه شته، چې انسان د هغې درملنې به قالب کې پرته له دې، چې خپل نفس چاغ کړي، په غير شعوري توګه ځان ته ارزښت قائل کېدلى شي. دا درملنه، له نورو سره د مرستې کولو لاره ده. **لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ**[1] **«تاسې نېکۍ ته هېڅکله نه شئ رسېدای، تر څو خپل هغه شيان (د خدای په لار کې) ونه لګوئ، چې تاسې ته ګران وي.» تَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى**[2] **«کوم کارونه، چې د نېکۍ او خدای پالنې دي، په هغو کې له ټولو سره مرسته وکړئ».**

د اروپوهنې څېړنې ښيي، چې له نورو سره مرسته کول، د خوښيو د زياتوالي

---

[1] سوره. آل عمران، آيه. ۹۲

[2] سوره. المائده، آيه. ۲

لامل کېږي. کله چې له نورو سره مرسته کوي، په حقيقت کې په غير شعوري توګه ځان ته ارزښت ورکوي؛ ځکه تاسې دومره مهم کېږئ، چې نور خلک د خپلو اړتياوو لپاره تاسې ته مراجعه کوي او که مراجعه يې وکړه، بيا نو تاسې دومره مهم ياست، چې په دې دنيا کې درته اړتيا احساس کېږي. که چيرې دا مسله، لکه څنګه يې چې قرآن بيانوي، د نفس د چاغولو لپاره استفاده نه شي، صادقانه او د خدای لپاره وي او د اړمنو د ازارولو او پر هغوی باندې په منت او احسان کولو سره پای ونه مومي، نو سره له دې، چې د تکبر او ځان ښودنې سبب نه کېږي؛ بلکه ځان ته د ارزښت ورکونې او تواضع لامل ګرځي.

دا څنګه کېدای شي، چې يو څوک دې قرآني نړۍ ليد ولري، سوال کوونکي ته دې ازار او اذيت ورسوي او پر هغه دې منّت واچوی؛ په داسې حال کې، چې هغه په سوال کولو سره، ده ته ارزښت ورکوي. بايد هغه څوک چې ترې سوال کېږي، د سوال کوونکي مننداوی وي. قرآن کريم په ښکاره او وضاحت سره داسې بيانوي: **لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَ الْأَذَي**[1] **«خپل خيراتونه په احسان بارولو او ازار رسولو، مه خاورې کوئ».** په دې کار سره نه يوازې، دا چې د هغه له اخروي ثواب نه بې برخې کېږو، بلکه هغه باطني اغېز ته، چې زموږ ارزښت يې زياتاوه، هم زيان رسوي او د ځان غټ ښودنې، د کاذبه ارزښت سبب هم کېږي.

الله تَبَارَک وَتَعَالَی فرمايي: هر هغه څوک، چې نېک او صالح عمل تر سره

---

[1] سوره. البقره، آيه. ۲۶۴

کوي، د ځان (د ګټې) لپاره يې کوي. **مَنْ عَمِلَ صالِحاً فَلِنَفْسِهِ**[۱] **«څوک، چې ښه عمل وکړي، د خپل ځان لپاره به ښه وکړي.»**

يو له هغو صالحو اعمالو نه، چې په اسلام کې ډېر ټينګار پرې شوی دی، صدقه او له نورو خلکو سره مرسته کول دي. له نورو سره مرسته کول، که مرسته کېدونکي ته لږ ګټه ورسوي، خو زياته فايده يې مرسته کوونکي ته رسېږي. **مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا**[۲] **«څوک، چې د الله حضور ته له نېکۍ سره راشي، د هغه لپاره لس برابره ثواب دی».**

نو که چېرې له تاسو مرسته وغوښتل شي او د مرستې کولو توان لرئ، د هغه په رد کولو سره د ځان په حق کې مو د سترې جفا مرتکب ګرځېدلي یاست؛ که څه هم دغه مرسته تر کوره د يوه سپين ږيري د غوټې رسول وي، که خپل کوم دوست ته مشوره ورکول وي، که یوه (مالداره او فقير) دوست ته مو پور ورکول وي، که د خپل همکار د کمپيوټر د ستونزې حل کول وي او که کوم بېګانه کس ته ډاډ او صدقه ورکول وي.

له نورو سره په مرسته کولو، سربېره پر دې، چې د نورو خلکو د خوشالۍ سبب کېږي، خپل ژوندانه ته د خوښۍ او نېکمرغۍ د را جلبولو لامل هم ګرځي. د دنيا او اخرت سلامتيا مو تر ډېرې کچې، په دې پورې تړاو لري، چې څومره اندازه ښنونکي (صدقه او ... ورکوونکي) یاست. مالداري د ښنلو لازمه نه ده، بلکه د سخاوت او صدقې ورکړه د تاسې په نړۍ ليد پورې تړاو

---

[۱] سوره. فصلت، آيه. ۴۶

[۲] سوره. الأنعام، آيه. ۱۶۰

لري او قرآن د داسې یوه نړۍ لید سرچینه ده، چې کولی شو د هغې په وسیله ستر شو او ځان ستر (با ارزښته) کړو.

بریالیتوب دا دی، چې یوه با اهمیته ارزښتناکه او له مانا ډک دنیوي ژوند ولرو او له هغه سره یوه غوره اخروي ژوندانه هیله هم ضمیمه وي. بریالیتوب ته د رسېدو لپاره، باید لومړی یوه ښه جهان بیني (ایمان) ولرې، خپل زړه د همدغې جهانبینی یا نړۍ لید په واسطه ډاډمن کړې (د ایمان تقویت) او د بریالیتوب پر وړاندې موانع او خنډونه لرې کړې (جهاد). یو له هغو خنډونو څخه، چې له نورو سره د مرستې او انفاق پر وړاندې بریالیتوب ته د رسېدو په لاره کې شتون لري، هغه بخل دی، چې باید له لارې څخه لیرې او پر وړاندې یې جهاد وشي. **مَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ**[۱] **«کوم خلک، چې د نفس له بخل نه وژغورل شول، همغوی بری موندونکي دي».**

---

[۱] سوره. الحشر، آیه. ۹

## بې وزله او شتمن

زمان ثابت دی، خو د ځينو لپاره په چټکۍ سره تېرېږي. د هغو کسانو لپاره، چې وخت چټک او يا ورو تېرېږي، د زمان او وخت ماهيت بدلون نه کوي؛ خو له زمان څخه د هغوی برداشت او انګېرنه بدلون مومي. کله چې ژوند لذت بښونکی وي او يا د چټک بدلون په حال کې وي، وخت په چټکۍ سره تېرېږي او کله چې انسان د لذت او خوندونو په اوج کې قرار ولري، زمان تقريبا بې مفهومه کېږي؛ ځکه چې د وخت په ګردش هېڅ نه پوهېږي. ځوان چې د قرآن د پير له خبرو خوند اخيست، د زمان د تېرېدو شمېرل يې هير کړي ؤ او د يوه فرصت په لټه کې و، ترڅو خپل بل سوال مطرح کړي؛ بناءً دا چې د قرآن د پير ژبه له خبرو ودرېږي، پرته له دې، چې متوجه شي، نو هغه ته د چای د راوړلو اجازه غواړي او خپل وروستی سوال يې دا ډول مطرح کړ:

**که يو څه ژور فکر وکړو، زموږ د عصر د ايډيالوژيو يوه ستره برخه، د اقتصادي طبقاتو پر محور را څرخي. په کمونېزم کې د پرولتاريا او بورژوا طبقات په ليبرالېزم ــ کپيټلېزم کې مالداره، فقير او متوسط طبقات، د تېرې پېړۍ د دوو واکمنو ايډيالوژيو په توګه، دغه طبقې په مشرح توګه تر څېړنې لاندې ونيولې او تشريح شوې؛ خو بيا هم په کمونيستي يا سرمايه داري نظامونو کې طبقاتي ستونزې د حل وړ نه وې. تاسو خو د همغږۍ، همپالنې او ګډ ژوندانه څخه زيات وايی، آيا د اقتصادونو ترمنځ د همپالنې لپاره کومه طرحه لرئ؟**

د قرآن پير د داسې لنډو جملاتو په قالب کې، چې د مډرن انسان ستونزې يې شرح کولې، په خبرو پيل وکړ: د ثروتمندانو د لويۍ، تفاخر، فساد او ظلم پر وړاندې د مقابلې لپاره، د فقراؤ د ناهيلۍ، بې رغبتۍ او مملوکيت حس، د بشر تر ټولو ستره ستونزه ده. متکبر او خود غرضه ثروتمندان، لکه څنګه چې يو غربي عالم وايي: «دوی داسې فکر کوي، چې د ځان په نسبت کوم برداشت لري، له ډېرو منصفو برداشتونو ښخه دی». بناءً ځانونه يې د خلکو لپاره تصميم نيوونکي انګېرلي دي، ځانونه تر ټولو هوښياران او نور يې کم عقلان ګڼلي، د خپلو کارونو فساد اصلاح ګڼي او تر دې حده د ځان مين ګرځي، چې د خپل نفس په عبادت لاس پورې کوي، له نورو خلکو هم د عبادت تقاضا کوي او د خدای په ځېر عمل کوي.

نن چې دغه متکبر شتمن خلک، د نړۍ د نظم په سمون بوخت دي، په سياسي ډګر کې له خپل لوري د ميليونونو انسانانو وژل يوه عادلانه جګړه بولي او له خپل لوري بيا د يوه تن وژل کېدل نړيوال ناورين ګڼي، په اقتصادي برخه کې د «فقر د نړيوال کولو اقتصادي نظام» په را وستلو او د جهان په غلام کولو، چې د سود (ربا) پر بنسټ ولاړ نظام دی او د بانکدارۍ په محور را څرخي او د جعلي حکمي پيسو په وسيله مهار کېږي، د خلکو د سرمايو په لوټولو بوخت دي او په ميلياردونو انسانانو د څو محدود افرادو د ثروت مند کولو په قيمت او بيپه وږي کوي. په ټولنيز ډګر کې «د پرمختګ لپاره د پرمختګ» فرهنګ ته د ودې ورکولو لپاره يې، د انسان په انفرادي کولو، روباتيک کولو او د يوه پوچ خياله کولو په خاطر يې، په پراخو تبليغاتو لاس پورې کړی دی او د يو داسې نسل د رامنځته کېدو لامل ګرځېدلي، چې

انسانيت يوازې هغه وخت مانا ورته لري، چې د سود او زيان مسله پکې مطرح نه وي، د چاپېريال په ډېکر کې د تنفس وړ اکسېجن، د پرمختګ لپاره د پرمختګ د فرهنګ د ترويج له امله، چې په ډېرو ښارونو کې په پخوانيو کيسو بدل شوي او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې يې د ځنګلونو قطع کولو، يو ناورين رامنځته کړی او د څو ډوله موجوداتو د نسلونو له منځه وړلو سره يې مخ کړې او همدا راز د دوی تکبر، خودغرضي او بې‌رحمي په بر او بحر او د ځمکې په هره برخه کې د فساد لامل ګرځېدلی دی.

له بلې خوا، د بشريت بې وزله او لوی اکثريت، د دې ټول نړيوال فساد پر وړاندې د معقول غبرګون پر ځای نا اميدۍ او نا هيلۍ ته پنا وړې او د دغه حالت د بدلولو پر ځای، چې قدرت يې هم لري، ناشکرۍ ته مخه کړې. نا شکري او نا هيلي د داسې پايلو لرونکې ده، چې د نړۍ له دغه بحراني حالت سره مرسته کوي او د ثروتمندانو پر فساد باندې نور فسادونه ور زياتوي. ناشکري او نا هيلي د دې لامل ګرځي، ترڅو خلک له يو او بل څخه واټن ونيسي، د يو او بل په فکر کې نه وي او له نورو سره د مرستې حس په هغوی کې ومري. نن ورځ ليدل کېږي، په هر هېواد او ټولنه کې، مظلوم فقيران د ظلم او استبداد پر وړاندې د اتحاد او يووالي پر ځای، له يو بل سره اخته دي.

سربېره پر دې، د بريتانيا د اروپوهنې د تحقيق په يوه ژورنال کې راغي، چې «په عام ډول دا منل شوې ده، چې ناهيلي د خپګان له شاخصونو څخه يو دی».

په ښکاره ليدل کېږي، چې خپګان او د هغه بالأثره ځان وژنې، د مډرنې نړۍ له فجايعو څخه ده. مشهور انګليسي مورخ، ادوارد ګيبون ليکي: «له

رضامندۍ نه مغرور او سرخوش یا ناراضي او کرېدلي خلک، نه شي کولی، خپله واقعي وضع په سمه توګه اندازه او وسنجوي». په مډرنه نړۍ کې د ګیبون د خبرو مصداق په آسانۍ او ښه توګه موندلی شو؛ ځکه چې متکبر شتمن، د تکبر او خود غرضۍ د باطني ړوندوالي له امله، د دې په لیدلو قادر نه دی، چې د خپل فساد په خپرولو سره نه یوازې نورو ته زیان رسوي، بلکه خپل قبرونه هم کیندي او له بلې خوا بېوزله خلک ناهیلۍ او ناشکرۍ ته په پناه وړلو سره، له خپل قدرت ناخبره دي چې دا حالت بدل کړي او برعکس د دې فساد د اور د سون توکي هم ګرځي.

قرآن کریم دا حالت ډېر ښکلی بیان کړی دی: **وَلَئِنْ أَذَقْنَا الْإِنسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَاهَا مِنْهُ إِنَّهُ لَيَئُوسٌ كَفُورٌ[1] «او که چېرې موږ انسان ته خپل رحمت په برخه کړو او بیا یې بېرته ورځخه واخلو، نو هغه ناهیلی کېږي او په ناشکرۍ لاس پورې کوي»، وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ نَعْمَاءَ بَعْدَ ضَرَّاءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ السَّيِّئَاتُ عَنِّي إِنَّهُ لَفَرِحٌ فَخُورٌ[2] «او که له هغه کړاو څخه وروسته، چې پرې راغلی ؤ، موږ پر هغه باندې د نعمت خوند څکو، نو وایي زما ټوله بېوزلي ایسته شوه، بیا هغه ډېره خوښي کوي او ویاړي».**

او که چېرې انسان ته له رسېدلي ضرر او زیان وروسته، خوښي، نعمت او منفعت ور ورسېږي، بیا نو وایي: بدي او کړاوونه له ما لرې شوي (ستونزې او مشکلات نور هېڅکله بېرته نه راګرځي؛ بېرته په بې ځایه سرور او غرور کې

---

[1] سوره. هود، آیه. ۹

[2] سوره. هود، آیه. ۱۰

دچاره کېږي)، د دنیا له متاع نه زیات خوشاله، (پر نورو باندې) په ناز او غرور سره چلند کوي.

قرآن کریم سربېره پر دې، چې د فقراؤ له نا امیدۍ او ناشکرۍ او د ثروتمندانو له تکبر او...خبرې کوي، د یوې داسې استثنا یادونه هم کوي، چې په هغې کې حل لاره پرته ده. **إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ**[۱] **«(له دې عیب څخه، چې څوک پاک دي)، نو خو یوازې هغه کسان دي، چې صبر کوي او نېکې کړنې ترسره کوي او د هغوی لپاره هم بښنه ده او هم لوی مکافات».**

قرآن کریم د اوسنۍ نړۍ دېرې ستونزې په درې ایاتو کې، چې له درې کرښو تجاوز نه کوي، خلاصه کړې دي او هغه حل لاره، چې له قوي ایمان سره دین داری ته بېرته راګرځېدل دي، بیان کړې ده. ایمان داسې یو جوهر دی، چې سړي ته د شتمنۍ په حال کې تساهل، تواضع او د فقر په وخت کې صبر، استقامت، بې نیازي او حق غوښتنه ور زده کوي.

شتمني! که لږ یې غوره ووایم، له بریالیتوب او سعادت سره مله شتمني، انسان د هغه د مادي سرمایې یوه اندازه نه تعینوي، بلکه بې نیازي د ثروت د اندازه کولو مقیاس دی. ایمان (سړي ته) بې نیازه توب ور زده کوي.

بې نیازي د دې لامل کېږي، چې شتمن په خپلو شتو مغرور نه شي، خپله شتمني خپل هر څه ونه ګڼي او د خدای په څېر عمل ونه کړي؛ بلکه د شتو او

---

[۱] سوره. هود، آیه. ۱۱

ثروتمندی په حال کې، د فقيرانو لاس نيوی وکړي. **وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ**[۱] **«او د دوی په مالونو کې، د سوالګر او صابر لپاره حق ؤ».**

له ايمان سره بې نيازي د دې لامل کېږي، چې ثروتمندان يوازې د زيات ثروت په لرلو سره، ځانونه له فقيرانو غوره ونه ګڼي او د هغوی درد خپل درد وګڼي، داسې، چې د بې عدالتيو پر وړاندې لاس د فقراؤ په لاس کې ورکړي او په ګډه مبارزه وکړي. بې نيازي د دې لامل کېږي، چې فقيران ثروتمندان له ځانونو بهتره او غوره ونه ګڼي او د بې عدالتيو پر وړاندې د ناهيليو په خاطر سر ټيټ نه کړي او همدا شان د ګډ ژوندانه پر مهال، د شتمنو په مقابل کې خپله کرکه ونه ښيي. قرآن د دنيا په بې ارزښته ښودلو سره، هرې طبقې ته دغه بې نيازي ور زده کوي. **وَمَا هَذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ وَإِنَّ الدَّارَ الآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ**[۲] **«او دغه د دنيا ژوند پرته د يوې لوبې او زړه خوښونې څخه بل هيڅ شی نه دي. د اصلي ژوندانه کور خو د اخرت کور دی. کاشکي دغه خلك پوهېدلی».**

زموږ د عصر ستونزې په ايدولوژيکي قوانينو د حل وړ نه دي، بلکه په ديني اخلاقو سره حل کېږي او دغه ديني اخلاق بيا له قراني ايمان نه پرته، بل څه په غوره توګه نه شي اماده کولی. قرآن د مډرن انسان لپاره يو انتخاب نه دی، بلکه يوازينی انتخاب دی. مډرن انسان دوه انتخابه لري؛ قرآن او فلاح او يا پرته له قرآنه تباهی.

---

[۱] سوره. الذاريات، آيه. ۱۹

[۲] سوره. العنكبوت، آيه. ۶۴

## تکفیر، د جنت او دوزخ ټاکنه

د روح، تن او انسانانو ترمنځ د ګډ ژوند او همغږۍ خبرې کول ډېرې ښکلې دي، خو که چېرې دا خبرې کول، یوازې د خبرو کولو په کچه وي، بیا نو دې ته ورته دي، چې د غروب د ښکلا صفتونه واورې، خو هېڅکله یې ښکلا تجربه نه کړې. ځوان، چې د دغې ښکلا له صفتونو خوشاله او د دغې ښکلا له نه تجربې نا ارامه و، نو له هغه څه نه، چې د مسلمانانو ترمنځ په عمل کې د دغې ښکلا د محقق کېدو خنډ ګرځي، داسې وپوښتل:

**دا څنګه داسې ده، چې د مسلمانانو ترمنځ دا آرام بښونکی ګډ ژوند او همغږي کمه لیدل کېږي؟ څنګه داسې ده، چې مسلمانان سره یو بل منونکي نه دي او د یو بل په جهنمي بللو او تکفیر، تل په خپلو کې په جدل کې دي؟ څنګه هر مسلمان له بل مسلمان سره په مجادله کې قرار لري؟**

د قرآن پیر چې د دغه واقعیت په اورېدو یې د أمت په خاطر درد بیا را تازه شوی ؤ، داسې یې په خبرو پیل وکړ:

ډېر دلایل شته؛ له هغې جملې د څو هغو دلایلو یادونه کوم، چې زما په اند د دې کار لامل ګرځی. ډېری هغه مسلمانان، چې په مډرن عصر کې د نورو قضاوت ته غیر عقلاني لېوالتیا لري، یا هغه نوي متدینان دي، چې د بې خدایۍ پر وړاندې خپل نوی شور او شوق نه شي مهارولی او یا هغه روحانیون دي، چې د عصر په ژبه خبرې نه شي کولی او د خپل قدرت له لاسه ورکولو په حال کې دي.

اوسنی جهان د بدلون په حال کې دی. دغه بدلون که څه هم په ښکاره او ظاهري بڼه کې یې ډېر د پام وړ ګرځي (تمدني تغییر، د قدرت او ځواک تغییر، د نظم تغییر او...)، خو باطني تغییر، چې د انسان په باطن کې د بدلون په حال کې دی، له ظاهري بدلون څخه ډېر مهم دی. مډرن انسان، چې له ژوندانه او هغې فضا، چې له روح او باطن سره په جنګ کې ده، ستړی شوی دی، تېر معنوي ژوندانه ته یوه عجیبه هیله او لېوالتیا لري؛ خو د هغه حافظې دا د تاریخ په توګه ساتلې ده. مډرن انسان یو ځل بیا د دین لور ته راځغلي. داسې یو نسل په راڅرګندېدو کې دی، چې د عصر د بې خدایۍ له ارزښتونو سره په مبارزه کې دی او غواړي، چې په خلاصه غېږه دین خپلې سینې ته نیږدې او جوخت کړي. مسلمانانو هم، یو ځل بیا دین ته د اصلي کلمې په مانا سره مخه کړې ده، دین د یوې متعارفې کلمې په مانا سره ورته بسنه نه کوي، بلکه غواړي د دین یوه حقیقي تجربه ولري او غواړي د همدغې تجربې په قالب کې هغه آرامتیا، چې د بې خدایۍ فضا په واسطه ترې اخیستل شوې، دوباره ومومي. هغه مسلمانان، چې تازه هېر کړی دین په غېږ کې نیسي او کوم کسان، چې تازه اسلام ته را داخلېږي، په لومړیو کې د یوه تند شور او شوق احساس کوي. دغه شور او شوق، د ځینو لپاره خطرناک ثابتېږي؛ ځکه بیا هغه کسان، چې دا شور او شوق نه لري، باطل ګڼي. په همدې شور او شوق سره، په وعظ او دعوت لاس پورې کوي، خو کله چې د هغو کسانو په واسطه، چې له دغو تفسیرونو څخه، چې هغوی ته یې دا شور او شوق ورکړی دی، نور برداشتونه لري، ونه منل شي، غوسه کېږي او خپل مخالفان باطل او په حق کافر ګڼي. دغه شور او شوق، دوی ته دا احساس ورکوي، چې ټوله تقوا نو له

دوی سره ده او یوازې هغه څه حق بولي، چې ده اورېدلي او لوستلي دي او هغه څه چې د ده له لوستلو او اورېدو سره مخالفت ولري، باطل او کفر بولي.

انسان په خپل باور او هویت کې له یوازېتوب څخه وېره لري او کوم روحانیون، چې د عصر په ژبه خبرې نه شي کولی، د بدلون په دې مډرن عصر کې، په خورا نا هیلی سره د دې ننداره کوي، چې متدین او غیر متدین ترې په تېښته دي. دغه روحانیون، چې د یوازېتوب او خپل تاریخي قدرت له لاسه ورکولو په وېره کې دي، د دې پر ځای، چې د دین د معرفي کولو په طریقه کې تغیر راولي او د عصر په ژبه باندې خبرې کول زده کړي او هڅه وکړي چې خپل فهم له دین او عصر څخه زیات کړي، د خپلو ټولو مخالفانو په باطل ګڼلو، تکفیر او تفسیق لګیا دي او هغوی د شیطان لښکرې معرفي کوي او د جهنم مستحق یې ګڼي. دوی چې د یوه مغلق الهیاتي سیستم په پراختیا سره، د خلکو دیني احساسات په ولکه کې لري، نور نو نه شي کولی، چې په نوی نسل باندې دا ومني، چې خدای ته د رسېدو لپاره باید دوی ته مراجعه وکړي او دغه آزادي بیا دوی په ډار کې اچوي، همدا وخت دی، چې په تکفیر او تفسیق پیل کوي.

په دې توګه ځینو دا ډول خلکو او ځینو له همدې فضا څخه د سیاسي او شخصي استفادې له امله، د تکفیر او کفر فرهنګ ته وده ورکړې او د خدای په څېر د قضاوت پر منصب ناست د نورو لپاره د جنت او دوزخ د ټاکلو په لټه کې دي.

یوه ورځ له دغو کسانو یو تن له ما وپوښتل، چې پلانکي عالم، چې داسې او هسې غلط عقاید خپاره کړي دي، د تاسې په اند جنت ته ځي که دوزخ ته؟

ورته ومې ویل: د تا په اند څنګه؟

ویې ویل: سل په سلو کې جهنم ته. ورته ومې ویل، که چېرې د قیامت په ورځ احکم الحاکمین هغه جنت ته ولېږه، نو په کومو سترګو به ورته ګورې؟

پرته له دې، چې په دغې وحشتناکه احتمالي پېښې تأمل وکړي، ویې ویل: دا امکان نه لري.

که چېرې د دارنګه خلکو قضاوت په پام کې ونیول شي، چې الحمد لله قضاوت د دوی په لاس کې نه دی، نو زموږ په عصر کې نیمایي د خلکو د فلاني مذهب په درلودلو سره اهل د دوزخ دي او پاتې اکثریت یې د فلاني او فلاني باور په درلودو سره، د جهنم وړ دي؛ یو زیات شمېر پاتې خلک بیا د فلاني اسلامي ضد عمل په لرلو سره، کافر دي او په پای کې به د دوی په څېر یو کوچنی اقلیت جنتیان وي. خو قران داسې نه وايي.

قران کریم د محشر په ورځ خلک په درې ډلو سره تقسیموي: لومړی ډله سبقت کوونکي، **وَالسَّابِقُونَ السَّابِقُونَ**[۱] **«او وړاندې (نېکیو ته) خو بیا وړاندې (جنت ته) دي»**. دویمه ډله د ښي لاس خاوندان دي، **وَأَصْحَابُ الْيَمِينِ**[۲]. او درېیمه ډله د چپ لاس خاوندان دي، **وَأَصْحَابُ الشِّمَالِ**[۳]. د لومړۍ ډلې اړوند الله تَبَارَک وَتَعَالَی فرمايي: **ثُلَّةٌ مِّنَ الْأَوَّلِينَ* وَقَلِيلٌ مِّنَ الْءَاخِرِينَ**[٤] **«له ړومبنیو**

---

[۱] سوره. الواقعه، آیه. ۱۰

[۲] سوره. الواقعه، آیه. ۲۷

[۳] سوره. الواقعه، آیه. ۴۱

[٤] سوره. الواقعه، آیه. ۱۳-۱۴

** څخه به زیات وي. او له وروستنیو څخه کم»**. او د دویمې ډلې اړوند فرمایي: **ثُلَّةٌ مِنَ الْأَوَّلِينَ * وَثُلَّةٌ مِنَ الآخِرِينَ**[۱] **«هغوی به له لومړنیو څخه لویه ډله وي او له وروستنیو څخه به هم لویه ډله وي»**.

که څه هم په دې اړه، چې ایا له اولین او اخرین څخه ټول بشر دی او که د محمدﷺ أمت؛ د نظر اختلاف دی، خو محمد شفیع عثماني رحمه الله په خپل تفسیر کې دا ډول لیکي: «امام ابن کثیر، ابو حیان، قرطبي، روح المعاني، مظهري او نورو دې ته ترجیح ورکړې ده، چې مراد له اولین او اخرین نه دوه طبقې د همدې أمت (د رسول الله ﷺ امت) دی او اولین د أمت د لومړنیو پېړیو خلک صحابه کرام، تابعین او غیره دي، چې په حدیث کې د هغوی زمانه خیر القرون یاده شوې ده او مراد له اخرین نه، له لومړنیو پېړیو وروسته خلک دي»؛ که چېرې داسې وي، ایا د ډېریو بلکه د اکثریت کابو د ټول أمت په تکفیر او جهنمي ښودلو سره، د قران کریم د فتوا پر وړاندې نه درېږو؟

ایا له دې نه وېرېږو، چې ځانونه د خدای په مخالفت کې ګرځوو؟ ایا له دې نه وېرېږو، چې له الله تَبَارَک وَتَعَالَی نه په وړاندېتوب سره تر سختو پوښتنو لاندې راشو. **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ**[۲] **«اې مؤمنانو! د الله او د هغه د پېغمبر ﷺ په مخکې مه وړاندې کېږئ او د الله څخه ووېرېږئ. الله د هر څه اورېدونکی او پوهېدونکی دی»**.

---

[۱] سوره. الواقعه، آیه. ۳۹-۴۰

[۲] سوره. الحجرات، آیه. ۱

همدا راز الله تَبَارَک وَتَعَالَی د جهنم اړوند فرمايي، چې پرته له بدمرغه او بدترينه د خلکو به په هغه کې څوک نه ورغورځي. **لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى**[۱] **«په هغه (اور) کې د ډېر زيات بد مرغه څخه پرته بل څوک نه سوځي»**؛ دلته ويل شوي دي، چې بدترينه د خلکو جهنم ته ځي، دا نه دي ويل شوي، چې ټول خراب کسان جهنم ته ځي. دلته دروازه تړل شوې ده او ويل شوي دي، هېڅوک جهنم ته نه ځي، مګر بدترينه د خلکو، په داسې حال کې، کله چې الله تَبَارَک وَتَعَالَی د جنت يادونه کوي، دروازې کاملا خلاصې پرېښودې؛ که څېرې موږ د هغه طرف ته ورشو. علاوه له دې، چې الله ﷻ رسول الله ﷺ ته د راضي کولو ژمنه ورکړې ده. **وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى**[۲] **«او ډېر ژر به ستا رب تا ته دومره درکړي، چې ته خوشاله شې»**. الله تَبَارَک وَتَعَالَی د خپلې ژمنې خلاف نه کوي. **إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ**[۳] **«دا باوري ده، چې الله له خپلې وعدې څخه مخالفت نه کوي»** او د يو بل روايت مطابق، چې په تفسير معارف القران کې راغلي دي، رسول الله ﷺ وفرمايل، چې **«إذن لا أرضى و واحد من أمتي في النار»، «کله چې خبر داسې وي، نو تر هغه وخته پورې، چې زما يو أمتي په جهنم کې وي، زه به راضي نه شم»**.

که څېرې مسلمانان قرآن کريم لکه څنګه، چې د هغه وړ ده تلاوت کړي، يقينا چې د مسلمانانو له تکفير نه وړاندې به زر وارې فکر وکړي او په زر

---

۱ سوره. الليل، آيه. ۱۵

۲ سوره. الضحی، آيه. ۵

۳ سوره. الرعد، آيه. ۳۱

واري به احتياط وښاي.

## په جهنم باندې ايمان

امېد واري د عمل کولو، د هڅونې او تشويق سبب کېږي. هغه څوک، چې د جنت هيله منه وي، هغه ته د رسېدو لپاره ډېره هڅه کوي. خو يوه هدف ته د رسېدو هيله منديي، د ناکامۍ له درک او احتياط نه پرته، د يوې خيالاتي ارمان پالنې سبب کېږي او کېدلی شي، له حده زياته د خوش باورۍ او بې پروايۍ سبب وګرځي. له بل پلوه ناهيلي، تنبلي را پيدا کوي او آن هدف ته د رسېدو لپاره، د خلاف کارۍ لامل هم ګرځي. ځوان چې د دغو افکارو د تمرکز او تفکر په واسطه، د زياتې انرژۍ په تحريک سره، دغه افکار په خپل ذهن کې په نڅا را وستلي ؤ، خپل بل سوال يې داسې مطرح کړ:

**د تاسو خبرې هيله بښونکې وې، خو که چېرې جنت ته دومره هيله‌منديي شتون لري او الله تَبَارَک وَتَعَالَی دومره رحيم دی، نو بيا د تاسې نظر د جهنم په اړه څه دی؟ او له جهنم نه بايد وېره شتون ونه لري؟**

د ځوان شوق او علاقمندي د دې پر ځای، چې د قرآن د پير انرژي، چې د بوډاتوب ضعف يې د سترګو له چاپېره تور والي او ګونځو څخه څرګند و، را کم کړي، هغه ته يې لا زيات ځواک او انرژي ورکوله؛ نو بناءً په شوق او رغبت سره يې بيا هم په خبرو پيل وکړ:

بر عکس! زه فکر کوم، چې د اسلامي أمت د انحطاط له عواملو څخه يو هم له جهنم څخه نه وېره ده. مسلمانانو، لکه د ملحدانو او غير متدينانو په څېر، آن مرګ هېر کړی دی، پاتې خو لا جهنم دی. دغه هېره د الهي عذاب او د

جهنم د هېرولو لامل ګرځېدلې ده. د دغه ويرې نه شتون، په اخلاقو او تدين (ديندارۍ) کې د بې پروايۍ لامل شوی.

مسلمانان لکه د اهل کتابو غوندې، د خپل ظلم او فساد لپاره داسې جملات لکه «مورږ به له څو محدودو ورځو پرته په دوزخ کې پاتې نه شو»، د عذر په توګه را وړي. **وَقَالُوا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَعْدُودَةً**[1] **«هغوی وايي: د دوزخ اور به پر موږ هېڅکله ونه لګېږي، خو که څو ورځې سزا راکول کېږي، نو را دې کړل شي».**

الله تَبَارَک وَتَعَالَی د آيت په ادامه کې، د دوی دغه باطله ادعا، چې د هغې له امله له خدای او رسول سره دښمني او همدا رنګه، د الهي کلام تحريف کوچنۍ او کمه ګناه ګڼي، ردوي. **قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِنْدَ اللَّهِ عَهْدًا فَلَنْ يُخْلِفَ اللَّهُ عَهْدَهُ أَمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ**[2] **«له دوی څخه پوښتنه وکړه: ايا تاسو له الله څخه ژمنه اخيستې ده، چې له هغې څخه الله تېرېدای نه شي؟ يا خبره دا ده، چې په الله پورې داسې خبرې تړئ، چې تاسو پرې نه پوهېږئ؟».**

زه په جنت او جهنم ايمان لرم، الهي عذاب حق ګڼم، د دوزخيانو ترمنځ جدال او شخړه، چې يو پر بل باندې لعنت کوي، حق ګڼم او پر هغه ايمان لرم. **إِنَّ ذَلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ**[3] **«بېشکه دا خبره رښتيا ده، په دوزخيانو کې همداسې شخړې کېدونکې دي».**

---

[1] سوره. البقره، آيه. ۸۰

[2] سوره. البقره، آيه. ۸۰

[3] سوره. ص، آيه. ۶۴

د دوزخیانو ترمنځ دغه خبرې اترې او مجادله حتمي او واقع کېدونکې ده. د الهي عذاب پر هغه شدت باندې باور لرم، چې له امله به یې اهل جهنم د مرګ تمنا وکړي. **لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُورًا وَاحِدًا وَادْعُوا ثُبُورًا كَثِيرًا**[1] **«په هغه وخت کې به ورته وویل شي، چې نن یو مرګ نه، ډېر مرګونه وغواړئ».**

خو کوم څه چې زه وایم، هغه دا دي، چې د دغه عذاب د تعیین حق له موږ سره نه دی. موږ دا نه شو ویلی، چې فلانی شخص او یا فلانی قوم به هرو مرو جهنم ته داخل شي. موږ باید خلک پر هغه قضاوت سره، چې واک او اختیار یې نه لرو، د تعذیب په خاتمه باندې محکوم وګڼو، او ناهیلي یې کړو. که څېرې له دغه عذاب نه وېره شتون لري، باید زموږ خپله خاتمه په هغه کې وي. کوم څوک، چې خپل ځان خوندي او نور د هغه مستحق ګڼي، په هغه کې یې د اخته کېدو احتمال ډېر دی او کوم څوک، چې ویره ور څخه لري، د نجات احتمال یې ډېر دی.

لکه د ځینو معذرت ګرایانو په څېر، جهنم د الهي رحمت خلاف نه ګڼم او لکه د بعضو وېره خورونکو په څېر، خپل محور مې تل جهنم نه تشکیلوم. الله تَبَارَک وَتَعَالَی که رحیم دی، عادل هم دی. که چېرې جهنم شتون ونه لري، نو د هغه بې ګناه مقتول خون بها، چې قاتل یې هېڅکله په دې دنیا کې مجازات نه ویني، څه کېږي؟ د مقتولینو او نورو مظلومانو هغو پاتې شویو خپلوانو ته، چې د خپلو عزیزانو قاتلین هره ورځ په عیش او عشرت کې په ناهیلۍ سره ویني، ژوند به څه مانا ولري؟

---

[1] سوره. الفرقان، آیه. ۱۴

د جنت او جهنم له مفهوم نه پرته به دین، دین نه وي. دین نه شي کولی، ژوندانه ته مانا ور وبښي؛ دین، نور خپل عمودي مفهوم او مانا له لاسه ورکوي او لکه د قوانینو په څېر به افقي شي. اخروي ژوندون بې مانا کېږي او دین به کاملا یوې ځمکنۍ ایدلوژۍ ته تقلیل ومومي.

لکه څنګه مو چې وړاندې وویل، انسان د آزادۍ لرونکی دی. د بشر تاریخ د آزادۍ محصول دی. انسان، د دې آزادي لري، چې ګناه انتخاب کړي که ثواب؛ دین انتخاب کړي او که بې دیني او غلط دین. تاریخ د همدغو انتخابونو محصول دی. کله چې انسان ګناه انتخابوي، له هغه نه د منفي آزادۍ تجلي را څرګندېږي او کله، چې ثواب انتخابوي، نو په هغه کې د مثبتې آزادۍ تحقق را ښکاره کېږي. که د جنت او دوزخ تصور نه وي، نو څه به انسان د منفي انتخاب څخه را وګرځوي؟ ډېرې وخت د ازادۍ د منفي مفهوم غوره کول، فردي او لنډمهاله ګټه، د اجتماعي او اوږدمهاله ګټو د زیان لامل ګرځي، نو بیا ولې انسان باید د آزادۍ مثبت مفهوم غوره کړي؟ ایا په دې صورت کې به د بشر تاریخ تیاره ونه پوښي؟

د جهنم او جنت له مفهوم نه پرته به، اخلاق شتون ونه لري. کوم کسان، چې وایي د «اخلاقي انسان جوړېدو لپاره، د جهنم تهدیداتو ته اړتیا نه لیدل کېږي»، دوی ناسمه خبره کوي؛ ځکه همدغه کسان بیا د قانوني کېدو لپاره د پولیسو د تهدید اړتیا حتمي ګڼي.

پرته له شک نه الله تَبَارَک وَتَعَالَی رحیم دی او د اسلامي نړۍ دوه ستر متفکرین، ابن تیمیه او ابن عربي په دې باور دي، چې جهنم به لا یتناهي نه وي، بلکه الهي رحمت به یې پر غضب باندې غالب شي؛ ځکه زموږ درک له

خلود او زمان څخه محدود دی او د جهنم دغه خلود او زمان، به څومره وي، پرته له الله څوک نه پوهېږي. خو د یوه مسلمان په صفت، موږ باید د ځان لپاره له جهنم او الهي عذاب څخه وېره ولرو.

د ښو او نېکو اعمالو د تشویق لپاره، باید تل له بشارت او جنت ته د نږدې کېدو خبرې وکړو او په خپله هم امیدواره اوسو، له ظلم او فساد څخه د لرې والی لپاره، الهي عذاب او جهنم په یاد ولرو او په وېره کې ووسو. د خوف او رجاء ترمنځ تعادل باید موجود وي او دا چې الهي رحمت بې پایان دی، نو زموږ د امېد او بشارت پله د وېرې او وېرې اچونې په پرتله باید درنه وي. الهي محبت، د هغه د بې انتها رحمت په درک کولو سره په وجود راځي او الهي وېره، له قهار والي څخه یې. موږ باید د وېرېدونکي په ځانکړې توګه، د وېروونکي په پرتله باید زیات محب او مینه‌ناک ووسو.

هغه دینداري، چې یوازې د ویرې پر بنسټ وي، متزلزله، بې روحه او بې خونده وي. محض وېره، د ژوندانه خوند اخلي، د ایمان تازګي او ښکلا بدرنګه کوي؛ د یوه آزاده مؤمن پر ځای، د تقلید بندي او اسیر په وجود راوړي؛ د یوه حکیم مؤمن پر ځای، یو احساساتي او کم عقله مؤمن تولیدوي؛ د مؤمنانو قدرت له منځه وړي او د یوه دیني بنسټ قدرت زیاتوي؛ د ټولنیز ژوندانه اداره د پسونو په پوستین کې لېوان په واک کې اخلي؛ د ایمان بې نیازي محوه کوي او متدین هغو انسانانو ته اړ کوي، چې دیني جامې پر تن لري.

بناءً، جهنم حق دی، خو څوک د دې حق نه لري، چې یو کلمه ویونکی دې اهل جهنم وګڼي. موږ د جنت او جهنم مالکان نه یو. له الهي عذاب نه وېره، یو مؤمن درک کوي، خو امېد یې له وېرې زیات دی. مؤمن لومړی بشیر دی،

بیا نذیر دی؛ مؤمن له ویرې نه په استفادې سره، نور خلک ایمان ته را بلي؛ مؤمن ښېګڼو ته په بشارت سره هڅونه کوي او د انذار په وسیله یې له بدیو را ګرځوي.

# په جنت کې د شرابو څښل

د انسان ذهن، محاسب، متکبر او دومره ضدی دی، چې خپل محدودیتونه نه مني؛ د هغو شیانو، چې د درک وړ نه دي، په تجزیې او تحلیل پسې دومره ګرځي، چې ساده شیان هېروي. محاسب ذهن د شاعرانه ویناوو او استعارو په تجزیه او تحلیل باندې په تمرکز کولو، دومره بوخت ساتي، چې د هغه ښکلي او ساده پیغامونه له پامه غورځوي او هېروي يې. د ځوان محاسب ذهن هم، د اخرت د تصور او له مرګ نه وروسته د ژوندانه په تجزیې او تحلیل پسې ؤ او بې حد او حصر سوالونه يې لاندې باندې کول؛ له څو شېبو چوپتیا وروسته، ځوان خپله چوپتیا ماته کړه او لاندې پوښتنه يې وکړه:

**یوه له هغو سترو نیوکو، چې زه يې په اسلام د اخروي ژوندانه په انځورولو کې وینم دا ده، چې هلته د شرابو او پیالو ځای دی، په داسې حال کې، چې په اسلام کې د شرابو سخته منعه راغلې ده. ولې هغه شراب، چې په جنت کې يې ویالې بهېږي، په دنیا کې نجس ګڼل کېږي؟**

د قرآن پیر، هغه خواږه چې په خوله کې درلود، د چای یوه تازه غوړپ سره تیر کړل او خبرې يې پیل کړې:

هغه کسان، چې د اخروي ژوندانه لپاره هېڅ تمه نه لري او هغه کسان، چې د خپلو اعمالو محاسبه کوي او پوهېږي، که د آخرت ژوند وي، نو دوی د هغه په سپین اړخ کې د درېدو فرصت نه لري او دوی د دنیا له ژوند څخه دومره غافل دي، چې خپل ځان او اعمالو ته د بدلون هېڅ مجال او چانس نه ورکوي؛

تر څو خپل اعمال سم او سیده کړي، تل هڅه کوي، تر څو د آخرت د ژوندانه په ردولو سره له دې لارې خپل باطني اور مړ کړي. دوی د اخروي ژوندانه د وجود په رد او شک اچونې پسې وي، تر څو خپل هغه باطني اوازونه، چې د اخروي ژوندانه له شتون خبر ورکوي خاموشه کړي. د دې لپاره، چې ځان په دې باوري کړي او خپل باطن مطمئنه کړي، چې دوی په دې عقیده کې غلط نه دي او دا یوازې دوی نه دي، چې دا عقیده لري، له خلکو سره د اخرت په انکار کې شکونه او محسابوي دلیلونه شریکوي او هڅه کوي، چې هغوی هم د آخرت ردولو ته مجبور کړي او خپل باطني ځواک ته یوه قوي صورت دعوا وړاندې کړي. خو د پرلپسې هڅو او د یوې قوي صورت دعوا له ترتیب سره سره، نه شي کولی خپل باطني غږ خاموشه کړي، نو تل په شک کې باقي پاتې کېږي، پرله پسې داخلي جګړه ورته ځوروونکې کېږي نو بالاخره دا یوازینی حل ویني، چې د خپل باطن سترګې پټې کړي او ځان ړوند کړي. **بَلِ ادَّارَكَ عِلْمُهُمْ فِي الآخِرَةِ بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ مِنْهَا بَلْ هُمْ مِنْهَا عَمُونَ**[1] **«بلکه د اخرت علم خو له دغو خلکو څخه بېخي ورک شوی دی، بلکه دوی د هغه له پلوه په شک کې دي، بلکه دوی له هغه څخه ړانده دي».**

دا ډول خلکو ته دلایل مؤثره نه دي او د هر دلیل په مقابل کې یو بل محاسبوي دلیل راوړي. د آخرت د ژوند بشپړ تصور د انسان لپاره ناممکن دی.

نه د انسان عقل د هغې د ابعادو د تحلیل او تجزیې وړتیا لري او نه ژبه

---

[1] سوره. النمل، آیه. ۶۶

دومره پراخه ده، چې وکولی شي، یوه مافوق الطبیعي نړۍ بیان کړي. د مثال په توګه، که چېرې د یوه دوه بعدي موجود پر وړاندې، په یوه دوه بعدي سطح کې یو کاغذ قرار ولري او موږ هغه ترې پورته کړو او وروسته بیا له هغه موجود نه وپوښتو، چې کاغذ څه شو؟ هغه موجود، چې د درېیم بعد تصور نه شي کولی، هېڅکله نه شي ویلی، چې په درېیم بعد کې پورته یوړل شو؛ ځکه هغه نه د ارتفاع د بعد تصور کړی دی او نه به د هغه په ژبه کې داسې الفاظ وي، چې د لوړوالي په نوم یو څه تشریح کړي او یوازینی ځواب، چې هغه ورکولی شي، وبه وایي، چې یوې نامعلومې دنیا ته غایب شو. همدا راز، د یوه یو بعدي مکان څنډې ټکي دي او د یوه دوه بعدي مکان څنډې بیا خطونه او کرښې دي، چې د نقطو له اتصال څخه په وجود راغلې او د یوه درې بعدي مکان څنډې سطحې دي؛ اوس که چېرې له انسان څخه د یوه درې بعدي موجود په حیث، له یوه څلور بعدي مکان څخه، چې څنډې یې مکعب او یا مکعب مستطیلې وي، وپوښتو، نو هغه نه د هغو د تصور لپاره کوم ذهني ځواک او قدرت لري او نه د هغه د تشریح لپاره ژبه.

اخروي ژوند په بله نړۍ او په یوه بل بعد یا اړخ کې ده او د اخرت د ژوند ټول ابعاد د انسان له درک پورته دي. دا د عقل پر بنسټ نه درک کېږي او نه په عامه ژبه توضیح کېدای شي. د زړه په واسطه پر هغه ایمان را وړل کېږي او د یوې شاعرانه او استعاروي ژبې په واسطه، د هغې نښانې بیانېږي او د یوې معنوي تجربې په وسیله، د هغې د لذت او عذاب یو څه احساس او درک کېږي. بناءً، موږ نه شو ویلی، چې اخروي ژوند څرنګه دی او د جنت شراب څنګه دي؛ خو د قرآن په ژبه یوازې دا ویلی شو چې دا څرنګه دی، یا کومې

نښې لري.

د اخروي ژوندانه له نښانو څخه یوه دا ده، چې هلته د انسان صحت د دنیا په معنا نه بدلیږي؛ نه زړېږي، نه ناروغه کېږي، نه مري او نه کمزوری کېږي. دا ثابته شوې ده، چې دنیوي شراب زیان رسوي او د انسان بدن ته نقصان رسوي. بناءً، د دغو دوه شرابو یو شان ګڼل غیر منطقي او غیر عقلاني دي.

د هغو شرابو ساقي، الله ﷻ دی او د دې تصور کوم څه، چې الله ﷻ د رحمت په توګه خپلو بندګانو ته ورکړي، هغه دې د دنیوي شرابو د ناپاکۍ او ککړتیا لرونکي وي، د الله نه معرفت او د هغه سبحانه وتعالی په وړاندې یوه ستره بې احترامي ده. **وَسَقَاهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا**[1] «**او د هغو رب به وربانديې ډېر زیات پاک شراب وڅښي**».

دنیوي شراب د عقل د زوال لامل ګرځي او د لغو او بېهوده او بابېزه خبرو لامل کېږي؛ په داسې حال کې، چې جنت د پوره معنوي معصومیت د تحقق ځای دی او هلته د بېهوده کارونو لپاره مجال نه شته. **يَتَنَازَعُونَ فِيهَا كَأْسًا لَا لَغْوٌ فِيهَا وَلَا تَأْثِيمٌ**[2] «**هلته به هغوی (د شرابو) پیالې یو له بله ژر ژر اخلي، چې نه به پکې بابیزه خبرې کول وي، نه بدعملي (نه به د ګناه نسبت ورسره مل وي)**».

د دنیا شراب بد خونده او د هغو د خوړلو شوق د ژوندانه له حقیقت نه فرار او تېښته ده، په داسې حال کې، چې جنت داسې یو ځای دی، چې هلته د

---

[1] سوره. الانسان، آیه. ۲۱

[2] سوره. الطور، آیه. ۲۳

ژوندانه له حقیقت څخه په پوره مانا خوند اخیستل کېږي. **وَأَنْهَارٌ مِنْ خَمْرٍ لَذَّةٍ لِلشَّارِبِينَ**[۱] **«د داسې شرابو ویالې به پکې وي، چې د څښونکو لپاره به لذت بښونکې وي». بَيْضَاءَ لَذَّةٍ لِلشَّارِبِينَ**[۲] **«ځلانده، رانه شراب، چې د څښونکو لپاره به خوندور وي».**

کوم کسان، چې په دا ډول شبهاتو او طعنوي الفاظو سره، لکه «جنت د نشو او شرابو ځای دی» غواړي اخروي ژوند تر پوښتنې او سوال لاندې راولي، دوي یوازې د خپل زړه براس او غوسه تخلیه کوي او د حق په اورېدلو پسې نه دي. همدا راز هغه مسلمان، چې غواړي په عبادت سره د شرابو خپلې دنیوي هیلې، د آخرت لپاره زېرمه کړي، لا تر اوسه یې معنوي، ایماني تجربه نه ده ترلاسه کړې. که چیرې له هغو پاکو شرابو څخه یو څه درک هم موجود وي، دا هم په هغو مومنانو کې دی، چې په دې دنیا کې یې په الهي معرفت سره، له هغو خوند څکلی دی او کله نا کله په شاعرانه الفاظو سره له هغو نه خواږه حکایتونه کوي؛ خو ژبني محدودیتونه او محاسب ذهن، د هغه اړوند د غلط فهمیو لامل کېږي او هغه د دنیوي شرابخورۍ په شوق سره په اشتباه کې نیسي.

[۱] سوره. محمد، آیه. ۱۵

[۲] سوره. الصافات، آیه. ۴۶

## مذموم او ممدوح سوال

د انسان ذهن داسې جوړ شوی دی، چې د معلوماتو تنده لري او د معلوماتو د تر لاسه کولو یوه غوره لاره پوښتنه او سوال کول دي. یوه پوښتنه د بلې پوښتنې لامل کېږي او په دې توګه د پوهې لپاره د انسان تنده تل په څپو کې وي. د انسان د پوهې عمق د هغه د پرله‌پسې پوښتنو د ځوابونو د را غونډولو په حد کې دی. پوښتنه د زده‌کړې سبب، د وړتیا، د معلوماتو د اتصال لامل او متعاقبا نتیجه ګیرۍ، د تجزیې او تحلیل سبب او بالاخره د یوه ښه درک لامل ګرځي.

مخکني سوال ته د قرآن د پیر ځواب، د ځوان لپاره داسې یو احساس ایجاد کړ، چې له مخکنۍ پوښتنې یې دومره راضي او خوښ نه ښکارېده؛ له همدې امله یې په دوه زړه توب او دا چې ژبه یې بنده بنده کېدله، خپل ورپسې سوال وپوښت:

**داسې ښکاري، چې زما له لومړۍ پوښتنې نا راضه شوې. د تاسو په خبرو کې مې تیز والی احساس کړ، چې زموږ د نن شپې د اوریدو خبرو اترو په اوږدو کې بې ساری برېښېده. آیا د هغه څه اړوند، چې غیر قابل درک دي، پوښتنه کول مذمومه (بد کار دی) ده؟ آیا د خپل ذاړ لپاره نه شو کولی له هر څه، آن له خدای څخه وپوښتو؟**

د قرآن پیر په داسې یوې نرمې موسکا سره، چې د ځوان د مایوسی د لرې کولو زیری پکې ؤ، خپله خوله د خبرو لپاره خلاسه کړه:

له سوال او پوښتنو یوازې هغه څوک زړه تنګي کېږي، چې باور يې متزلزل او ناپایدار وي. زما دین، زما ایمان او باور پوښتنه تشویق او هڅوي. زما دین په داسې بې‌ثباته پایو نه دی ولاړ، چې په پوښتنو دې متزلزله شي. د مسلمان فکر تل په یوه تهاجمي حالت کې قرار لري او په خلاصه غېږه، او له خپلو فکري مخالفینو سره مقابله کوي.

وړاندې له دې، چې د سوال کولو د ماهیت اړوند خبرې وکړم، یوه واقعي بېلګه درته وایم؛ یوه ښځه یوه مشهور عالم ته راځي او ورته وايي، چې زه د اسلام په حقانیت کې هېڅ کوم شک نه لرم، خو یوه موضوع تل زما باور ګډوډوي او هغه دا، چې محمد ﷺ ولې له یوې ځوانې انجلۍ سره واده وکړ؟ عالم خپل ځوابونه وايي، خو د مسلمانې مېرمنې زړه لا هم نه ډاډمن کېږي. هغه د خپل دغه بې‌ځوابه سوال له امله، له یوه دننني جګړې سره لاس او ګرېوان ده، تر دې، چې د رسول الله ﷺ ښار ته يې سفر کېږي. هلته رسول الله ﷺ په خوبویني او هغې ته داسې یو ځواب ورکوي، چې زړه يې آرام مومي. یوه ورځ دوباره له هغه عالم سره ملاقات کوي او ورته وايي، چې همدا اوس مې زړه مطمئن شو.

عالم ورته وايي: سبحان الله! دا ځکه چې ته د زړه له اخلاصه د ځواب په لټه کې وې، چې په صادقانه توګه دې خپل ځواب تر لاسه کړې.

وګوره! پوښتنې ډېر ډولونه لري، خو زه دلته د درې ډوله پوښتنو یادونه کوم؛ د پوهې د ترلاسه کولو لپاره صادقانه پوښتنې، د بل لوري د ننګونې لپاره تعصبي پوښتنې، د فکر او عقل هڅوونکې پوښتنې.

ډېری خلک په داسې حال کې یو سوال کوي، چې لا له وړاندې يې ځواب

ورسره وي او که چېرې مقابل لوری داسې يو ځواب ورکړي، چې د ده له شته ځواب سره سمون ولري، نو خوشاله کېږي او هغه نازوي، خو که ځواب يې د خپل شته ځواب مطابق تر لاسه نه کړ، ډېرى مغرض پوښتونکي پوهېږي، چې همداسې به شي، نو څو بعدي سوالونه او څو طعنه‌اميزې جملې، چې لا له وړاندې يې له ځانه سره اماده کړې دي، د مقابل لوري د رد او يا د هغه د استهزاء لپاره وړاندې کوي. د دې ډول خلکو موخه دا نه ده، چې خپلو پوښتنو ته دې ځواب ومومي، بلکه د بحث ګټل يا د مقابل لوري ماتول او استهزاء وي. که د بل لوري ځواب منطقي او سم هم وي، دوی ته د منلو وړ نه دی؛ ځکه چې دوی د ځواب ورکوونکي خبرو ته ځانګړې پاملرنه نه کوي او دې ته انتظار باسي، چې د ځواب ورکوونکي خبرې پای ته ورسېږي او دوی وکولی شي، هغه جملات، چې دوي له وړاندې تيار کړي، وړاندې کړي.

پوښتنه کول مذموم نه دي، بلکه ممدوح او ښه وي، خو د پوښتونکي فکر او د پوښتنې کولو تګلاره مذمومه او بده ګرځوي. ان په ځينو ځانګړو مواردو کې، کېدای شي يوه مغرضانه پوښتنه ممدوح او ښه وي، خو د پوښتونکي مقصود نهايتاً اهم او حياتي دی؛ صداقت او خير غوښتنه او يا تکبر او بد خواهي. په قرآن کريم کې د صادقانه پوښتنو دوه ډېرې ښکلې بېلګې شتون لري، چې د پوښتنو لپاره د دغې الهي معجزې د خلاصې غېږې ښکارندوی دي.

د بشريت او توحيد امام ابراهيم عَلَيْهِ السَّلام له الله تَبَارَک وَتَعَالَی څخه

پوښتنه کوي: **وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَى**[۱] **«او هغه وخت (یاد کړه)، چې کله ابراهیم عَلَيْهِ السَّلام ویلي وه: زما څښتنه! ماته راوښایه، چې ته په څه شان مړي ژوندي کوې؟».**

الله تَبَارَک وَتَعَالَى له ابراهیم عَلَيْهِ السَّلام نه وپوښتل: **أَوَلَمْ تُؤْمِنْ؟**[۲] **«(الله وویل): ایا ستا پرې ایمان نه شته؟».**

ابراهیم عَلَيْهِ السَّلام په ځواب کې وفرمایل: **بَلَى وَلَكِنْ لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِي**[۳] **«هغه عرض وکړ: ایمان لرم، خو د زړه ډاډګېرنه غواړم».**

همدارنګه د حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلام یارانو او یا د دوي په خپله ژبه، چې انصار الله دي، له حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلام وپوښتل: **إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَنْ يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِنَ السَّمَاءِ**[٤] **«(د حواریانو په لړ کې) دا پېښه هم په یاد لره، چې کله حواریانو وویل: اې عیسی بن مریم! ایا ستا رب پر موږ له اسمانه د خوړو یو دسترخوان راکوزولی شي؟».**

حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلام ورته وویل: **اتَّقُوا اللَّهَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ**[٥] **«نو عیسی عَلَيْهِ السَّلام وویل: د الله څخهووېرېږئ، که مؤمنان یاست.»**

هغوی په ځواب کې وویل: **نُرِيدُ أَنْ نَأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُنَا وَنَعْلَمَ أَنْ قَدْ**

---

[۱] سوره. البقره، آیه. ۲۶۰

[۲] سوره. البقره، آیه. ۲۶۰

[۳] سوره. البقره، آیه. ۲۶۰

[٤] سوره. المائده، آیه. ۱۱۲

[٥] سوره. المائده، آیه. ۱۱۲

**صَدَقْتَنَا وَنَكُونَ عَلَيْهَا مِنَ الشَّاهِدِينَ[1] «هغوی وویل: موږ یوازې دومره غواړو، چې له دې دسترخوان څخه خواړه وخورو او زموږ زړه ډاډه وي او موږ ته څرګنده شي، چې تا چې موږ ته څه ویلي دي، هغه رښتیا دي او موږ ور باندې شاهدان اوسو.»**

د قرآن په هېڅ ځای کې دا نه دي راغلي، چې دغه پوښتنې د ابراهیم عَلَيْهِ السَّلام او د حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلام د حواریونو د ایمان او مرتبې د را ټیټولو لامل ګرځېدلې وي؛ خو په زړه پورې دلته ده، چې دواړه د خپلو سوالونو پوښتلو لپاره، یوه توجېه بیانوي؛ د زړه ډاډ. دا پوښتنې په دې خاطر نه وې، چې هغوی دې له ځان سره له وړاندې شته ځوابونو ته د هغه ځواب په پرتله، چې دوی یې تر لاسه کوي، ترجیح ورکوي. په دې خاطر ؤ، چې خپل ایمان زیات او قوي کړي. په دې خاطر یې پوښتنې وکړې، ترڅو هغه حقیقت، چې دوی منلی دی، د سر په سترګو وګوري او دغه لیدنه او مشاهده د الله تَبَارَک وَتَعَالَی د عبادت لپاره د دوی محبت زیات کړي. د دې لپاره ؤ، چې د حقیقت تل ته ورسېږي، نه د دې لپاره، چې خپل ذهني حقیقت ثابت کړي. په دغو پوښتنو کې صداقت او د حق لپاره تنده لیدل کېږي، نه د خپل ذهني حقیقت د ثابتولو لپاره تکبر.

له همدې امله، هغه پوښتنې، چې حقیقت ته د رسېدو او یا د فکر د هڅولو لپاره وي، د حق په وړاندې له عقلي عاجزۍ څخه ډکې وي او له ذهني غرور څخه پاکې وي؛ تل د ستاینې وړ وي، خو مؤمن په نېک ګومان سره، ټولو

---

[1] سوره. المائده، آیه. ۱۱۳

پوښتنو ته رسيدګي او پاملرنه کوي. يو مؤمن پوهېږي، چې د نورو له قلبي احوالو خبر نه دی. پوهېږي، چې د حق خبر د هغو کسانو لپاره، چې د حق لور ته ميلان لري او خپله ايماني ورتيا يې نه ده وژلې، کېدلی شي، ګټور وي. **وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرَى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِينَ[1] «البته نصيحت کوه؛ ځکه چې نصيحت د مؤمنانو لپاره ګټور دئ».**

قرآن نه يوازې دا، چې د پوښتنو هرکلی کوي، بلکې په خپله په ځينو پوښتنو سره، چې کولی شو، هغه د عقل هڅوونکي سوالونه وګڼو، له انسانانو څخه بېلابېلې پوښتنې کوي. قرآن د عقل په چوپ کولو پسې نه دی، بلکه د عقل په فعاله کولو سره غواړي، انسان حق ته ورسوي. په سراسر د قرآن کې، له داسې سوالونو سره مخ کېږو، چې عقلونه يې هدف ګرځولي دي او د هغو په فعاله کولو او تحريک او هڅونې پسې دی. **مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ[2] «پر تاسې څه شوي؟ څنګه حکم صادروئ!»**، **فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ[3] «نو د مخلوقاتو د پالونکي الله په باب، ستاسې څه ګومان دی؟»**، **وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ[4] «ښه نو څه دليل دی، چې تاسې هغه څه ونه خورئ، چې پر هغه د الله نوم اخيستل شوی وي»**، **أَمْ لَكُمْ أَيْمَانٌ عَلَيْنَا بَالِغَةٌ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُونَ[5] «يا نو، ايا ستاسې لپاره پر موږ د قيامت تر ورځې پورې، څه**

[1] سوره. الذاريات، آيه. ۵۵
[2] سوره. الصافات، آيه. ۱۵۴
[3] سوره. الصافات، آيه. ۸۷
[4] سوره. الأنعام، آيه. ۱۱۹
[5] سوره. القلم، آيه. ۳۹

داسې ژمنه او تړون ثابت دی، چې تاسې ته به هماغه څه وي، چې حُکم یې تاسې صادروئ؟».

## ايډيالوژيکي جګړه

ستري جګړې د لومړۍ مرمۍ يا د لومړي غشي په ويشتلو او يا د وينې د لومړني څاڅکي په تويولو سره نه پيل کيږي؛ بلکې هغه مهال پيليږي کله چې يوه ډله د ښه ژوند لپاره له بلې ډلې څخه بېل او متفاوت تعريف وړاندې کړي. د ليبراليزم او کمونيزم جګړه هغه مهال پيل نشوه چې شوروي اتحاد د ليبرالي نړۍ ګټې په خطر کې په اچولو پيل وکړ؛ بلکې هغه مهال پيل شوې چې کمونيزم د ليبرال او کپيټاليزم د تعريف په پرتله له ښه ژوندانه يو متفاوت تعريف وړاندې کړ، دغه راز د اسلام او نورو ايډيولوژيو جنګ د حادثاتو په واسطه پيل نشو. دغه جګړه د هغوی له ارزښتونو سره د اسلام په مخالفت سره پيل شوې دی او تر هغه پورې به دوام ولري چې د هغوی متفاوت تعريفونه موجود وي، د دغو سترو جګړو ګټل او بايلل په دې پورې تړلي دي چې کومه ايډيالوژي په غوره توګه خپل تعريف وړاندې کوي او په عمل کې ښودلی شي چې يو ښه ژوند په ارمغان راوړي.

ځوان يو څه عملی ډګر ته راغی او د دين له عملي اړخ او بُعد څخه يې وپوښتل:

**ويل کيږي چې اسلام يو کامل او پوره دين دی؛ خو بيا ولې دغه کامل او حق دين د نيمګړو ايډيالوژيو پر وړاندې بايلودونکی معلوميږي؟ ولې ځينې خلک او حتی مسلمانان له متدين کېدو څخه وېره لري؟**

د قرآن پير چې د ډېرو کښېناستلو له امله پخپلو پښو کې يو څه درد

احساساوه، له ځایه پورته شو، په قدم وهلو یې پیل وکړ او په داسې حال کې چې ورو ورو یې پل اخیست داسې یې په خبرو پیل وکړ:

له شکه پرته چې اسلام یو کامل دین دی؛ خو له کامل‌والي څخه د مډرنو مسلمانانو درک د ایډیالوژیکي جنګ د بایللو لامل شوی دی. له کامل‌والي څخه د مسلمانانو درک دا دی چې اسلام هرې پوښتنې او سوال ته له وړاندې تیار کړل شوی ځواب لري. کله چې ډېری مسلمانان وایي دین کامل دی داسې یې څرګندوي چې دین یو پوره دایرة المعارف دی او د هرې موضوع اړوند به تیار او آماده ځوابونه وړاندې کړي. د بېلګې په توګه، برداشت داسې دی که چېرې ووایی چې اسلامي حکومت، دین به ښایي درته ووایي چې اسلامي حکومت باید د څو وزارتونو، څو معینیتونو او ریاستونو لرونکی وي او دغه تشکیلات که چېرې د اسلام مطابق وو حلال دی او که نه وو حرام دی. بناءً مډرن مسلمان هڅه کوي تر څو هر څه د حلال او حرام په دایره کې ځای پر ځای کړي؛ مباح شیان د مډرنو مسلمانانو په نزد غیر دیني دي. په دې بهیر کې، مډرن مسلمان یو ډېر پېچلی او بې‌نهایت ستر د حلالو او حرامو سیستم جوړ کړی دی چې باید د یوه ښه ژوندانه لپاره هغه ټول رعایت شي. د مډرنو مسلمانانو په منځ کې د دین د کامل‌والي په اړه داسې یوه نظریه رواج شوې ده؛ که چېرې په هغه کې د هرې ستونزې لپاره د حلال او حرام ځواب نه و؛ نو د دین کامل‌والی تر پوښتنې لاندې راځي. داسې یوه نظریه چې په هغه کې هره موضوع له دین څخه وپوښتل شي او دا چې دین کامل دی باید د حلالو او حرامو ځواب ورته ورکړي؛ مثلا: ځینې دا پوښتنې کوي چې په لستوڼو کې کفک ورکول د دین له نظره حرام دی او که حلال؟ دا چې نظریه پر دې ده

چې اسلام د یوه کامل دین په حیث باید ځواب ولري، ځینو هغه حرام ګرځولی دی. همدا راز په زرګونو مثالونه شته چې یو مسلمان د داسې یو څه د حلالوالي او حراموالي په اثبات کولو لګیا دی چې الله ﷻ او رسول الله ﷺ د هغه د حلالوالي او حراموالي اړوند څه نه دي ویلي؛ خو مسلمانان بیا خپله ټوله انرژي او ځواک د دغسې یو شي د حلالوالي او حراموالي د اثبات لپاره مصرفوي. په حقیقت کې مډرن مسلمان د دې پر ځای چې د خپلې بریا او کامیابۍ او خدای ته د رسېدو لپاره له دین څخه استفاده وکړي، هغه یې خدای ګرځولی دی او د خدای پر ځای د دین په عبادت لګیا دی.

الله تَبَارَک وَتَعَالَی موږ له دې کاره منع کړي او ویرولي یو: **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ وَإِنْ تَسْأَلُوا عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ الْقران تُبْدَ لَكُمْ عَفَا اللَّهُ عَنْهَا وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ * قَدْ سَأَلَهَا قَوْمٌ مِنْ قَبْلِكُمْ ثُمَّ أَصْبَحُوا بِهَا كَافِرِينَ**[1] **«اې مؤمنانو! د داسې خبرو پوښتنه مه کوئ چې که (ځواب یې) درته څرګند کړای شي؛ نو تاسې ته به ناوړه وي؛ خو که تاسې د هغو پوښتنه په داسې وخت کې وکړئ چې قران نازلیږي، نو هغه به درته څرګند شي. تر اوسه چې تاسې څه کړي دي الله هغه دربښلي، هغه بښونکی او د زغم څښتن دی. ستاسې څخه مخکې یوې ډلې همدا ډول پوښتنې کړې وې، بیا هغه خلك د همدې خبرو له امله په کفر کې اخته شول (منکران شول)».**

الله تَبَارَک وَتَعَالَی د خپل رحمت له مخې د حرامو دایره ډېره کوچنۍ کړې ده؛ خو موږ خپله دا دایره پراخوو. الله تَبَارَک وَتَعَالَی زموږ لپاره آساني غواړي؛

[1] سوره. المائده، آیه. ۱۰۱

خو موږ د سختیو په راوړلو پسې یو. الله تَبَارَک وَتَعَالَی غواړي چې د دین په آسانه کولو سره د ایمان او روحي ترفیع لاره ساده کړي؛ خو موږ د ایمان لاره دومره کړکېچنه کوو چې لوړې او ژورې یې موږ پخپله سترې کړي یو او په هغه کافر کېږو. د دین کاملوالی دا مانا نه لري، چې د هرې موضوع لپاره دې تیار شوی ځواب ولري؛ بلکې د دین کاملوالی دا دی، چې اسلام د یوه ښه ژوندانه لپاره ضروري او حیاتي مسایل بیان کړي دي، د نورو اړینو ستونزو لپاره، د حل لارې ته د رسېدو طریقه یې بیان کړې او غیر مهم مسایل یې اختیاري ګرځولي دي. ضروري او حیاتي مسایل ثوابت دي چې په محکم ډول بیان شوي؛ خو موږ دومره په جزیاتو سره را ښرخو چې ثوابت له یاده باسو. دومره په فروعاتو سره را ښرخو چې اصل ته رسېدل ناممکن کوو.

همدا کار بني اسرائیلو وکړ، الله تَبَارَک وَتَعَالَی امر وکړ تر څو یو غویی قرباني کړي؛ **وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً**[۱] **«او هغه پېښه در یاده کړه چې کله موسی علیه السلام خپل قوم ته وویل: «الله تاسې ته د یوې غوا د حلالولو امر کوي».**

خو بني اسرائیلو اصل چې د یوه غویي قرباني کول و پرېښودل او په جزیاتو پسې شول؛ لومړی یې دغه فرمان تر پوښتنې لاندې کړ؛ **قَالُوا أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا**[۲] **«هغوی وویل: آیا ته له موږ سره مسخرې کوې؟».**

بیا یې د غویي له ډول او نوعیت څخه پوښتنې پیل کړې: **قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ**

---

[۱] سوره. البقره، آیه. ۶۷

[۲] سوره. البقره، آیه. ۶۷

**يُبَيِّنْ لَنَا مَا هِيَ**[1] **«(قوم یې) وویل: ښه نو، له خپل رب څخه دې وغواړه چې موږ ته د هغې غوا څه تفصیل وکړي!»**، او بیا یې د غوییې د رنګ پوښتنه وکړه، **قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا لَوْنُهَا**[2] **«هغوی بیا وویل: له خپل رب څخه دې دا هم وپوښته چې د هغې بڼه څنګه وي؟»**.

همدا رنګه یې بعدي پوښتې مطرح کړې چې بالاخره د غوییې انتخاب دومره ورته ستونزمن شو نږدې وه چې له دې کار څخه سر غړونه وکړي؛ **وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ**[3] **«او نږدې وه چې دا کار ونه کړي»**.

موږ مسلمانان خپل ډېر ځواک او قدرت د الهي اوامرو په پرتله په جزئیاتو مصرفوو. موږ دومره د اسلام په نظري سیستم پسې یو چې په اسلام باندې عمل کول مو سخت کړي او د هغه ساده‌ګي او ښکلا مو ترې اخیستې ده. د هغه د نظری سیستم ځواکمنتیا یې دومره ستره کړې ده چې پخپله موږ ته یې مهارول ستونزمن شوي دي او له همدې امله له هغه تښتو.

د دې پر ځای چې هڅه وکړو خپل ژوند د توحید پر بنسټ جوړ کړو، هڅه کوو چې توحید په لسګونو برخو ووېشو او د هرې برخې لپاره لس نورې برخې جوړې کړو او په پای کې یې دومره مغلق کړو چې د یوه مسلمان لپاره موحدوالی ناشونی ښکاره شي. د حلالو دایره دومره کوچنۍ او د حرامو دایره داسې پراخوو، چې د حلالو دایره زموږ ګنجایش ونه لري او مجبوره شو چې د

---

[1] سوره. البقره، آیه. ۶۸

[2] سوره. البقره، آیه. ۶۹

[3] سوره. البقره، آیه. ۷۱

حرامو په دایره کې قدم کېږدو. د اسلام دین یو ډېر ساده او ښکلی دین دی؛ خو موږ د کامل‌والي په پلمه هغه سخت او پېچلی کوو! نړۍ نن ورځ په یوه ستره جګړه کې قرار لري.

د دې جګړې ګټونکی به هغه څوک نه وي چې نظامي او اقتصادي ځواک یې ډېر وي؛ بلکې ګټونکی به هغه څوک وي چې په ایډیالوژیکي برخه کې ګټونکی شي. که چېرې غواړو په دې جګړه کې ګټونکي شو؛ نو یو ځل بیا باید اسلام په هماغه تېرې ښکلا او سادګۍ سره عرضه کړو. د اسلام د نظریې د پیاوړتیا ترڅنګ باید په اسلام کې په ژوند کولو کې هم زیار وباسو. اسلام له هر څه سره مخالف معرفي نه کړو، اسلام باید دومره مشکل ښکاره نه کړو چې نه نور ورته د نږدې کېدو جرئت وکړي او نه پخپله وکولی شو هغه ته پابند پاتې شو. هغه انرژي چې په جزیاتو مصرفوو، باید صفر ته نږدې کړو. اصلي پام مو باید اصولو ته وي او دا اجازه ورنکړو چې فروعات موږ له یو بل څخه جلا کړي او اسلام په خپل اصلي ډول (هماغه ښکلا او سادګۍ) په ځان کې ښکاره کړو.

## انسان او ځناور

کله چې د جګړې او د جنګونو یادونه وشي؛ نو امکان نه لري چا چې په افغانستان کې ژوند کړی وي او یا له افغانستان سره بلدتیا ولري، د دغه هېواد انځور دې پخپل ذهن کې مجسم او انځور نه کړي. ځوان چې خپل ټول عمر په همدغه هېواد کې تېر کړی و او د دغه هېواد حالت ورته یو نه هېرېدونکی او تازه درد و؛ نو په شکایت کونکي غږ یې داسې وپوښتل:

**زموږ په هېواد کې ټول خلک مسلمانان دي؛ خو تل دغه وروڼه له یو او بل سره په شخړو او جګړو دي او دغه خاوره یې د یو او بل په وینو سره رنګ کړې ده، موږ ولې نشو کولی چې په ټولنه کې یوه اسلامي هم‌زیستي/ګډ ژوند رامنځته کړو؟!**

د قرآن پیر دوباره پر خپل ځای کېناست او د هېواد د اوسني حالت په اړه یې خپل برداشت دا رنګه بیان کړ:

انسان ته ناطق حیوان وایي؛ ځکه چې له حیواناتو سره د انسان محسوسېدونکی توپیر همدا دی چې انسانان د خبرو وړتیا لري. دا په دې خاطر ده چې انسان له نورو حیواناتو سره ډېر ورته والی او شباهتونه لري او له همدې امله ده چې په انساني مطالعاتو کې له حیواناتو څخه د نمونې په توګه استفاده کېږي؛ د یوه انسان د مغز د ودې د درک لپاره د موږک مغز تر مطالعې لاندې نیسي، د ځینو ټولنیزو مسایلو د درک په خاطر له حیواني اجتماعاتو

څخه استفاده کیږي او...

زه هم د دې لپاره چې یاده پوښتنه په سم او څرګند ډول ځواب کړم، د حیواناتو له نړۍ دوه مثالونه راوړم.

زرکان ډېر ښکلي الوتونکي دي چې له یو بل سره ګډ ژوند کوي؛ خو تر اوسه مو له ځانه دا پوښتلي چې ولې د داسې مېلو (محفلونو) شاهدان یو چې هلته زرکان جنګول کېږي؟! ولې همدغه مرغان په دښتو کې د خپلې بقا لپاره له یو او بل سره مرسته او همکاري کوي؛ خو په دغو محافلو کې د مرګ تر پولې پخپلو کې جنګېږي؟ که چیرې د تفکر خول پر سر کیږدو؛ نو ځواب یې ډېر ساده دی. جنګي زرکان د آزادو زرکانو په پرتله په متفاوتو شرایطو کې ژوند کوي، د جنګي زرکانو مالکین هغوی د «جنګي محافلو» لپاره په داسې شرایطو کې روزي چې د نورو زرکانو سره دښمني وکړي؛ په حقیقت کې له دغه زرکانو څخه آزادي اخیستل شوې ده او بیا په یوه مشخصه محدوده کې په ځانګړو شرایطو کې روزل شوي.

د موریانو (وینه) ژوند بیا ډېر جالب دی. هغه د موریانه وو د ژوند نظام منده ده. هغوی د یوه چټک تولید مثل (زېږون) پخاطر، یوه پراخ کور (ځای) ته اړتیا لري، د موریانه وو غونډۍ به مو لیدلې وي، ډېرې لوېې دي. ساینس پوهانو د دغو غونډېیو د جوړولو پر مهال جالبې او په زړه پورې تجربې تر سره کړې دي. د دغو غونډېیو جوړول له یوې ټاکلې نقطې نه پیلېږي او یوې ټاکلې پایلې ته نه رسېږي. د غونډېیو د مختلفو ځایونو رغونه او جوړونه په ورته وخت کې پر مخ بېول کیږي. ساینس پوهان د دې پر ځای چې ډاډه شي آیا د مختلفو برخو جوړونکي له یو بل سره په اړیکه کې دي او کنه؟ د غونډۍ د جوړولو پر مهال

د غونډې په منځ کې یوه پرده او حایل کېښود او بالاخره متوجه شول چې پرته له کومې اړیکې څخه غونډې داسې پای ته ورسېده چې د حائل د دواړو خواوو دهلېزونه او اتاقونه په یوه نقطه کې یو بل ته سره رسېدل او په ټولیزه (کُلي) طرحه کې یې هېڅ انحراف نه دی راغلی. ساینس پوهان بالاخره دې پایلې ته ورسېدل که څه هم موریانې په فردي توګه په دې نه پوهېدلې چې څه کار وکړی؛ خو د هغوی جمعي هوښ د غونډکي له کُلي طرحې خبر وو. که چېرې د زرکانو په څېر له دغو موریانو څخه د هغوی آزادي واخیستل شي او تر یوې مهندسي او حساب شوې پروسې لاندې راوستل شي؛ نو بیا د تېر په څېر خپل کور (د اوسېدو ځای) نشي جوړولای. نور به نو د دوی په جمعي فکر کې د ګډ ژوند هغه تېره همغږي شتون ونلري.

الله تَبَارَک وَتَعَالَی فرمایي: **وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ**[1] **«په ځمکه کې خوځېدونکي کوم ساکښ او په هوا کې په وزرونو سره الوتونکي کوم مارغه ته وګورئ! دا ټول همدا ستاسې په څېر انواع او ډولونه دي. موږ د هغو د تقدير په ليکنه کې څه نیمګړتیا نه ده پرېښې».**

هو! انسانان هم لکه د حیواناتو په څېر عمل کوي، په متفاوتو حالاتو کې روزل شوي انسانان، له ځانه متفاوت فعالیتونه ښیي؛ په تاریخ او مختلفو فرهنګونو کې لوی شوي اجتماعات او ټولنې د مختلفو حالتونو پر وړاندې له ځانه متفاوت غبرګونونه ښیي. د افغانستان خلک هم، د ځینې ملحوظاتو پر

---

[1] سوره. الأنعام، آیه. ۳۸

بنسټ په یوه جنګي او د ورور وژنې په فضا کې را لوی شوي دي. افغانان تر یوې حساب شوې، غیر شعوري ټولنیزې او انفرادي مهندسی لاندې قرار نیولی دی، دغې فضا هغوی ته دا ور زده کړي چې باید د بل قوم، بل لوري او ژبې دښمنان وي. له بده مرغه د قومونو ټولیز هوښ دا ورته راپورته کوي چې د خپل قوم د ښېګڼې لپاره، باید د بل قوم دښمنان وي. د دښمنانو او جاهلانو جاهلانه حساب شوې ټولنیزه مهندسي خلکو ته دا ور پیچکاري کړې چې د یوه قوم خیر او فلاح له بل قوم سره په دښمنۍ کې ده.

خو یو کامل انسان حیوان نه دی؛ هغه یو مکرم موجود دی. الله تَبَارَکَ وَتَعَالَی انسان ته کرامت ورکړی دی، **وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ**[1] **«دا خو زموږ پېرزوینه ده چې بنیادم ته مو لویي ورکړه»**.

د انسان کرامت په هغه اعلی روح کې دی چې انسان ته ور کړل شوی؛ هغه عالي روح چې د آزادۍ مظهر دی. انسان دغه آزادي لري چې فکري او ټولنیزې مهندسۍ ته نه ووایي. «لا اله» همدغه آزادي ور زده‌کوي. که چیرې له یوه زرک څخه د هغه آزادي واخیستل شي او د جنګ لپاره وروزل شی، ډېر لږ کولی شي چې دغه تربیت ته نه ووایي؛ ځکه چې د زرک آزادي د هغه په هماغې ظاهري آزادۍ کې ده؛ خو د انسان آزادي د هغه په روح کې ده. هېڅ دنیوي قدرت د انسانانو د روحي آزادۍ د سلب کولو قدرت نه لري، که چېرې یو زرک په زندان (قفس) کې وساتل شي حتما به جنګي را ووځي (یو جنکي زرک به ترې جوړ شي)؛ خو انسان کولی شي له زندان څخه له وړاندې هم یو

[1] سوره. الإسراء، آیه. ۷۰

آزاد انسان را بهر شي. هېڅ داسې بندي حیوان نشو پیدا کولی چې زندان کې دې آزادي ولري؛ خو د بندي انسانانو په ډله کې داسې کسان هم شته چې په اصل کې د ډېرو آزادو کسانو په پرتله آزاد وي، د زندانیانو په منځ کې داسې آزاد فکره کسان دي چې له آزادو او ګرځېدونکو کسانو څخه ډېره آزادي لري او برعکس داسې آزاد انسانان هم شته چې له زندانیانو څخه ډېر ترلي او غلامان دي (ډېر انسانان دي چې آزاد دي؛ خو آزادي نه لري او ډېر داسې انسانان دي چې په زندانونو کې نه دي، لاسونه یې نه دي ترلي؛ خو غلامان دي). مالکوم اکس د یوه غله، مجرم او بې‌لارې انسان په توګه زنداني شو؛ خو له زندان څخه د یو آزاد کس په توګه خوشي شو؛ هغه فکري مهندسی ته نه وویل او له خپلې آزادۍ څخه یې ګټه پورته کړه. قرآن کریم هم ځکه ځینو کسانو ته د څارویو خطاب کوي چې د هغوی آزادي د هغوی په ظاهر کې ده، **لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ بِهَا أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ**[1] **«د هغوی زړونه شته؛ خو فکر وربانديې نه کوي، د هغوی سترګې شته؛ خو شی نه پرې ویني، د هغوی غوږونه شته؛ خو څه پرې نه اوري، هغوی د څارویو په شان دي».** دوی فکري او ټولنیزې مهندسی ته د نه خوب نشي ورکولی، ځان مجبور احساسوي تر څو د خپلو پلرونو او رایجو تعالمو لاریوان وي. **قَالُوا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ**[2] **«نو هغوی په ځواب کې وایي: «زمونږ لپاره خو یوازې هماغه**

---

[1] سوره. الأعراف، آیه. ۱۷۹

[2] سوره. المائده، آیه. ۱۰۴

**کړنلاره بس ده چې پر هغې موږ خپل پلرونه نیکونه موندلي دي.» - ایا دوی له پلرونو، نیکونو څخه تقلید کوي، که څه هم هغوی په هېڅ ونه پوهېږي او له سمې لارې څخه خبر هم نه وي؟».**

په افغانستان کې ورور وژنه هم په همدې خاطر ده؛ خلک خپلې روحي آزادۍ ته روزنه نه ورکوي، تر څو وکولی شي فکري او ټولنیزې مهندسۍ ته نه ووایي. فردي نسبي خپلواکي غوښتونکي ځینې وختونه خپل سرونه را پورته کوي او د توکمپالنې پر وړاندې درېږي؛ خو کله چې یوه پېښه لکه: قوم محوره ټاکنې، رامنځته کېږي، دوی بیا د ټولیز مهندسۍ هوښ ښکار ګرځي او لکه د یوه غلام په څېر په همغه حیواني الفاظو شوخند وهي، تر څو چې روحي آزادي ترلاسه نشي سیاسي خپلواکي هېڅ ګټه نه لري. انګریزان لاړل؛ خو روحي غلامان یې د روسانو د راتګ لامل شول، روسان لاړل، روحي غلامان یې د آمریکا د راتلو لامل وګرځېدل او که چیرې آمریکا لاړه شي او موږ لا هم روحي آزادي ترلاسه نه کړو؛ نو د چین سر به را پیدا شي. ښایي وویل شي چې د ډېرو خلکو روح له تعصب نه آزاده ده؛ خو روحي آزادي باید له خدای ﷻ څخه پرته له بل هرڅه باید آزاده وي؛ داسې کسان شته چې روح یې د تعصب له قید نه آزاد دی؛ خو د خپلو مذهبي انګېرنو په قید کې بند دی، د خپلو مالي ګټو په قید کې یې تړلې ده، د خپلو حزبي تفاسیرو زولنو کې را ایسار دي او د خپلو سیاسي افکارو په قید کې بند دي.

موږ آزادو انسانانو او له همدې امله انساني انسانانو ته اړتیا لرو، تر څو له داسې یوه حالته بهر شو؛ له اوسني حالت څخه وتل هغه وخت ممکن دي چې د دې خاورې آزادي لرونکي بچیان د فکري او اجتماعي مهندسي تعالمو په

لمنځه ورړلو پسې متې رابډ وهي او ټولنه په حقیقي آزادۍ (بشپړې روحي آزادۍ) باندې معطره کړي؛ لا اله الا الله. دغه آزادي خوښوونکي کسان په فردي او ټولیزو فکرونو باندې پر اغېز سره کولی شي د «لا» په خنجر سره د غلام جوړوونکو الاتو (وسایلو) سرونه پرې او الله ته په رسېدو سره د هغه نور مشعل او ډېوه چې د حرا په غار کې ځلېدلې وه، له دغې خاورې روښانه او له کوم تعصب پرته یې ټولې نړۍ ته ورسوي. دغه آزادي یوازې په قرآن کریم سره ترلاسه کېدای شي، له دغه حالت نه د افغانستان د خلکو د راوتلو او پرمختګ نسخه، هېر شوی قرآن دی او بس.

## قرآني قوم

مدېرن مسلمان تل دا ادعا کوي چې د هرې ستونزې د حل لاره چاره ورسره شته؛ خو په عملي ډګر کې پاتې راځي. مدېرن مسلمان په عملي ډګر کې د خپلو باورونو د تحقق په برخه کې ناکام دی، هغه یوازې په خبرو زړه خوشاله کړی دی، هغه ایمان لري چې قرآن د بشر ستونزې حل کوي؛ خو د خپلو ستونزو په حل کې له هغه ګټه نه اخلي؛ وایي چې قرآن انسان جوړوونکی دی؛ خو د ځان د جوړونې لپاره له هغه استفاده نه کوي. وایي چې صدقه او زکات به د بېوزلو ستونزه حل کړي؛ خو په صدقه او زکات ورکولو کې هڅه نه کوي، وایي عبادات د رواني ناروغیو علاج ګڼي؛ خو خپله له رواني ناروغیو رنځ وړي؛ وایي چې حج یووالی را منځته کوي؛ خو د حج د مراسمو په لړ کې په مجازی صفحاتو کې د نورو ملتو او قومونو پر ضد لیکنې کوي.

**ځوان چې دا هر څه په خپلو سترګو لیدلي وو، په حیرانتیا او اعتراضی ډول یې په بدني حرکتونو سره وپوښتل: وبښئ قرآن څرنګه دغه ستونزې حل کوي؟!**

د قرآن پیر چې د ځوان د کنایه ډوله ژبې څخه، د هغه د موخې اټکل کړی و په یوې له معنا ډکې موسکا سره یې وویل: باید وویل شي چې قرآن یوازې د قانون کتاب نه دی، قانون د قوانینو د اجرا بنسټونو ته اړتیا لري، قانون باید تحمیل شي، قانون یوازې له حس کېدونکو اعمالو سره تړاو لري. قرآن که څه هم د ټولنیز نظم لپاره حیاتي او لازمي قوانین راوړي دي؛ خو د قرآن د روزنې

يوه ستره برخه باطني ده. قرآن يوازې په زور سره، ظاهري اعمال نه کنټرولوي؛ بلکې د ايمان په وسيله د انسان باطن هم اصلاح کوي تر څو له اصلاح شوي باطن څخه ځلېدونکي اعمال د بشر په خير او صلاح کې را څرګند شي. قرآني اصلاح يوازې په ذهني باور او د اذهانو په کنج کې د دغه باور په ساتنې سره حقيقت نه پيدا کوي؛ بلکې په زړه کې په باطني کېدو زړونه نوراني کوي، فردي اصلاح او ورپسې د ټولنې اصلاح رامنځته کوي. بناءً د قرآنکريم داسې ډېر حافظان شته چې قرآني ژوند نه کوي او ډېر متقيان شته چې قرآن يې حفظ نه دی؛ خو قرآني ژوند کوي.

يوازې په ذهني باور سره نشو کولی د بشر د ستونزو لپاره يو جامع حل پيدا کړو؛ بلکې د قران په باطني کولو سره حل لارې پخپله را څرګندېږي.

د بېلګې په توګه: زموږ د ټولنې د تعصباتو اوسنۍ ستونزه به د قرآن په باطني کېدو سره حل شي، قرآن د قومي برتريو غوښتنې له ذهن، فکر، زړه او روح څخه لرې کوي؛ ځکه دغه ليدلوری سربېره پر دې چې له قرآني منظره مذموم (ناوړه) دی، د قرآني آزاد عقل په مقياس کې په څو دلايلو غير ديني، غير عقلاني او غير انساني ليدلوری او تفکر دی.

الف: دغه ډول ليد لوری له ايمان سره په تقابل کې قرار لري؛ ځکه چې د يوه مومن لپاره برتري يوازې په تقوا کې ده، **إِنَّ أَكرَمَكم عِندَ الله أَتقاكم**[1] **«په حقيقت کې د الله ﷻ پر وړاندې ستاسې څخه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوك دی چې په تاسې کې تر ټولو ډېر پرهېزګار وي».**

---

[1] سوره. الحجرات، آيه. ١٣

ب: دغه ډول فکر لرل تعقل را کموي؛ ځکه د دې ادعا لپاره مجبور یو د ځان لپاره ځینې دلایل جوړ کړو او د خپل قوم د څو تنو د ګوتو په شمار کسانو د حرکاتو په لیدو سره د مقابل قوم د څو تنو افرادو په لیدو قضاوت وکړو او دا کار د عقل خلاف دی، دغه کلي پالنه غیر عقلاني ده، دا کار له آزاده او انساني عقل سره سمون نه لري.

ت: له خپل تفکر نه باید څه راکم کړو؛ ځکه چې د انسانانو په اړه زموږ پېژندګلوي یوازې قیاسي او تجربي ده. ساینس سره له دغو سترو پرمختګونو د انسان اړوند خاموش (چوپ) دی او په تاریخ کې د انسان له مطالعې نه علاوه څه نشي ویلی؛ نو مجبور یو د دې په ویلو سره چې زموږ قوم له نورو قومونو څخه غوره دی خپل تفکر خاموشه کړو او داسې یوه خبره وکړو چې د فکر په هېڅ سیستم کې هغه ته نشو رسېدلی، پرته له داسې یوه ناقص تفکر نه چې تعصب یې محصور کړي او د څو سر په سر اېښودل شویو ګلچینه واقعیتونو په سر ترې پایله ترلاسه کړو؛ البته چې هېڅ سلیم شعور نشي کولی داسې یو قضاوت ومني.

ث: د فکر دغه بڼه، شعور را کموي؛ ځکه د انسانانو او قومونو د ژوندانه تاریخي تجربه دا روښانه کوي چې خلک په متفاوتو شرایطو کې بېلابېل غبرګونونه ښیي او موجوده حالت ته په کتو سره د اقوامو قضاوت او نمونه اخیستنه په اوس او تېر وخت کې د شعور خلاف ده.

ج: په پای کې دا لیدلوری او د فکر بڼه د تدبر کولو کچه راټیټوي؛ ځکه چې په تاریخ کې فکر او تدبر دا معلوموي چې خلکو او قومونو د تاریخ په اوږدو

کې لوړې او ژورې تجربه کړې دي.

ځینې خلکو د قوم په نوم بد کارونه کړي دي او هر قوم د خپل تاریخ په اوږدو کې، نه هېرېدونکې ښېګڼې هم په میراث پرې ایښې دي؛ خو د قرآن په باطني کولو سره کولی شو د یوه نوي هویت خاوندان شو، چې په رښتینې توګه یو برتره قوم وګڼل شي؛ ځکه چې دا کار د تکبر، برترۍ، د نورو په قېمت له ځان غوښتنې او روحي غلامۍ څخه پاک دی. دا قوم یو جنیتیکي قوم نه دی، دا قوم د تاجک او پښتون د وینو په درلودو سره نه جوړېږي؛ بلکې هغه قوم دی چې ټولې ذکر شوې ځانګړتیاوې په کې متحرکې او وده کوي. هغه قرآني قوم دی، چې اقبال لاهوري، سعید نورسي کردی، شاه ولي الله دهلوي او امام ابو حنیفه خراساني په هغه کې شامل دي؛ هغه قوم چې قرآن هغوی د **قَوم يتَفَكرون**[1] **«هغه قوم چې تفکر کوي»، قَوْمٍ يؤْمِنُونَ**[2] **«هغه قوم چې ایمان لري»، قَوم يعقِلون**[3] **«هغه قوم چې تعقل کوي»** په الفاظو سره مخاطب کوي او دا قوم د قرآن په ژبه له هغو اقوامو څخه نه دی چې **قَوْمٌ لَا يفْقَهُونَ**[4] **«هغه قوم چې هېڅ فهم او شعور نه لري»، قَوْمٌ تَجْهَلُونَ**[5] **«هغه قوم چې جهالت کوي»، قَوْمٍ كافِرِينَ**[6] **«هغه قوم چې کفر کوي»، قَوْمًا فَاسِقِينَ**[7] **«هغه قوم چې فسق او فجور**

---

[1] سوره. الحجرات، آیه. ۶۹
[2] سوره. العنکبوت، آیه. ۲۴
[3] سوره. العنکبوت، آیه. ۲۳۴
[4] سوره. الحشر، آیه. ۱۳
[5] سوره. الأعراف، آیه. ۱۳۸
[6] سوره. الأعراف، آیه. ۹۳
[7] سوره. الذاریات، آیه. ۴۶

**کوي» او...**

د قرآن په باطني کېدو سره دغه هویت په انسان کې بنستیز کیږی، دغه زموږ اصلي هویت ګرځي، یوازې همدا هویت دی چې کولی شي موږ سره متحد او یو کړي. دغه هویت دی چې موږ په غیر ضروري او ملا ماتوونکو داخلي جبهو کې له مصروفېدو څخه را ګرځوي او دغه هویت به بنستیز نشي؛ مګر دا به یوازې د قرآن، سنتو او خالص دیني تعلیماتو، حق ته په مخلصانه را ګرځېدو او د دغو د حق باورونو په باطني کولو شونی وي.

## باطن ته رسیدل

باطني کول یو کیفي بهیر ده. د یوې کیفي پروسې لپاره یو کمي میتود شتون نه لري. د انسان ذهن تل د کمیتي میتودونو په لټه کې دی. نو د کمیتي میتودونو له لارې، کیفیت ته رسېدل محال دي. دغه تناقض کله ګډوډي او اغتشاش را منځته کوي او کله هم دردوونکی وي. کیفیت په روح سره محسوس دی او کمیت د یوه محاسب ذهن کار دی. یو بشپړ کمیتي انسان، نه شي کولی انساني وي او په بشپړه توګه یو کیفي انسان بدن ازاره کېږي.

ځوان چې هم د دغې پروسې له ژور مفهوم ناخبره او سرګردانه و، خپل اغتشاش او ګډوډي یې دا ډول څرګند کړه:

**آیا د قرآن د باطني کولو لپاره کومه طریقه او میتود شته؟ آیا کولی شئ د قرآن باطني کولو ته د رسېدو لاره، پراو په پراو شرح کړئ؟**

د قرآن پیر وویل: لکه څنګه مې، چې وړاندې وویل، دوه تربیتي لارې شتون لري، چې یوه یې خلکو ته تمرین ورکول دي او بله یې د خلکو روزنه ده. تمرین ورکول آزادي تنګوي او روزنه آزادي رامنځته کوي. تمرین ورکول، تقلید القا کوي او روزنه خلاقیت را منځته کوي. تمرین تحمیل کوي او روزنه باطني ځواک متحرک کوي. تمرین ورکول یوه سترې کوونکې تجربه ده او روزنه د انسان داخلي انرژي د حجاب له شا را څرګندوي.

وړاندې مو یادونه وکړه، چې قرآنی روزنه یو دوه اړخیزه بهیر ده؛ باور په عمل او عمل په باور. په خدای باندې باور لرل، یو اړخ د روزنې دی، چې په حقیقت کې ایمان دی او عمل کول پر هغه، بل اړخ چې روحاني ترفیع ته

رسېدل وي. په توحید باندې ایمان راوړل، د خدای لور ته لار موندنه ده، خو یوازې د لارې پېژندل بسنه نه کوي، بلکه دا لار باید طی کړو او د دغې لارې طی کول، یوازې په باور لرلو شوني نه ده؛ بلکه د سفر وسیله باید ولرو او د سفر دغه وسیله په قرآني روزنه او صالح عمل کې ده. وړاندې مو یادونه وکړه، قرآني روزنه یو دوه اړخیز بهیر ده؛ باور په عمل او عمل په باور. په حقیقت کې ایمان لرل، خدای ته د رسېدو نقشه ترسیموي او صالح عمل بیا هغه براق کېږي، چې پر هغه کولی شو د خدای په لور حرکت وکړو. ایمان راوړل په فضایي راکېټ کې کېناستل دي او صالح عمل بیا د هغه د سوند توکي دي، چې دغه راکېټ د آسمان پر لوري بیایي. **يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ**[1] **«د هغه حضور ته، چې کوم شی پاس ورخېږي، هغه یوازې سپېڅلې وینا ده او ښه عمل، هغه وینا پورته خېژوي».**

د قرآن باطني کېدل یو کمیتي بهیر نه ده. داسې نه شو ویلی، چې په دغو مراحلو او په دومره وخت کې به قرآن باطني شی. د قرآن د باطني کېدو بهیر کیفي ده، یو دوامداره او نه تمامېدونکې بهیر، یوه بې پایه لار ده او یو نه ختمېدونکی هڅه. دغه بهیر په روح پورې مربوط بهیر ده. روح له بل عالم څخه دی. له همدې امله یوازې د دنیا د اړتیاوو له مدفن څخه، د روح په خلاصون او خپل عالم ته د روح په الوتلو سره کولی شو، د قرآن معنوي رڼا په ځان کې متجلي کړو. بره عالم ته رسیدل یوازې د روح په سفر سره کولی شو، چې د قرآن له خوږو روحاني مېوو څخه تر لاسه کړو. دغو مېوو ته د رسېدو

---

[1] سوره. فاطر، آیه. ۱۰

لپاره، لومړی باید د ونې په اصلي رېښو پورې ونښلو؛ پر توحید ایمان او د دغې ونې له مېوو څخه ګټه اخیستل، چې په بره عالم کې دي، باید لوړو ارتفاعاتو ته لار ولټوو؛ صالح عمل. **أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ * تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا**[1] **«ایا ته نه ګورې، چې الله د توحید د سپېڅلې کلمې مثال کوم شی ښودلی دی؟ د هغې مثال داسې دی، لکه یوه ښه ذات لرونکې ونه، چې د هغې جرړې په ځمکه کې ښخې شوې دي او څانګې یې تر اسمانه رسېدلې دي. هغه په هر وخت کې د خپل رب په حکم سره خپلې مېوې راوړي».**

پر توحید باندې ایمان لرل، د قرآنی روزنې یو اړخ دی؛ د تربیې رېښه، بل اړخ ته د تللو لپاره او د توحید د باطني کېدو لپاره، له روحاني مېوو څخه را ټولول لازمي دي؛ دغو مېوو ته د رسېدو لپاره باید صعود وکړو، باید رفعت زده کړو، باید پورته تللو ته وسیله ولرو او هغه د صعود، رفعت او بره د تللو وسیله، صالح عمل دی. په صالح عمل سره کولی شو، چې روح د بدن له مدفن څخه را بهر کړو، کولی شو، روح ته رفعت وروبښو، کولی شو بره لاړ شو او هغو مېوو ته ورسېږو، چې روح ته د نور د اخیستو اړتیا ورکوي. هغه نور، چې پر هغه کولی شو د قرآن خوږې او خوندورې میوې ووینو. هغه نور، چې کولی شو د کوثر لار پرې ومومو. هغه نور، چې کولی شو په وسیله یې د بره تلو لارې ووینو او د هغو پر لور والوزو. هغه نور، چې کولی شو په وسیله یې خپل قید او بندونه ووینو او هغه څیرې کړو. هغه نور، چې په وسیله یې کولی شو روحاني

---

[1] سوره. ابراهیم، آیات. ۲۴-۲۵

حجابونه ووینو او هغه لرې کړو.

بناءً، د قرآن د باطني کولو طریقه، لومړی پر توحید باندې ایمان دی، چې یوازې د قرآن په تلپاتې اړیکه سره حاصلیږي او دویم د روحاني رفعت موندنه ده، چې په قرآن باندې په عمل کولو سره ترلاسه کیږي. د دغې ونې لوړوالی او ارتفاع پای نه مومي، له همدې امله د انسان د رفعت په خاطر باید د انسان د هڅو لپاره هم پای نه وي. د دغې ونې روحاني مېوې بې انتها دي. بناءً، د انسان د روح تنده د دغو مېوو د خوړولو لپاره هم باید بې انتها وي.

مډرن مسلمان په نظري مسایلو کې، په غیر عقلاني لېوالتیا سره ریښو ته ځان ورسوي او له هغې د مېوې خوند وڅکي او په دې بهیر کې یې د مېوې لور ته رفعت او پورته تلل هېر کړي دي. دومره د ریښو له اړتیا نه زیات، د هغو په اوبولو بوخت دی، چې د مېوو ټولول یې هېر کړي دي. په نظري مسایلو کې جنجالونو هغه دومره مصروف کړی دی، چې نېک کارونه یې ډېر کم د پام وړ ګرځوي او یا لږ تر لږه یې صالح اعمال نظري عباداتو ته را ټیټ کړي دي او په معاملاتو کې صالح اعمال پرته له رفعت نه بل څه نه ګڼي. که غواړو قرآن باطني شي، باید عمل ته جدي پاملرنه وکړو. موږ باید، د صالحو اعمالو او قراني عملونو په وسیله، روحي رفعت ته ورسېږو، ترڅو د قران له خوږو مېوو څخه ګټه واخلو.

# خوارجي فکر

زموږ زمانه د معلوماتو زمانه بلل کېږي. په دې زمانه کې مطلق ګرايي خپل لوړې کچې ته رسېدلې ده. شرطيه جملې او پوښتنې خپل ارزښت له لاسه ورکړی دی. په دې عصر کې «که» او «که څه» دومره پېرېدونکي نه لري. خو دغه شرطيه جملې د زده کړې د بهير يوه مهمه برخه ده او د نړۍ د بهتر انځور جوړولو کې مرسته کوي. که دين شتون نه درلودلی، نو څه؟ که نظم شتون نه درلودلی، نو څه؟ که چېرې د رسنيو رايج حکايات يو څه يا پوره درواغ وي، نو څه؟ که د ټولنيزو ګټو لپاره، علمي دواير او حلقات ګټه ونه کړي، نو څه؟ او که څه...؟

**ځوان دا خيال کاوه، ټول خلک ښايي د قرآن د باطني کولو لپاره هڅه ونه کړي، خپل سوال يې په «نو څه» باندې پيل کړ: که چېرې، لکه څنګه چې تاسو واياست، مسلمانان قرآن باطني نه کړي، نو څه به وشي؟**

د قرآن پير، يو ځل بيا د مسلې د واضح کولو لپاره په يوې لنډې مقدمې سره، د يوه مثال راوړلو ته مخ کړ او ويې ويل: که چېرې قرآن باطني نه شي، په عقل کې به متجلي ونه ګرځي، د عمل او باور تر منځ به تناقض را منځته شي، الفاظ به قرآني او اعمال به غير قرآني وي، هغه انسان چې قرآن يې په ژبه وي او په زړه کې يې نه وي، داسې دی، چې رحمت يې له خبرو او لعنت يې له زړه د راخوټېدو په حال کې وي. له ژبې يې برکت او له اعمالو به يې عذاب را اوري. د قرآن د نه باطني کېدو بدترينه مثال، خوارج دي.

رسول الله ﷺ د هغې دلې له ظهور نه خبرورکوي، چې قرآن لولي، خو له مرئ يې نه ښکته کېږي. دغه ډله داسې عبادت کوي، چې نور مسلمانان د دوی د عبادت پر وړاندې خپل عبادت، ناچیز او کم ارزښته ګڼي. دوی د خولې له لارې ډېرې ښې خبرې کوي، خو ځکه چې دا خبرې يې له زړه نه تېرېږي، بدترينه ډله ده چې د اسلامي امت په تاريخ کې پيدا شوې او لا به پيدا کېږي. مسلمان وژنه کوي، د مسلمانانو مال او وينه د ځان لپاره مباح ګڼي، د مسلمانانو ترمنځ وحشت را پيدا کوي، د اسلام ساده‌ګي د خپلو غير منطقي سختدريځيو له امله له پامه غورځوي، او دا کار د دې لامل ګرځي چې خپله له دينه ووځي.

هغه څوک، چې قرآن کريم يوازې د الفاظو په حيث د خپل ذهن په کنج کې وساتي او د قرآن له روحاني مېوو څخه مېوې را ټولې نه کړي او بالاخره په زړه کې يې باطني نه شي، نو له معنويت به يو تش او خالي زړه ولري. زړه به يې له معنوي تجربو څخه تش وي، که څه هم ژبه يې د حق په خبرو مشغوله وي، زړه به يې له شيطان سره مشغوله شي. د محاسب ذهن په وسيله يې خپل هدايت محاسبه کړی دی او ځان به تر ټولو متقي او هدايت شوی وګڼي. تکبر هغه را چاپېر کړی او په دې ګومان سره، چې هدايت شوی دی، شيطان به يې په زړه مسلط وګرځي. **فَرِيقًا هَدَى وَفَرِيقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلَالَةُ إِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ مُهْتَدُونَ**[1] **«يوې ډلې ته خو هغه سمه لار ښودلې ده، خو پر بلې ډلې ګمراهي ثابته شوې ده؛ ځکه چې هغوی د**

---

[1] سوره. الأعراف، آيه. ۳۰

**خدای پر ځای، شیطانان خپل سرپرستان نیولي دي او هغوی انګېري، چې هغوی پر سمه لاره دي».**

په اسلامي روایتونو کې دوه داسې آیتونه راغلي، چې خوارجو ته نسبت ورکړل شوې ده. دا به د خبرو په لړ کې بیان شي، څو د دې موضوع په وضاحت کې مرسته وکړي.

دنیا طلبي یوازې اقتصادي اړخ نه لري. ډېر داسې کسان شته، چې مال او ثروت ته دومره رغبت نه لري، خو په دنیا کې ډوب دي. ځینې د دې ترڼي دي، چې خلک درناوی ورته وکړي. ځینې بیا دې ته ترڼي دي، چې خلک یې صفت وکړي. ځینې د داسې القابو ترڼي دي، چې لیاقت یې نه لري. ځینې بیا د نورو د مریي کولو ترڼي دي او غواړي، چې نور خپل تابع وګڼي او ځان تر هغوی لوړ وبولي. ځینې بیا متکبر دي، غواړي نور خلک د ځان په څېر وګرځوي؛ د هغوی فکر او د ژوندانه تګلاره تر خپلې ارادې لاندې ولري. دا ټول دنیا غوښتنې دي. هغه څوک، چې قرآن لولي خو قرآني کېږي نه، په همدې دنیا غوښتنه کې ډوبېږي. غواړي د خلکو احترام تر لاسه کړي، له همدې امله ځان متقي ښيي. غواړي تر ټولو د غوره انسان لقب تر لاسه کړي، په داسې حال کې، چې هغسې نه دی. غواړي له قرآن نه خپل تفسیر پر نورو باندې تحمیل کړي. غواړي نور، لکه د ځان په څېر کړي. د دوی ټوله هڅه او هاند د دنیا غوښتنې ته د دین او قرآن په وسیله ځان رسول دي. **الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا**[1] **«هغه چې په دنیوي**

---

[1] سوره. الکهف، آیه. ۱۰۴

**ژوندانه کې یې هلې ځلې له سمې لارې منحرفې شوې او انګېرلې یې ده، چې ټول کړه وړه یې ښه دي».**

له هغه چا نه خطرناکه کس نه شته، چې ګومان کوي د بشر نجات د ده په لاس کې دی. دا ډول کسان د خپل نفس‌محوره ذهن په محاسبه کې غرق وي. محاسب ذهن تل نفس محوره او په ځان متمرکز وي، دوی ته دا احساس ورکوي، چې هدایت یوازې همدوی ته رسېدلی دی او د بشر د کامیابۍ کیلي د دوی په لاس کې ده. د ځان پر وړاندې هر خنډ د بشریت د کامیابۍ پر وړاندې خنډ ګڼي. د بشر د کامیابۍ د قلف د پرانیستلو لپاره خپل عمل موجه ګڼي. د انسان قتل او د طبیعت وژنه، د دوی د هغه لوی ماموریت پر وړاندې، چې دوی ټاکلی دی، بې ارزښته ښکاري. دغه هدف ته د رسېدو لپاره، له هرې پولې او مرز څخه تېرېږي او هر حرام توجیه کوي. په ځمکه کې فساد توجه کوي. د نورو خلکو مال، د حق الجهاد او د نورو خلکو ناموس، د جهاد النکاح په نامه توجیه منونکي ګڼي. په ځمکه کې د ستر فساد لامل ګرځی، په داسې حال کې، چې ژبه یې پرته له حق خبرې، چې له هغه ناحق موخه لري، په بل څه باندې په حرکت نه راځي. هغه قرآن، چې له مرۍ یې ښکته نه دی تېر شوی، د خپلو فاسد محوره اعمالو د توجیه د وسیلې په توګه کاروي. **وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ * أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَكِنْ لَا يَشْعُرُونَ**[۱] **«کله چې هغوی ته وویل شول: په ځمکه کې فساد مه کوئ! نو هغوی همدا وویل: موږ خو اصلاحات را وستونکي یوو. پام ولرئ! په**

---

[۱] سوره. البقره، آیه. ۱۱

**حقیقت کې همدوی فساد کوونکي دي، خو شعور ورسره نه شته».**

خو هغه څوک، چې قرآن په هغه کې باطني شوی دی، د هغه په عظمت باندې پوهېږي. پوهېږي، چې قرآن دومره ستر او د عظمت والا دی، چې نه شو کولی، د هغه روحاني مېوې را ټولې کړو. پوهېږي، چې هر څوک په خپلې اندازې سره یې د قرآن له مېوو خوري. هغه پوهېږي، چې د بېلابېلو برخو څخه د روحاني مېوو خوړل، په هر انسان باندې بېلابېلې اغیزې لري او په هغه کې د بېلابېلو ځانګړتیاوو د څرګندېدو سبب ګرځي؛ په یو چا کې، د ښو او نېکو خبرو د ملکې په توګه متجلي کېږي، په چا کې د شجاعت د ملکې په څېر متجلي کېږي او په چا کې د خلاقیت د ملکې په توګه را څرګندېږي. د شخصیتي ځانګړتیاو تنوع ورته ازار ورکونکې نه، بلکه ښکلا ورکونکې برېښي. د بېلابېلو وړتیاوو لپاره د احترام قائل ګرځي. د خطیب احترام د هغه د خطابت لپاره کوی. د خلاقیت لپاره یې د هنر مند درناوی کوي. ساینس پوه د هغه د تحقیق او کشفیاتو په خاطر زړه ته را نږدې کوي. ټول نېکان، په هرې شخصیتي ځانګړتیا سره، چې هغوی یې لري، له خپل ځان نه یې هدایت شوي ګڼي. باطني شوی قرآن داسې یوه تواضع وربښي، په داسې حال کې چې د لا زیات هدایت تږی دی، ځان له هر بل مسلمان څخه نا هدایت شوی ګڼي.

د خدای د مخلوقاتو خدمت خپله دنده ګڼي او د هرې ورځې په تېرېدو سره لا ډېر قرآني کېږي. وجود او شتون یې د نورو لپاره رحمت ګرځي. په داسې حال کې، چې د نورو د ګناه لپاره عذر لټوي، خپله ګناه یې ورته سخته تمامېږي او پر خپل نفس باندې یې سخت ګیره ده، د خلکو لپاره کار کوي، خو د خلکو په خاطر کار نه کوي.

## د بدلون خنډونه

په نړۍلید کې بدلون، له نړۍ څخه موجود تصویر ړنګولای شي. انسان د هغه تصویر د له منځه تلو څخه، چې له جهان څخه یې لري، که ښه وي، که بد ویریږي. یوازې هغه کسان، چې د دغې ویرې پر وړاندې د مبارزې شجاعت لري، کولی شي بدلون او د بدلون سبب ته هرکلی ووایي. ځوان هم، چې د قرآن د پیر له خبرو څخه یې په ځان کې له دننه د بدلون لپاره شور او زوږ اوریده او د ذهني نړۍ د ړنګېدو یوه عجیبه ویره احساسوله، خپل بعدي سوال داسې مطرح کړ:

**داسې احساس کوم، چې د تاسو خبرې ماته د بدلون د تندې لامل شوې؛ خو په ورته وخت کې یو ډول عجیبې ویرې مې وجود نیولی دی او ګورم چې د اوسنۍ دنیا ډېرې بنسټونه مې له منځه د تلو په حال کې دي. ایا د بدلون په لور لاره هواره ده او که په دې لاره کې خنډونه هم شته؟**

ورو ورو د شپې سفر پای ته نږدې کېده او د زمان د کاروان واګې سهار په لاس کې اخیستلې. د قرآن پیر پرته له دې، چې د بې خوبۍ نښې احساس کړي او په داسې حال کې، چې د ځوان د خبرو تنده یې حس کوله، په قاطعیت سره وویل: کله چې سړی د حق په لور ګام اخلي د ژوندانه ازموینې زیاتېږي. حق ته د رسېدو لپاره باید ډېر امتحانونه تېر کړو او له خپلې لارې ډېر خنډونه باید لرې کړو. د حق ستره خزانه د فرهاد غر کندنې ته اړتیا لري. په صحراوو کې د قیس د ګرځېدو اړمنه ده.

زه یو څو هغه موانع، چې قرآن يې يادونه کړې ده، په لنډو درته بيانوم.

کله چې د بدلون په لاره کې ګام اخلې، يوازې ته بدلون نه کوې، بلکه خپلوان او انډيوالان به د هم ستا له بدلون څخه اغېزمن شي. کله چې د حق خوند او مزه وڅکې، پر نورو باندې هم حريص کېږې او ځورېږې، چې ولې له دې خوند نه محروم او بې برخې دي. د حق خوند او لذت هغوی ته هم وړاندې کوې. د بې غرضۍ له حالت نه، يوه فعال حالت ته بدلېږې. خپل بدلون يو ټولنيز بدلون دی. په ټولنه کې به ستا فعاليت ډېرى هغه کسان، چې له موجوده حالت نه ګټه پورته کوي، اندېښمن کړي، لکه څنګه چې د بدلون په بهير کې خپل محاسب ذهن ښه په خطر کې ويني، خپلوان او دوستان دې هم خطر حس کوي؛ بناءً د انسان پر وړاندې لومړنی مانع له محاسب ذهن، سرکښه نفس او دوستانو څخه را پيدا کېږي. دغه موانع که څه هم په لومړيو کې په فيزيکي توګه خطرناکه نه وي، خو په فکري او ذهني کچه پر انسان باندې زيات فشار راوړي. محاسب ذهن او نږدې دوستان، چې ستا د بدلون په نسبت خپل جهان په خطر کې ويني، د کافي وخت د درلودلو په نيرنګ سره درته راځي او درته وايي، چې حق ته د رسېدو لپاره ډېر وخت دی. اوس له باطلو شيانو خوند واخله، بيا به توبه وکړې او په يوه مناسب وخت کې به د حق په طرف لاړ شو. خو دا درواغ دي؛ ځکه هر څومره چې په باطل کې ژور لاړ شې، په هماغه کچه به ترې را وتل ګران شي. هر څومره چې له باطل سره عادت واخلې، په هماغه اندازه به حق هېر کړې؛ يوه ورځ به مرګ په داسې حال کې د سر له پاسه ومومې، چې ګمراهو ملګرو او نفس اماره د وعدو لپاره به وخت ونه مومې. د يوسف عَلَيْهِ السَّلام وروڼه د همدې چل او نيرنګ ښکار شول.

**اقْتُلُوا يُوسُفَ أَوِ اطْرَحُوهُ أَرْضًا يَخْلُ لَكُمْ وَجْهُ أَبِيكُمْ وَتَكُونُوا مِنْ بَعْدِهِ قَوْمًا صَالِحِينَ**[۱] **«(نو پر دا خبره يې سره تړون وکړ، چې) څئ، يوسف عَلَيْهِ السَّلام ووژنئ، يا هغه چېرې وغورځوئ، چې ستاسې د پلار پاملرنه يوازې ستاسې لوري ته را واوړي او ددې کار له کولو څخه وروسته بېرته نېکان شئ».**

که چېرې دغه ازمايښت په برياليې ډول سره پای ته ورسوې، د خپلوانو اندېښنې زياتېږي او کرار کرار خپلې اندئښنې په مستقيمه توګه څرګندوي او غواړي روحي او رواني فشار زيات کړي. دا ځل په يوه ډېر نرم او صميمانه طرز راځي او درته وبه وايي، چې له تا يې دا تمه نه درلوده. ته يې له دې لوړ ګڼلې، چې لاره به دې بدله کړې. له تا يې دا تمه نه درلوده، چې هغوی به يوازې پرېږدې. په دې کار سره يې د تا عقلانيت او عظمت تر پوښتنې لاندې راځي. **قَالُوا يَا صَالِحُ قَدْ كُنْتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَذَا**[۲] **«هغوی وويل: اې صالح! له دې څخه وړاندې ته په موږ کې يو داسې سړی وې، چې ډېرې هيلې در پورې تړلې وې».**

که د دوستۍ او صميميت لاره اغېزمنه واقع نه شوه، نو کرار کرار دغه دوستانه خنډ يو خصمانه رنګ ځان ته غوره کوي. ورو ورو نور هم سخت روحي او رواني بريدونه پيل کېږي. په داسې تازه القابو سره، چې پوهېږي د هر انسان لپاره ازارووونکي او ځورووونکي دي او د هغه د خپګان سبب کېږي، تا تر فشار لاندې نيسي. تاته به د جاهل او بې عقله خطاب وکړي. وروسته پاتې، زوړ

---

[۱] سوره. يوسف، آيه. ۹

[۲] سوره. هود، آيه. ۶۲

فکره، بنسټ پاله، افراطي، لېونی او نور هغه القاب دي، چې د بدلون په بهیر کې باید د هغو کوربه و اوسې. الهي پیغمبران هم د دا ډول طعنو او القابو مخاطب وو او ځوابونه یې په قران کې دا رنګه درج شوي دي. **قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي سَفَاهَةٌ وَلَكِنِّي رَسُولٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ**[۱] **«هغه (هود عَلَيْهِ السَّلام) وویل: اې زما قومه! زه په ناپوهۍ کې اخته نه یم، بلکه زه د کائیناتو د پالونکي پیغمبر یم»، قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي ضَلَالَةٌ وَلَكِنِّي رَسُولٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ**[۲] **«هغه وویل: اې زما قومه! زه په کومه ګمراهۍ کې نه یم اخته شوی، بلکه زه د کائیناتو د پالونکي پیغمبر یم».**

له القابي طعنو سره همزمان، نورې طعنې هم لورېږي. داسې طعنې، چې ته او ستا هم فکره بېوسه دي، په ټولنه کې له یوه ښه موفقیت څخه برخمن نه یاست، ستاسو خبرې نه اورېدل کېږي، درناوی مو نه کېږي، د ټولنې په ټیټه طبقه کې قرار لرئ، که چیرې تاسې ښه او حق وای، نو بیا ولې ټولنیزه سرلوړي او خوشالي د تاسې په برخه نه ده. رسول الله ﷺ هم د دا ډول رواني فشارونو لاندې راغلی و؛ د بېلګې په توګه: **وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَذَا الْقران عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ**[۳] **«وایي: دغه قران د دوو ښارونو (مکې او طایف) له لویو سړیو څخه پر یو چا باندې ولې نازل نه کړای شو؟».**

همدا شان نوح عَلَيْهِ السَّلام د خپلو پیروانو په خاطر پرې طعنې ویل کېدې.

---

[۱] سوره. الأعراف، آیه. ۶۷

[۲] سوره. الأعراف، آیه. ۶۸

[۳] سوره. الزخرف، آیه. ۳۱

**فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهِ مَا نَرَاكَ إِلَّا بَشَرًا مِثْلَنَا وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّأْيِ وَمَا نَرَى لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَاذِبِينَ[۱]**

**«په ځواب کې د هغه د قوم هغو مشرانو، چې د هغه د خبرې له منلو څخه يې انکار کړی ؤ، وويل: زموږ په نظر کې خو ته له دې پرته نور څه نه يې، يوازې زموږ غوندې يو انسان يې او موږ ګورو، چې زموږ له قوم څخه يوازې هغو کسانو، چې زموږ په وړاندې ټيټ خلك وو، بې فکره او بې غوره يې ستا پيروي غوره کړې ده. او موږ هېڅ شی هم داسې نه مومو، چې په هغه کې تاسې زموږ څخه څه لوړوالی ولرئ؛ بلکه موږ خو تاسې درواغجن ګڼو».**

رواني فشارونه يو حد لري او کله چې وليدل شي، د رواني فشارونو پايله بې اثره ده، نو د حق د تحريف او انحراف لپاره هڅې پيل کېږي. کله يې چې وليدل، په رواني فشارونو سره نه شي کولی تا له خپلې لارې را وګرځوي، د وروستي ځل لپاره له صميميت او دوستۍ څخه استفاده کوي او غواړي د تا د لارې په تحريف سره، د تا حق نرۍ له خپلې باطلې نرۍ سره پخلا او يو ځای کړي او د دوه متضادو جهانونو په يو ځای کولو سره، يوه درېيمه لار را پيدا کړي، تر څو دواړه ډلې په دغې درېيمه لاره کې له يو بل سره، د حق او باطل له يوه مخلوط څخه، په همزيستۍ او ګډ ژوندانه کولو سره وخت تېر کړي. دا پړاو د بدلون منلو او بدلون راوړنې تر ټولو خطرناک دی؛ ځکه له يوې خوا ګورې له هغو کسانو سره په يو ځای کېدو، چې پر تا يې ستر فشارونه راوړل، واک او قدرت د زياتېږي او له بل پلوه ځينې هغه اصول چې زه يې لرم هم

---

[۱] سوره. هود، آيه. ۲۷

زیان نه مومي. نو اصل صبر او استقامت دلته څرګندېږي. د حق سترو اشخاصو په دې مرحله کې ځان بایللی دی. **وَإِنْ كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ وَإِذًا لَاتَّخَذُوكَ خَلِيلًا**[1] **«[اې محمده ﷺ!] دوی ستا په فتنه غورځولو کې هېڅ سُستي ونه کړه؛ له هغې وحې څخه دې را واړوي، چې موږ درلېږلې ده، تر څو چې ته زموږ پر نوم له خپله ځانه کومه خبره جوړه کړې. که تا داسې کړي وای، نو هغو هرو مرو ته په دوستۍ نیولې».**

که چېرې له دغه خنډ نه په بریالیتوب سره تېر شئ، نور به دې درول ستوزمن وي. خپل مخالفین به د ناهیلي کړې. د ناهیلۍ نښانې به یې په څهرو کې وګورې. د حرص او کینې اور به یې په سترګو کې درته ښکاري. هغوی به د وروستۍ وسیلې په حیث، له فیزیکي تودې جګړې له تهدیدونو کار واخلي. د زندان او تعذیب کوربه به یاست. او که قدرت ولري، ان په وژلو به دې هم سوچ وکړي. **قَالُوا إِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ لَئِنْ لَمْ تَنْتَهُوا لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ**[2] **«د کلي خلکو وویل: موږ خو تاسې د ځان لپاره بد شګوم ګڼو؛ که تاسې لاس وانخلئ، نو موږ به مو سنګسار کړو او زموږ لخوا به تاسې ته دردناک عذاب ورسېږي».**

---

[1] سوره. الإسراء، آیه. ۷۳

[2] سوره. یس، آیه. ۱۸

## خلیفه کېدل

ورو ورو د ځوان او د قرآن د پیر خبرې اترې له الفاظو اوښتې او زړونه یې له یو بل سره د داسې امواجو په تبادله کې ؤ، چې کولی یې شول یو بل درک کړي. د زړه له زړه سره د خبرو اترو د دوام لپاره الفاظ، یوه پلمه ګرځېدلي ؤ. د ځوان زړه، چې د ځوړ په لور د سپوږمۍ په حرکت خبر ؤ، چې د قران له پیر سره نور نو زیات وخت نه لري، نو غوښتل یې، چې تر بلې غونډې پورې له جلا کېدو مخکې، د قران له پیر خپلې وروستۍ پوښتنې وکړي:

**که چېرې وغواړم له تاسو یو څو ټولییز نصیحتونه واورم، هغه به څه وي؟ که وغواړم د سعادت یوه لنډه لار در څخه وپوښتم، نو د هغه لپاره به یو لنډ ځواب څه وي؟**

د قرآن پیر دا ځل خپلې خبرې د رسول الله ﷺ د یوه حدیث په را روایت کولو سره پیل کړې: له حضرت فاروق اعظم، عمر بن خطاب رضی لله عنه نه روایت دی، چې کله پر رسول الله ﷺ باندې وحی را نازلېده، د هغو کسانو غوږونو ته، چې د رسول الله ﷺ په شاوخوا به ناست وو، د شاتو د مچۍ د غږ په څېر یو غږ به رسېده؛ یوه ورځ د ده په خوا کې داسې یو غږ واورېدل شو، ودرېدم، تر څو هغه وحی چې تازه راغلې ده، هغه واورم. کله چې د وحی له ځانګړې کیفیت څخه فارغه شو، آنحضرت ﷺ مخ پر قبله کېناست او داسې دعا یې وکړه: اې الله! موږ ته زیات راکړه، مه یې کموه او زموږ عزت زیات

کړه، مه مو ذلیله کوه او نورو ته پر موږ ترجیح مه ورکوه، له موږ راضي اوسه او موږ دې په خپل رضایت سره را ضې وګرځوه؛ بیا یې وفرمایل: اوس پر ما داسې لس ایاتونه را نازل شوي دي، که هر څوک پر هغو عمل وکړي، سیده به جنت ته داخل شي. بیا یې د سورة مؤمنون لس لومړني ایاتونه تلاوت کړل.

په دغو لسو ایاتو کې شپږ داسې موارد دي، چې پر هغو باندې په عمل کولو سره کولی شو، فلاح او سعادت ته ورسېږو. دغه شپږ موارد هم په فردي ژوندانه پورې تړاو لري او هم په ټولنیز ژوندانه پورې، چې د فلاح او کامیابۍ په زېري سره پیل کېږي. **قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ * الَّذِينَ**[1] **«په باوري ډول مؤمنانو بری موندلی دی، هغه کسان...»**

لومړی: لکه څنګه، چې له مادي بعد او د روح له نفی سره د انسان بې حد او حصر تړاو، د مډرن انسان او د ډېرو ظاهر پالو انسانانو د فلج کولو لامل ګرځېدلی دی، پرته له عاجزۍ عبادت، چې د علماؤ په وینا سره د عبادت روح ګڼل کېږي، عبادت فلج، بې خونده او بې روحه ګرځوي. د عباداتو ترمنځ، تر ټولو غوره د عباداتو چې ډېر زیات ټینګار پرې شوی دی، هغه لمونځ دی. او لومړنی مورد له هغو شپږو مواردو څخه، چې انسان فلاح او کامیابۍ ته رسوي، د دغه عبادت روحاني کول او روح ور بښل دي. **الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ**[2] **«هغه (کسان)، چې په خپل لمنځونو کې عاجزي غوره کوي».**

الله تَبَارَک وَتَعَالَی انسان په ځمکه کې خلیفه پیدا کړی دی. خلیفه والی تر

---

[1] سوره. المؤمنون، آیات. ۱-۲

[2] سوره. المؤمنون، آیه. ۲

ټولو داسې یو ستر او سخت ترینه هدف دی، چې انسان د هغه لپاره پیدا شوی دی. خلیفه باید د ځمکې رغولو لپاره هڅه وکړي او پر ځمکه کې، په مشروع توګه د فساد مخه ونیسي. خلیفه باید د ټولې ځمکې په فکر کې وي، نه یوازې خپله قبیله، قوم، هم فکره، هم مذهبه، هم ژبي او هېوادوال. دا یوه ډېره ستره او لویه دنده ده او دغو ټولو ته د رسېدو لپاره انسان باید پوخوالي ته ورسېږي. عبادات پوخوالي ته د انسان د رسولو لاره ده، تر څو هغه خلیفه کېدو ته تیار کړي. له عباداتو څخه لمونځ د انسان د روزنې او پوخوالي لپاره یوه بهترینه او مؤثره کړنه ده؛ بناءً فلاح ته د رسېدو لومړنی مورد د لمانځه تکمیل او د لمانځه روح محوروالی تعین شوی دی؛ په لمانځه کې عاجزي. لومړنی مورد فردي پایلې لري او فرد له خپل ځان سره سوله کې ګرځوي او په فردي پوخوالي پای مومي.

دویم: مډرن انسان د روح د نفی په ناکامه هڅې سره، غواړي، چې د روح غذا (معنویت او تدین) قطع کړي، خو دا چې د روح لوږه ناشونې ده، نو د خپل وږي روح د فریادونو د ځوابولو لپاره یې باطله او بېهوده پالنه غوره کړې ده. د مذهبي مراسمو ځای د موسیقۍ مراسمو نیولی دی. د نوستلجیا (Nostalgia) په حس سره پخوانیو معابدو ته تلو، د سیاحت تر نامه لاندې عبادتځایونو ته د تلو ځای نیولی دی. د رقص، نڅا او شرابخوریو محافلو د دیني او کلتوري مجالسو ځای نیولی. د کمېډۍ په نامه د مسخره چیانو اورېدلو، د دیني وعظونو اورېدو ځای نیولی.

سربېره پر دې، چې یو بېهوده کار دی، چې انسان ته یې کومه ګټه نه شته، هغه له خپل اصلي هدف څخه هم لرې کوي، بېفایده کار هغه څه دی، چې

انسان بوخت ساتي او دغه بوختیا هدف ته د رسېدو لاره اورډوي. د بېلګې په توګه، د مډرن مسلمان یو هدف دا دی، چې دا ملت له خپل اوسني دردوونکي حالت څخه وباسي، داسې یو دردونکی حالت، چې په هغه کې په هر ډول وسلو سبمال دښمنان په پوره بې رحمۍ او بې انصافۍ سره، د هغوی په قصابۍ اخته دي؛ په داسې یوه حالت کې په فروعي مسایلو اختلاف او بوختېدل، هیڅ مانا نه لري. کله چې ته د سود په پیسو معامله کوې، نو د یوه مسلمان په صورت او د وینښتانو په شکل باندې مصروفه کېدل بې فایدې دي. کله چې جهان ټول بې عدالتیو نیولی دی او موږ په دې مصروف یو، چې یو مظلوم کارګر ولې د خپل کار له جامو سره، پرته له کوم زینت نه جومات ته راغلی دی؛ دا یو بې ګټې بحث دی.

هغه انسان، چې په بې فایدې او عبث کارونو کې ډوب وي، د خلیفه په توګه د سترې وظیفې ساتنه نه شي کولی، له همدې امله، فلاح ته د رسېدو لپاره باید له دې پدیدې څخه ډډه وشي. **وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ**[۱] **«او هغه (کسان) چې له عبثو او ناکاره کړنو څخه مخ اړوونکي وي».**

د عبثیاتو تر ټولو لږ زیان، په بې ګټې کارونو کې پرله پسې بوختیا او د دنیا له ځل او بل سره بې حده مینه دا ده، چې د انسان له زړه څخه درد لرې کوي. بالاخره درد خپلې نیمګړتاوې، د نورو دردونه، د ځمکې پر مخ د فساد درد او د ټولو ناخوالو درد، چې په شاوخوا کې لیدل کېدی شي وي. د دې درد په نه شتون سره، د انسان بې ځایه خبرو او کړنو ته توجه دومره زیاتېږي، چې په

---

[۱] سوره. المؤمنون، آیه. ۳

خپله په يوه بېهوده، بې مانا او بې کرداره انسان بدلېږي او دا شان د نورو د درد نه درلودل، انسان له نورو انسانانو لرې کوي، هغه يو متعصب، متکبر او خود غرضه انسان جوړوي. ښايي کله د يوه مظلوم ماشوم، د يوه بېچاره پلار او د کوم فساد لپاره اواز وچت کړي او يا ان قيام وکړي، خو دغه کارونه له بې درده انسانانو هغه وخت تر سره کېږي، چې خپلې ګټې يې په خطر کې وي او يا په هغه کې خپلې ګټې ويني (ننی اکثريت رهبران، د مدني ټولنو ځينې غړي او د بشر د حقونو اکثره مدافعان د دې ډول فعاليتونو ځرګند مثالونه دي).

له بل پلوه د خدای محوره کم ترينه ګټه دا ده، چې انسان له عبثياتو او ناکاره کړنو څخه لرې کوي. خدای محوره انسانان نه شي کېدلی عبث او بې مانا خلک د وي؛ که چېرې يو څوک هم خدای محوره او هم يو ناکاره او بېهوده کس وي، نو نفاق په هغه کې سرايت کړی دی. خدای محوره انسانان، بې درده نه دي او د مظلوم د حق او د ظالم د بې انصافۍ پر وړاندې، د دوی غږ او ناره د شخصي ګټو لپاره نه وي، بلکه دا هغه غږ دی، چې له يوه دردناک زړه څخه يې را باسي؛ ان له دې غږونو څخه د شهرت او درناوي تمه هم نه کوي.

دويم مورد هم فردي او هم ټولنيز اړخ لري؛ له عبثياتو او ناکاره کړنو څخه په لرېوالي سره، د دغې پديدې پېرودونکي کمېږي او بازار يې له کساد سره مخ کېږي.

درېيم: اقتصادي نابرابري او يو بل ته د ټولنې د غړو نه پاملرنه، د اقتصادي طبقاتو د رامنځته کېدو لامل کېږي او تر دې بده، د دې طبقو تر منځ د کرکې د رامنځته کېدو سبب ګرځي. متخاصم طبقات بيا، تل له يو او بل څخه د بدې

استفادې او کارونې په فکر کې کېږي او د يوه مشترک هدف په لور حرکت غير ممکن وي. د دې لپاره، چې فقرا او بډايه، د يوه ټولنيز حقيقت په توګه وکولی شي يو او بل منونکي وي، نو زکات د اکسير يوه نسخه ده؛ ځکه پرته له دې، چې کوم منت او احسان د وکړلی شي، له غير منصفانه نابرابرۍ څخه مخنيوی کوي. بناءً، فلاح ته د رسېدو لپاره درېيم مورد زکات دی. **وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ**[1] **«او هغه (کسان)، چې د زکات په کړنلارې عمل کوي».**

څلورم: د دې لپاره، چې انسان په فردي او بشريت په ټوليزه توګه وکولی شي، د خلافت دنده په سمه توګه ترسره کړي، له فحشا او شهواتو لرېوالی او ټولنيز نظم اړين دی. فحشا انسان په فردي توګه په ځان کې غرقوي، له خپل هدف څخه يې لرې کوي او په ټولييزه توګه د کورنۍ بنسټ له منځه وړي او د کورنۍ د بنسټ په نړېدو سره ټولنيز نظم له منځه ځي او ګډوډي را منځته کېږي، چې انسان په فردي توګه او ټولنه کې په جمعي توګه په ځان کې مصروفوي او له خپل هدف څخه يې لرې کوي. بناءً، له هغو شپږو مواردو څخه، چې انسان فلاح ته رسوي، څلورم مورد يې له فحشا څخه لرېوالی دی. **وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ**[2] **«او هغه (کسان)، چې د خپلو شرم ځايونو ساتنه کوي».**

پينځم: د يوې سترې ټولنيزې موخې په لاسته راوړلو کې، د برياليتوب کچه د دې ټولنې په غړو کې ذات البيني اعتماد او باور ټاکي. په ټوليز ډول، خلافت ته رسېدل يوازې هغه وخت ممکن دي، چې د دې ستر هدف لپاره

---

[1] سوره. المؤمنون، آيه. ۴

[2] سوره. المؤمنون، آيه. ۵

مبارزه کوونکي انسانان يو پر بل اعتماد ولري. دوه هغه موارد، چې اعتماد او باور له منځه وړي، بد قولي او د امانت ضايع کول دي. هغه انسان، چې په خپل قول يې ونه درېږي او هغه انسان، چې امانت خيانت کړي، هېڅکله د اعتماد وړ نه ګرځي. په کومه ټولنه کې، چې بې باوري او بدقولي رواج ومومي؛ نو په هغې ټولنه کې دوکه او له يو بل څخه بده استفاده خپل اوج ته يې رسېږي. دغه ټولنه بيا هېڅکله نه شي کولی، چې د يوه ګډ هدف لپاره وجنګېږي. دا ټولنه به تل پخپلو داخلي ستونزو کې غرقه وي. شريکې ګټې به هغه وروستی مورد وي، چې د ټولنې په ټوليېز ذهن کې را ګرځي. په داسې يوه ټولنه کې به پورته بحث، پرته له عمل نه يوازې د خولې خبرې وي، نه شريکې ګټې.

پينځم مورد د ټولنې په غړو کې د اعتماد او باور جوړونې ټينګار دی. **وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ**[1] **«او هغه (کسان)، چې د خپلو امانتونو، ژمنو او تړونونو لحاظ ساتي».**

شپږم مورد: په لمانځه کې خشوع او عاجزي دومره د اهميت وړ او حياتي ده، چې د دغو مواردو په بحث کې د لومړي مورد په توګه ذکر شو خو لکه څنګه، چې لمونځ پرته له خشوع او عاجزۍ څخه بې روح دی، پر لمانځه باندې پرته له مداومت نه خشوع هم ناشونې ده. که چېرې يو څوک نن په لمانځه ادا کولو پيل کوي، دا تمه نشو کولی، چې په لومړۍ ورځ دې د هغه لمونځ په کامله خشوع سره وي؛ بلکه دې ته اړتيا ده، چې په لمانځه باندې په مداومت هڅې او د هرې ورځې په تېريدو سره لږ لږ خپله خشوع زياته کړي.

[1] سوره. المؤمنون، آيه. ۸

که چیرې مداومت د خشوع سبب کېږي، نو بیا ولې خشوع له مداومت نه وړاندې راغلې ده؟ ځکه پر لمانځه باندې د مداومت په لړ کې، نه باید د زیات خاشع کېدو لپاره، هڅه او هاند هېر کړو. **وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ**[1] **«او هغه (کسان)، چې د خپلو لمونځونو ساتنه کوي».**

[1] سوره. المؤمنون، آیه. ۹

## له قران نه زدکړه

علم یا پوهه هغه مهال اغېزمنه او په زړه پورې کېږي، چې خپل مخاطب په هغه کې ومومي. مخاطب خپل ژوند او د ژوندانه کړنلاره او معمول په هغه کې ومومي. مخاطب داسې وانګېري، چې د هغه په پلې کولو او نه پلي کولو سره، به یې په ژوندانه کې خامخا بدلونونه راشي. ځوان چې د قران د پیر په خبرو کې ځان او خپل ژوند موندلی ؤ، د علم په اړه یې وپوښتل:

**هر څوک قرآن لولي، خو ډېر کم کسان داسې شته، چې د قرآن د علم په کارولو سره، خپل مخاطبین او د مخاطبینو ژوند یې په مستقیم ډول هدف ګرځوي. قران د حکمت خزانې څنګه پرانیزي؟ او یا په بل عبارت سره، له قرآن څنګه زدکړه وکړو؟**

د قرآن پیر په داسې حال کې د یوه داسې نښانې په توګه، چې د شپې د وروستیو شېبو ښکارندوي و، خپل مېز برابراوه، په ځواب کې یې وویل: زده کوونکي کولی شو، په درې ډلو سره وېشو؛ غیر حرفوي، بهر تلونکي او ماهرین. غیر حرفوي هغه کسان دي، چې په محض د دې، چې یوه موضوع ولولي یا یې په اړه معلومات پیدا کړي، لېواله کېږي او داسې انګېري، چې موضوع یې کاملا درک کړې ده؛ مثلا یوه مقاله یې د هغو موجوداتو اړوند ولوستله، چې په ځمکه کې نه دي، (مثلا ملایکه او...میتا فیزیکي موجودات) فکر کوي، چې په دې برخه کې ډېر علم لري او هر ځای کې، چې په هره

موضوع بحث وي، دی بحث همدې موضوع ته را کاږي او د ځمکې موضوع په يو ډول د ډولونو د فضايي موجوداتو پر لور بيايي او په وياړ سره غواړي، خپل علميت ثابت کړي. بهر تلونکي له بل پلوه د ځان لپاره د پوهې يو سرحد ټاکي او نه غواړي د پوهې له هماغې درجې څخه وړاندې لاړ شي؛ مثلا غواړي د فلسفې، دين، سياست، اجتماع او غيره علومو په يوه برخه کې علم حاصل کړي او بالاخره، يوه لږ ډله ماهرين دي، چې پرمختګ يې حد نه لري او تل په پرمختګ پسې دي او غواړي، چې نن يې له پرون څخه غوره وي. دومره د علم تږي وي، چې غواړي د نړۍ ټول کتابونه تېر کړي، له زياتو مطالعاتو سره سره بيا هم وايي، کم مې لوستي يا مې کمه مطالعه کړې او په خپل جهل او ناپوهۍ يې اعتراف کوي.

قرآن په خپل معجزانه جوړښت سره، يو غير حرفوي زده کوونکی دې ته اړ باسي، چې ماهر شي؛ ځکه قرآن يو داسې کتاب دی، چې په هر ځل لوستلو سره يې د لوستونکي بصيرت او عقل ور زياتوي.

وړاندې له دې، چې قرآن په ښولو پيل وکړي، د ذهن د نامحدودوالي وهم له منځه وړي. قرآن انسان ته ذهني او عقلي تواضع ور زده کوي. قرآن دا ور زده کوي، په داسې حال کې چې د يوه انسان ذهن پراخ او وسيع دی، نا محدوده نه دی. هر څه په عقل کې نه ځايېږي. عقل د ټولې هستۍ د درک کولو وړتيا نه لري. دا ور زده کوي، چې معجزه حق ده، خو طبيعت په خپله يوه معجزه ده؛ د ټول طبيعت درک د انسان د عقل لپاره ناشونی دی. دا ورزده کوي، د دې لپاره نه، چې عقل فلج کړي، بلکه قرآن عقل تحريکوي، خو د دې په خاطر، چې انسان خپل عقل خپل خدای ونه ګڼي، داسې چې هر څه يې په عقل کې جوړ

راغلل، هغه مني او که عقل يې هغه احاطه نه شو کړای، هغه ردوي. **حَتَّى إِذَا جَاءُوا قَالَ أَكَذَّبْتُمْ بِآيَاتِي وَلَمْ تُحِيطُوا بِهَا عِلْمًا أَمَّاذَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ**[1] **«تر دې پورې، چې کله ټول راشي، نو (د هغو رب به له هغو څخه) پوښتنه وکړي، چې ايا تاسو زما اياتونه درواغ وګڼل، په داسې حال کې، چې تاسې د هغو علمي څېړنه (احاطه) نه وه کړې؟ که داسې نه وه، نو نور تاسې څه کول؟».**

د فاتحې له سورة وروسته، لومړنی ايت «الم» دی. دغه ايت په ظاهره کې هېڅ کومه مانا نه افاده کوي، خو له زرهاو درسونو څخه يو ستر درس ورکوي؛ دا چې هر څه د محاسب ذهن په واسطه د درک وړ نه دي او دا چې د انسان ژبه داسې محدوديتونه لري، چې نه شي کولی د ټولې هستۍ حقيقت په کميتي بڼه د الفاظو په قالب کې تشريح کړي. ځينې شيان بايد تجربه کړي. ځينې شيان يوازې احساس کولی شو. ځينې شيان يوازې په شاعرانه او رمزي ژبه د بيان وړ دي. مثلا، د روح حقيقت او روحي تجربې هېڅکله په محاسب ذهن سره نه شو درک کولی او په الفاظو يې نه شو بيانولی.

له عقلي تواضع وروسته، قرآن د ښوونکي په ماهرولو پيل کوي. قرآن د سورة بقرې د پيل په اياتو کې له نورو موجوداتو د خلقت په کيسه کې بحث کوي. د خلقت د کيسې په پيل سره ليدل کېږي، چې الله تَبَارَک وَتَعَالَی پرښتو ته امر کوي، تر څو آدم عَلَيْهِ السَّلام ته سجده وکړي او ابليس له دې کار څخه انکار کوي. **وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَى وَاسْتَكْبَرَ**

---

[1] سوره. النمل، آيه. ٨۴

**وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ[1] «او کله، چې موږ پرښتو ته امر وکړ، چې د ادم په وړاندې سرونه په سجده ښکته کړئ، نو ټولو سرونه ښکته کړل، خو ابلیس انکار وکړ، هغه د خپلې لویۍ په غرور اخته و او د کافرانو له ډلې څخه شو».**

غیر حرفوي زده کوونکی، دلته دا نتیجه اخلي، چې ابلیس د پرښتو له جنسه دی او د پرښتو د فطرت او طبیعت والا دی. یو غیر حرفوي په دومره معلوماتو سره هیجاني کېږي او فکر کوي، چې د پرښتو او ابلیس حقیقت یې درک کړی دی، خو د مطالعې په ادامې سره دا مومي، چې د ملایکو په طبیعت کې د الله تَبَارَک وَتَعَالَی له امر څخه سر غړونه نه ده لیکل شوې او هغوی هر هغه څه، چې ورته امر وشي، هماغه تر سره کوي. **لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ[2] «چې هېڅکله به د الله له حُکم څخه سر نه غړوي او هر امر چې ورته کېږي، هغه به په ځای راوړ».**

قرآن عقل تحریکوي؛ دا څنګه کېدای شي هغه پرښتې، چې په طبیعت کې یې له الهي فرمان څخه پیروي لیکل شوې ده، کافرې کېږي؟ دا څنګه ده، یو داسې موجود، چې اختیار نه لري، پر فرمان منني باندې د کفر د اختیار ازادي انتخاب کړي؟ غیر حرفوي زده کوونکي په بهر کېدونکي یا تلونکي زده کوونکي باندې بدلېږي او د ځان لپاره یو سرحد تعینوي، تر څو دا وموميٍ، چې څنګه ملائکو د خپل فرمان کوونکي له امر سرغړونه کړې ده؟ ورو ورو د علم زده‌کونکی، سورة کهف ته ورسېد او دا درک کوي، چې د الله تَبَارَک

---

[1] سوره. البقره، آیه. ۳۴

[2] سوره. التحریم، آیه. ۶

وَتَعَالَی فرمان یوازې پرښتو ته نه دی، بلکه ابلیس، چې د پیریانو له جنس څخه دی او له ملائکو جلا جوړښت لري او د سجدې د امر اطلاق ملائکه وو ته یوازې د هغوی د ډېروالي په خاطر ؤ او دا چې پیری (ابلیس) له پرښتو سره یو ځای ؤ، د دې فرمان شامل ګرځېدلی دی. **وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِ**[1] **«(یاد کړه چې) کله موږ پرښتو ته وویلو چې ادم عَلَيْهِ السَّلام ته سجده وکړئ؛ نو هغوی سجده وکړه، خو ابلیس ونه کړه. هغه له پیریانو څخه و؛ ځکه د خپل رب د حکم له منلو څخه ووت».**

زموږ په عصر کې، چې هرڅه د علم او تحقیق په نامه راشي، هغه په پټو سترګو منل کېږي، نظریات د علم په ثابت شویو اصولو کې وړاندې کېږي او هر څه، چې د علم او پېژندل شویو علمي بنسټونو له ادرسه را نه شي، په مختلفو برچسپونو سره رد کېږي، عقلي او ذهني توازن هغه بهترینه درس دی، چې باید له قران څخه یې زده کړو.

دا باید درک کړو، چې علم د بشریت لپاره ستري ګټې له ځانه سره راوړې دي؛ خو د بشر د ټولو غوښتنو او اندېښنو ته ځواب ویونکی نه دی. دا باید درک کړو، په کوم څه چې موږ نه پوهېږو، د هغه پر نه شتون یا عدم باندې دلالت نه کوي. دا باید درک کړو، داسې اسرار شتون لري، چې علم ورته لاس رسی نه لري. په دې باید وپوهېږو، که چېرې علم پیري ثابتولی نه شي، رد کولی یې هم نه شي. دا باید درک کړو، چې د ډېرو اندېښنو حقیقت ته د

---

[1] سوره. الکهف، آیه. ۵۰

رسېدو لپاره، په عقلي او ذهني تواضع سره د خدای پر وړاندې په ګونډو شو، تر څو د هغه حقیقت حس کړو او د دغه احساس په وسیله، ارامتیا ته د رسېدو لپاره، خپل باطني فریادونه خاموشه کړو.

همدا راز زموږ په عصر کې، ډلهییزې او ټولنیزې رسنۍ، د خلکو د معلوماتو مهمې سرچینې ګرځېدلې دي. خلک د اخبارو د سر لیکونو په لوستلو سره، پرته له دې، چې ځان ته زحمت ورکړي، چې د دې سرلیکونو منځپانګې مطالعه کړي، د موضوعاتو اړوند قضاوت کوي. لنډې خبرې او خلاصه اقوال، تر ټولو ډېر پېرودونکي لري او اورېدونکي بې له دې، چې ماخذونو ته د تلو زحمت او زیار وباسي، د دې لنډو جملو او اقتباساتو په کتلو سره قاضي کېږي او د خبروپه خاوند قضاوت کوي او یا د موضوع په اړه خپل وروستی نظر ورکوي. هغوی له دې حالت، نه ایډیالېزم یا د خپل فکر عبادت کول عام کړي دي. یو حقیقت، د هغه اړوند د نظر ورکونکو افرادو په تعداد ذهني واقعیتونه لري. هر چا د یوه حقیقت په اړه، د هغو اقوالو او خبرو ته په پام سره، چې دی ورسره مخ شوی، خپل یو جلا ذهنی واقعیت جوړ کړی دی. په یوه ټولنه کې د نظر توحید او یوالی، د عقلي او ذهني تواضع په نه شتون او د اېډیالېزم په موجودیت کې ناشونی کړی دی. د رسنیو بیانونو او روایاتو، د هغې نتیجه ګیري، چې د تفکر، تعقل او تدبر له امله تر سره کېږي، ځای نیولی دی.

په داسې زمانه کې د قرآن پیروانو (مسلمانانو) ته لازمه ده، چې زدکړه له قرآن څخه وکړي، له قرآن سره وخت تېر کړي، له قرآن سره ملګرتیا وکړي، له قرآن سره ویده شي او له قرآن سره فکر وکړي...

## له قرآن څخه د علم اخذ

ډېرې غلط فهمۍ هغه وخت رامېنځته کېږي، کله چې پوښتونکی په سمه توګه پوښتنه ونه کړي، یا ځواب ورکوونکی په سم ډول پوه نه شي. د سوال درک کول، نیمايي ځواب دی. ځوان چې د قران د پیر له خبرو خوښمن او په حیرانتیا کې و، فکر یې کاوه کوم ځواب یې چې غوښت، هغه یې نه دی تر لاسه کړی؛ نو خپل سوال یې په بل ډول مطرح کړ، ویې ویل:

**د تاسې خبرې جالبې او په زړه پورې وې، خو فکر کوم ما خپله پوښتنه په سمه توګه نه ده وړاندې کړې، په داسې حال کې د قرآن د ښوونې کومه طریقه او میتود ګټمن او زموږ د وخت یوه مهمه اړتیا ده؛ خو زما پوښتنه په حقیقت کې پر دې محور را څرخي، چې څنګه کولی شو له قرآن نه علم زده کړو؟**

د قرآن پیر په داسې حال کې، چې پر شونډو یې ښکلې موسکا درلوده، د ښېنې په غوښتنه یې بیان کړل، چې نه تاسو سوال ناسم مطرح کړی او نه ښایي ما سوال ناسم فهم کړی وي، بلکه دا مې لازمي وګڼله، ستا ځواب ته له رسېدو وړاندې، د قرآن د ښوونو له طریقو یو څه بیان کړم.

د قرآن د ظاهري احکامو (فقه او قانون) د زده‌کړې لپاره باید له تفکر، تدبر او تعقل څخه استفاده وکړو. قرآن کریم وروسته له څو ایاتو او مسایلو، عقول مخاطب ګرځولي او له هغه غوارې فعاله شي او د قرآن کریم له ایاتو علمي او فقهي برداشتونه وکړي. د فردي او ټولنیز ژوندانه د تنظیم او د حد اقل مسلمانیت (تسلیم والي) ته د رسېدو لپاره، په همدې طریقه د علم اخذ کول

کافي دي. له دغې طريقې په استفادې سره، کولی شو د عباداتو، حسناتو او منهياتو حکمت ته ورسېږو او فردي او ټولنيز خير له هغه برداشت کړو؛ خو انسان داسې يو تخم دی، چې تر لا يتناهي پورې د سترېدلو قدرت لري. د دې تخم د تحرک او د قرآن باطني مانا ته د رسېدو لپاره او په قرآن کې د هغو پټو ډېرو حکمتونو د پوهېدو لپاره، چې کولی شي انسان د عظمت تر ټولو ستر حد ته ورسوي، قرآن بايد په خپله ځان زموږ پر مخ خلاص کړي. بايد قرآن په خپله حکمتونه يې بيان کړي. دغو پټو حکمتونو ته د رسېدو لپاره، يوازې عقلي ځواک بسنه نه کوي. دغه حکمتونه په کميتي بڼه د اخذ وړ نه دي، بلکه په کيفي بڼه د باطني کېدو وړ دي. د دغو حکمتونو په اخيستو سره، انسان له حد اقل (تسليم والي) د ترفيع (ايمان) پر لور قدم پورته کوي.

الله تَبَارَک وَتَعَالَی د دغه ستر کتاب اړوند فرمايي: **إِنَّهُ لَقران کَرِيمٌ * فِي كِتَابٍ مَكْنُونٍ * لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ**[۱] **«چې بېشکه دا يو لوړ مقامی قران دی په يو محفوظ کتاب کې ثبت، چې له پاکانو پرته يې څوک نه شي مسح کولی (نه دې مسح کوي، مګر پاکان)».**

له دې ايت نه يو برداشت هماغه فقهي برداشت دی، چې په دې ايت کې د فقهاؤ د تفکر او تدبر پايله وي؛ د قرآن د لمس کولو او تلاوت کولو لپاره، بايد پاک يو. بناءً وړاندې د قرآن له لمس کولو او تلاوت کولو نه، بايد اودس وکړو. خو په دې اياتو کې يو بل حکمت شتون لري او هغه دا، چې د قرآن باطني ماناو ته د رسېدو لپاره او په قرآن کې پټو حکمتونو ته د رسېدو لپاره، بايد

[۱] سوره. الواقعه، آيه. ۸۷

پاکۍ ته ورسېږو؛ څکه دغه معاني په هغه کتاب کې (پټ) ځای لري، چې پرته له پاکانو بل څوک ورته لاس رسی نه شي پیدا کولی. د دې لپاره، چې دغو معانیو ته ورسېږو، باید پاک شو. خپل زړه باید پاک کړو، تر څو هغو حکمتونو ته، چې په قرآن کې نغښتلې دی، ورسېږو. ښايي يو څوک د قرآن مفسر وي او خپل ټول عمر يې د قرآن په تحقيق کې تېر کړی وي، خو که پاکۍ ته نه وي رسېدلی، خپل زړه ته يې صيقل او صفايي نه وي ورکړې او فکر يې نه وي تطهير شوی، نه شي کولی دغو معانيو ته ورسېږي. هغه به له قرآن څخه فقهي مسايل را بهر کړلی شي، خو نه شي کولی د قرآن ستر او لایتناهي باطني جهان ته ورسېږي.

په حقيقت کې د دې لپاره، چې له قرآن څخه زده‌کړه وکړو، باید له قرآن سره دوستي وکړو او د دې لپاره، چې قرآن له موږ سره دوستي وکړي، باید پاک شو. پاکېدل هم يوازې پر قرآن باندې د عمل کولو په واسطه تر لاسه کېدونکي دي. باید روحي ترفيع ته ورسېږو، باید له روحاني مېوو څخه را ټولې کړو او یا په بل عبارت، هماغه دوه اړخيزه روزنه باید عملي کړو؛ **قرآن زده کړو، تر څو پاک شو او پاک شو ترڅو قرآن يې را زده کړي.**

يو له هغو مواردو، چې زموږ پر مخ د قرآن د خلاصېدو لپاره لازمي دی، زموږ له مخکنيو شته (باورونو او افکارو) څخه د فکر تطهير دی. ډېری وخت له کتابونو څخه زموږ برداشت، د کتابونو د متونو مقصد نه وي، بلکه ځان له کتابونو برداشتوو. له يوې خبرې نه متفاوت افراد، متفاوت برداشتونه کوي؛ څکه هغوی د ليکوال په مقصود پسې نه دي، بلکه په دې پسې دي، چې ځان د هغه په متونو کې ومومي. قرآن ته باید د دې لپاره مراجعه ونه وکړو، تر څو

کوم فکر چې لرو، هغه راته اثبات کړي، (یعنې د خپل فکر د اثبات په موخه، باید قرآن ته مراجعه ونه کړو)، بلکه قرآن ته په تواضع او عاجزۍ سره مراجعه وکړو، تر څو هغه فکر، چې موږ نه لرو، هغه راته راکړي. قران ته د دې لپاره باید مراجعه ونه کړو، چې خپلې پوهې ته ځواک او تقویه ورکړو، بلکه قرآن ته باید د دې لپاره مراجعه وکړو، تر څو زموږ ناپوهي په پوهه بدله کړي. له قرآن څخه باید د خپلو افکارو د تقویت لپاره د یوې وسیلې په توګه استفاده ونه کړو، بلکه قرآن باید د خپلو افکارو او انګېرنو پر ځای، د حق لپاره استفاده کړو.

د قرآن جوړښت اعجازي او جذاب دی. په داسې حال کې، چې حجم یې ډېر زیات نه دی، د امر او نهی د احکامو لرونکی دی او بشري قوانین په حیرانوونکې توګه بیانوي. الله تَبَارَک وَتَعَالَی کولی شول، قوانین لکه د بشر په لاس د جوړ شویو قوانینو په ډول، ماده واره بیان کړي، خو قرآن کله نهی د امر په قالب کې بیانوي او فرمایي، چې باید د هغه خلاف ونه کړل شي او کله یې امر د نهی په قالب کې بیان کړی او وایي، د هغه خلاف وکړئ. قرآن کریم کوم سورة د احکامو په نوم نه لري، بلکه د قرآن احکام او قوانین په ټول قرآن کې د کیسو او تاریخي مثالونو په جریان کې په داسې ډول بیان شوي، چې دا ور ښيي، قوانین باید د متحجرو او تحمیلي اوامرو په توګه بیان نه شي، بلکه باید په یوه اغېزمن او اخلاق محورانه طریقه وړاندې شي، چې طاغي بشر اخلاقي، قانونمند او نظامند کړي.

پاک خلک په دې جوړښت کې ښېګڼې مومي او ناپاکان خپل ځان، د قران جوړښت داسې دی، چې د انسان د ازمایښت مقصود ورته پوره کوي؛ که چېرې قرآن ته د زړه په ناپاکۍ سره مراجعه وکړئ او وغواړئ، چې د هغه په

واسطه خپله قلبي ناپاکي، پاکي وښايئ، نه شئ کولی، له هغه زدکړه وکړئ؛ خو که چېرې قرآن ته د زړه او فکر په پاکوالي سره مراجعه وکړې، ناپاکي به له تا لرې کړي. **يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا وَيَهْدِي بِهِ كَثِيرًا وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلَّا الْفَاسِقِينَ**[۱] **«په دې شان الله په همدې يوه خبره ډېر خلک په ګمراهۍ کې اخته کوي او ډېرو ته سمه لار ښيي...».**

[۱] سوره. البقره، آیه. ۲۶

# قران او تاریخ

فریدریک هګل ویلي، چې «یوازینی شی، چې له تاریخ څخه زده‌کوو دا دی، چې له تاریخ نه هېڅ نه زده کوو». د هګل دغه وینا، که څه هم په ځینې شرایطو کې صدق کوي، خو په ډېرو مواردو کې ناسمه ده. د تاریخ په نه شتون کې زده کړه نیمګړې ده. پرته له تاریخ به ننینو اکثرو علومو شتون نه درلود. د تاریخ په نفی سره، ټولنپوهنه او نور ډېری بشري علوم منتفي کېږي. له تاریخ نه زده کړه، د تاریخ د څېړونکي د استفادې په څرنګوالي پورې تړاو لري.

ځوان له تاریخ سره یو عجیبه شوق درلود او په محض د دې سره، چې د قرآن پیر د قرآن او تاریخ تر منځ د ارتباط یادونه وکړه، په شور او شوق سره یې خپله پوښتنه داسې مطرح کړه:

**تاسو د علومو او قرآن یادونه وکړه، غواړم په قرآن کې د علم اړوند پوه شم. د تاریخ له علم سره زیاته لېوالتیا لرم، ایا کېدای شي، د قرآن او تاریخ له یوه خاص مورد څخه راته ووایئ؟**

د قرآن پیر وویل: ځینې علماؤ قرآنکریم په درې عمومي برخو سره وېشلی دی؛ په داسې حال کې، چې مخ یې د اسمان پر لور و او د تاریکیو له وروستیو شېبو یې خوند اخیست، ادامه یې ورکړه؛ د قرآن کریم عمده او حیاتي برخه توحید تشکیلوي، دویمه او ضروري برخه یې احکام جوړوي او بالاخره وروستۍ او د انسان او ټولنې معرفي کوونکې برخه یې، قصص (تاریخ) تشکیلوي.

قرآن کریم څو ځلې په امریه او د استفهامي سوالونو په بڼه، د تاریخ په لوستلو سره تشویق او ترغیب کړی دی. **قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلُ كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُشْرِكِينَ**[۱] **«[اې پېغمبره ﷺ!] دوی ته ووایه، چې په ځمکه کې وګرځئ، وګورئ، چې د مخکې تېرو شویو قومونو عاقبت څنګه شوی دی، له هغو څخه زیاتره مشرکان وو». أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ كَانُوا أَكْثَرَ مِنْهُمْ وَأَشَدَّ قُوَّةً وَآثَارًا فِي الْأَرْضِ فَمَا أَغْنَى عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ**[۲] **«نو ایا دوی په ځمکه کې ګرځېدلي نه دي، چې د هغو خلکو عاقبت یې لیدلی وای، چې له دوی څخه پخوا تېر شوي دي؟ له دوی څخه په شمېر کې زیات وو، له دوی څخه زیات پیاوړي وو او په ځمکه کې یې له دوی څخه زیات ځلانده اثار پرېښې دي. څه ګټه، چې هغوی کړې وه، هغه یې په څه درد دوا نه شوه».**

خو قرآن کریم په مختلفو ځایونو کې تاریخي کیسو د هغو نصیحتونو او انګېرنو تر څنګ بیانوي، چې له تاریخي بهیرونو څخه یې درلودل او د زورواکو او د هغوی د ماتحتانو د تصامیمو له پایلې سره، چې په ټولنه او حکومتونو یې درلودلې، یوځای بیانوي. قران کریم دا بیانوي، چې د تاریخ د لیکنې او مطالعې اصلي موخه، له هغه زده کړه او علمي ګټه اخیستنه ده؛ نه دا، چې هغه د ذهن په کونج کې د ښکلو او ناخوښو کیسو په توګه وساتو. قرآن د دې لپاره، چې یوه موضوع په سمه توګه تفهیم کړي، د دې لپاره، چې موضوع

---

[۱] سوره. الروم، آیه. ۴۲

[۲] سوره. غافر، آیه. ۸۲

په یوه تجربي شالید کې بیان کړي او د دې لپاره، چې په یوه مورد باندې، د عمل کولو او نه کولو د پایلو اړوند څه ووایي، په تاریخي مثالونو متوسل کېږي. په حقیقت کې قرآن کریم تاریخ د یوې عملي ښوونیزې سرچینې په توګه په وړاندې کولو او د انسانانو د فردي او جمعي کړنو د شناخت د اوزار په حیث، د ډېری معاصرو علومو بنسټ ایښودونکی دی.

سره له دې، قرآن په سورة یوسف کې لکه د نورو تاریخي کتابونو په څېر، د حضرت یوسف عَلَیْهِ السَّلام د ژوندانه کیسه، د هغه له کوچنيوالي، تر ځوانۍ پورې، یو په بل پسې بیانوي، تر څو روښانه کړي، چې تاریخ لیکنه په رواج شوې بڼه یې هم باید هېره نه شي؛ خو د دغې کیسې په لړ کې، ډېر پندونه هم ویل کېږي، تر څو بیا هم څرګنده کړي، چې د تاریخ مقصد څه دی.

د تاریخ په لوستلو سره، انسان دوو ذهني سفرونه ته، د زمان او مکان په قالب کې ځي؛ د مکان په قالب کې ذهن هغو مکانونو ته ځي، چې هېڅ یې نه دي لیدلي او د زمان په قالب کې هم داسې تېرو وختونو ته ورګرځي، چې یوازې د زمان د افسانوي ماشین په وسیله شوني دي. قرآن تاریخ ته دومره ارزښت ورکوي، چې د ذهني سفر له هڅونې پرته، د مکان په قالب کې فیزیکي سفر ته یې هم ترغیب کړی او په دې موخه سفر، د یوه ښه بنده له ځانګړتیاوو څخه ګڼي. **إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ... التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ**[1] **«حقیقت دا دی، چې الله له مؤمنانو څخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه د جنت په بدله کې اخیستي**

[1] سوره. التوبة، آیات. ۱۱۱-۱۱۲

**دي...، د الله لوري ته بیا بیا رجوع کوونکي، د هغه بندګۍ پر ځای راوړونکي، د هغه ثنا او ستاینه ویونکي، د هغه په خاطر په ځمکه کې ګرځېدونکي راګرځېدونکي، (دي)».**

له بده مرغه، مسلمانان په اوسني عصر کې، کوم اهمیت چې قرآن تاریخ ته ورکړی دی، دومره اهمیت نه ورکوي، د نورو امتونو تاریخ خو لا څه، ان د اسلام تاریخ هم نه مطالعه کوي. ډېری مسلمانان، چې په ښه شور او شوق سره د پخوانیو صالحانو یادونه کوي او ځان د هغوی د لارې لارویان ګڼي، خو د هغوی د ژوندانه له تاریخ نه د لرې کېدو په پرتله، د هغوی د تاریخ په موازي حالاتو کې، د هغوی خلاف عمل ترسره کوي او د دوی اوسنۍ فتواوې داسې دي، چې یا خو مخکني صالحان (نعوذ باذالله) نا مسلمان راوځي او یا خو ښه مسلمان نه وي. په نننۍ زمانه کې، چې د مسلمانانو ترمنځ اختلافات خپل اوج ته رسېدلي او یو کوچنی فکري مخالفت، د یو بل د تکفیر او تفسیق سبب کېږي، لازمه ده، چې مسلمانان تاریخي کتابونه سره له اوږدوالي، مطالعه کړي. په ډاډ سره به ووایم، ډېری تعصبونه او اختلافات به، لږ تر لږه په خپله د دوی په ذهنونو کې له منځه لاړ شي.

داسې فکر باید ونه کړو، چې د فتنې په اوسني وخت کې، د حق موندنې لپاره، پرته له صادقانه هڅو او پرلپسې زحماتو به نجات موندونکو کې شامل شو.

الله تَبَارَک وَتَعَالَی په قرآنکریم کې فرمایي: **وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ**

**شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ[1] «او (دا د همغې شاهدی تیاری دی)، چې موږ دغه کتاب پر تا نازل کړی دی، چې په ډاګه ښکاره د هر شي څرګندوونکی دی. او د هغو خلکو لپاره هدایت، رحمت او زیری دی، چې د امر منني غاړه یې ایښې ده».**

له قرآن نه د هر څه (چې د بریا لپاره حیاتي او ضروري دي)، د تبیین د تر لاسه کولو لپاره، باید هغه په ژور فکر، تعمق او دوامداره توګه په ظاهري او باطني حواسو سره مطالعه کړو؛ ځکه کومې ماناګانې، چې په قرآنکریم کې د سترو معجزو په توګه بیان شوې دي، لایتناهي دي او په هر ځل مطالعې سره، کولی شو، د خپلو زړګونو پوښتنو ځوابونه له قرآن څخه تر لاسه کړو. **قُلْ لَوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَنْ تَنْفَدَ كَلِمَاتُ رَبِّي وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ مَدَدًا[2] «[اې محمده ﷺ!] ورته ووایه: که سمندر زما د رب د خبرو د لیکلو لپاره سیاهي شي، نو هغه به ختمه شي؛ خو زما د رب خبرې به پای ته نه وي رسېدلې، بلکه که موږ همدومره سیاهي نوره هم راوړو، نو هغه به هم بسنه ونه کړي!»**

---

[1] سوره. النحل، آیه. ۱۱

[2] سوره. الکهف، آیه. ۱۰۹

## خدای، قران او انسان

کله چې له یو چا سره د زړه اړیکه او ارتباط ولرې، په هغه پورې درې تړلي وختونه ډېر سخت تېرېږي؛ له هغه سره د لیدو او ملاقات له وعدې وړاندې شېبې او له جدایۍ (فراق) نه وړاندې او وروسته شېبې. ځوان چې د شفق د لمنې په خپرېدو سره د فراق شېبې نږدې لیدلې؛ نو د وخت د تېرېدو سختې شېبې یې شمېرلې او داسې یې انګېرله چې یوه تر ټولو غوره شپه یې پای ته د رسېدو په حال کې ده، د خپل زړه هغه اواز چې فریاد یې کاوه له خپل دوست او ملګري څخه تر نا معلوم وخت پورې جلا کېږي اورېده؛ خو ځوان له هغه لږ وخت نه چې درلوده یې نه یې غوښتل چې بې‌برخې پاتې شي؛ نو د قرآن له پیر یې وغوښتل چې د قرآن د معنوي اهمیت په اړه څه ورته ووایي:

**کېدای شي د قرآن د ارزښت او عظمت په اړه څه راته ووایي، د هغه کتاب د کرامت په اړه چې د ژوندانه تر ټولو بهترینه شپه یې راکړه؟**

د دغه کتاب عظمت او لویي د ستاینې وړ نه ده، د قران پیر په ښکته او احساساتي غږ وویل، کولی شم د دغه کتاب د عظمت اړوند په زرګونو الفاظ بیان کړم؛ خو زما په اند اغېزناکه خبره هغه ده چې د یوه داسې روح لرونکې وي، چې هغه د اورېدونکو زړونو ته انتقال کړي؛ دا بیا هغه مهال شونې ده چې د زړه له تل نه را ووځي او د زړه هره درزا یې تصدیق کړي. یوه اغېزناکه خبره هغه ده چې په ټول وجود سره پر هغې باور ولرو، کله چې د یوې موضوع اړوند خبرې کوو، زموږ زړه هغه احساس کړي او ویې مني، دغه خبر بیا له

ځان سره قلبي څپې هم وړي او که چیرې اورېدونکي خپل زړه نه وي تیاره کړي، په مستقیم ډول یې په زړه اغېز کوي؛ خو که چیرې داسې خبرې وکړو چې زموږ له زړونو سرچینه نه اخلي، که هغه د ریا په خاطر وي او که د دوکې په خاطر، د هغو وړونکې قلبي څپې به زموږ خبرې رد کړي او کله چې اورېدونکي دا خبرې اوري که څه هم ذهن یې هغه ومني؛ خو زړه ته یې نه ښکته کېږي، ځکه زړه هغه امواج او څپې پېژني. الا ماشاءالله.

د دغه کتاب عظمت هر څوک د خپل وس او پوهې په اندازه په نسبي توګه احساسولای شي او هر څوک یې د خپلو باطني تجربو په کچه له دغه کتاب څخه بیانولای شي. ما خو تر اوسه د دغه کتاب له بسم الله یوازې (ب) حرف نه دی باطني کړی، زه نشم کولی چې د روح د تصدیقوونکو خبرو سره یو ځای د هغه د عظمت په اړه څه بیان کړم؛ خو غواړم څو الهي اشارات د دې موضوع په تړاو بیان کړم.

په دې اړه غواړم د سورة الرحمن څلور ایاتونه تلاوت کړم، دغه سورة د الله تَبَارَک وَتَعَالَی په صفتي نوم سره پیل کیږي؛ **الرَّحْمَنُ**[1]. رحمان د الهي اسماء الحسنی څخه یو نوم دی چې په هغه کې د الهي رحمت نهایت وسعت او پراخوالی بیان شوی دی. هغه رحمت چې له الهي غضب څخه وړاندېوالی کوي، داسې رحمت چې بې انتها دی؛ داسې رحمت چې لکه د چینې را خوټېږي او هر ځای تر خپل پوښښ لاندې نیسي، داسې یو رحمت که په هغه کې ډوب شئ ژوند نه اخلي؛ بلکې ژوند در ښښي، داسې یو رحمت چې انتها یې

[1] سوره. الرحمن، آیه. ۱

انساني ذهن نشي درک کولی، داسې یو رحمت چې په واسطه یې انسان د داسې نعمتونو خاوند شوی چې د شمېرلو وړ نه دي، همداسې ده چې الله تَبَارَک وَتَعَالَی د دغه سورة په اوږدو کې څو ځلې د خپلو نعمتونو او رحمتونو یادونه کوي چې د هغه د سپېڅلي ذات د رحمانیت د صفت تجلی ده؛ **فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ**[1] **«نو اې پېریانو او انسانانو، تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه درواغ وګڼئ؟!»**.

له لومړي ایت وروسته قران ادامه ورکوي؛ **عَلَّمَ الْقُرانَ**[2] **«د دغه قران (یې) ښوونه کړې ده».** دغه آیت دا څرګندوي چې تر ټولو ستر الهي رحمت او نعمت د قرآن تعلیم دی؛ لکه څرنګه چې د رحمن صفت د الهي صفاتو بې انتها ترین صفت دی؛ نو د قرآن زده کړه هم د انسان لپاره یو بې انتها الهي رحمت دی. الله ﷻ په دغه آیت کې سربېره پر دې چې قرآن کریم د انسان او پېریانو لپاره تر ټولو ستر رحمت او نعمت معرفي کړی دی، د هغه زده کړه یې هم په خپله ذمه‌واري اخیستې ده، قرآن الله تَبَارَک وَتَعَالَی ورښیي او الله تَبَارَک وَتَعَالَی دا نعمت ډېری هغو کسانو ته ورکوي چې هغه ته ډېر نږدې دي (متقیان). د قرآن کریم د علم د ترلاسه کولو لپاره یوازې د هغه لوستل او زده کول بسنه نه کوي؛ بلکې تقوا هم ورسره لازمي ده.

الله تَبَارَک وَتَعَالَی وروسته له دوو بې انتها ترینو (لومړی د خپل ذات له بې انتها صفت نه او دویم د بې انتها او ډېر پراخ رحمت یعنې قرآن) له بیان نه، د

---

[1] سوره. الرحمن، آیه. ۱۳

[2] سوره. الرحمن، آیه. ۲

خپل غوره او بې انتها ترینه خلقت کرامت بیانوي؛ **خَلَقَ الْإِنْسَانَ**[۱] **«همغه انسان پيدا کړ».**

انسان! هغه مخلوق دی چې الله تَبَارَک وَتَعَالَی په خپلو بلاکيف مبارکو لاسونو سره خلق کړی دی؛ **قَالَ يَا إِبْلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ**[۲] **«(الله ﷻ) وفرمايل: اې ابليسه! ته څه شي هغه چا ته له سجدې کولو څخه منعه کړې چې ما په خپلو دواړو لاسونو (علم او قدرت) سره جوړ کړی دی؟».** انسان! هغه مخلوق دی چې الله تَبَارَک وَتَعَالَی ورته کرامت ورکړ؛ **وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ**[۳] **«دا خو زموږ پېرزوينه ده چې بنيادم ته مو لويي ورکړه».** انسان! هغه مخلوق دی چې الله تَبَارَک وَتَعَالَی په خپلو ډېرو نورو مخلوقاتو ورته فضيلت ورکړی دی؛ **وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلاً**[٤] **«او پر خپلو زياترو مخلوقاتو مو ښکاره لوړتيا ور وبښله».** انسان! هغه مخلوق دی چې د الله تَبَارَک وَتَعَالَی د دغه فضيلت او کرامت په سبب د ملايکو مسجود وګرځېد؛ **وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لآدَمَ**[٥] **«او کله چې موږ پرښتو ته امر وکړ چې د ادم پر وړاندې سرونه په سجده ښکته کړئ».** انسان! هغه مخلوق دی چې الله تَبَارَک وَتَعَالَی خپل تر ټولو ستر رحمت د هغه پر زړه را نازل کړ؛ **وَإِنَّهُ لَتَنْزِيلُ من رَبِّ الْعَالَمِينَ... عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ**

---

[۱] سوره. الرحمن، آيه. ۳

[۲] سوره. ص، آيه. ۷۵

[۳] سوره. التين، آيه. ۴

[٤] سوره. التين، آيه. ۴

[٥] سوره. البقره، آيه. ۳۴

**الْمُنْذِرِينَ[1] «دا (قران) د مخلوقاتو د پالونکي له خوا نازل شوی دی؛...ستا پر زړه باندې، ترڅو چې ته له هغو خلکو څخه اوسې چې (د خدای لخوا د خدای د بندګانو) تنبیه کوونکي دي».**

بالاخره الله تَبَارَک وَتَعَالَی په انسان کې له خپل ستر او پراخ رحمت څخه یادونه کوي؛ **عَلَّمَهُ الْبَيَانَ[2] «هغه ته یې غږېدل ور زده کړل».** انسان ته حیوان ناطق وایي؛ ځکه د نورو حیواناتو په پرتله چې لومړنی تمایز په انسان کې لیدل کېږي بې‌شکه هغه دانسان نطق او خبرې دي. نطق، د انسان پرمختګ، د انسان د ژوند د تکامل طرز، د انسان لپاره د علم تکامل، د انسان ټولنیز ژوند ممکن کړي دي.

پایله: تر ټولو ستر الهي صفت رحمن (د بې انتها رحمت خاوند)، تر ټولو ستر او پراخ الهي رحمت قرآن؛ د الله تَبَارَک وَتَعَالَی د مقدس ذات بالاثره با کرامت ترینه او غوره الهي خلقت انسان او په انسان کې بهترینه او مهم ترینه الهي رحمت بیان دی.

یوازې بدبخت‌ترینه خلک به له الهي رحمت او قرآن څخه تېښته وکړي، د دې لپاره هغه الهي کرامت چې د الله له لوري انسان ته ورکړل شوی، ساتنه وکړي باید قرآني شي او د دې لپاره چې په ځان کې د الهي ستر نعمت شکر ادا کړي باید قرآن خوانه شي؛ لکه څرنګه چې د رسول الله ﷺ په حدیث کې په همدې مفهوم سره راغلي چې بهترینه د تاسو هغه څوک دي چې قرآن زده

---

[1] سوره. الشعراء، آیات.۱۹۳-۱۹۴

[2] ره. الرحمن، آیه. ۴

کوي او نورو ته يې ورښي.

قرآن هغه ستر الهي رحمت دی چې د باکرامت ترينه الهي مخلوق پر زړه را نازل شوی، د انساني کرامت د پاسدارۍ لپاره عطاکړل شوی او د دې لپاره چې انسان له خپل کرامت څخه ساتنه وکړي او بهتره شي، په ځان کې له بهترينه الهي نعمت (بيان) څخه دې د قرآن د تفسير او تبيين لپاره استفاده وکړي.

## وروستۍ وینا

د سهار د آذان خوږ او زړه را ښکونکی غږ له نږدې جومات څخه د خبرو اترو د بندېدو د اعلامیې په توګه د دوارو پر غوږونو د مینې لاس را کېښود، دوارو چې ټوله شپه د خدای ﷻ او د خدای ﷻ د کلام په یاد او ذکر سره تېره کړې وه، د آذان هره جمله یې لکه د یوه اسمانی زړه را ښکونکي اواز په توګه احساسوله او د هغوی د روح تازګي یې باطني کوله.

لکه څرنګه چې په روایاتو کې راغلي دي، په هر هغه مجلس کې چې د الله تَبَارَک وَتَعَالَی ذکر او یاد وي په هغه مجلس کې پرښتې برخه اخلي، ګواکې چې له ذهن څخه زړه ته د مؤذن د آذان د رسولو دنده پرښتو پر غاړه اخیستې وه. د قرآن پیر د اذان له هرې جملې وروسته، ورو او په خوند **«لَا حَوْلَ وَ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ»** زمزمه کړل او ځوان چې د سپېده‌داغ د اسمان پر لور سترګې ګنډلې وې داسې یو خوند یې احساساوه چې د خپل ژوندانه په اوږدو کې یې له هېڅ شي څخه نه و ترلاسه کړی؛ نه له پیسو، نه له لاسته راوړنو او نه د نورو له ستاینو. په داسې حال کې چې بدن یې ډېره ارامتیا لرله، روح یې داسې یوه په زړه پورې بې‌تابي درلوده چې غوښتل یې اسمان له دومره ستروالي سره سره تېر کړي او د ارامتیا هر اسماني زیری باطني کړي.

د آذان په پای ته رسېدو او د قرآن د پیر له لوري د آذان د دعا د زمزمه کولو په غږ چې په تضروع او محبت سره یې کوله، ځوان خپلې دنیا ته بېرته را وګرځېد او وروسته له یو څه چوپتیا یې په ارام او متفاوت غږ سره چې د باطني

سولې پیغام یې ورکاوه؛ خبرې پیل کړې وویل:

**ښايي له څو شېبو ډېر وخت ونه لرو، له همدې امله زه له پوښتنې تېرېږم او په وروستیو کې د دغه مجلس د پای او اختتامیې په توګه ماته یو څو کلمې نصیحت وکړه.**

د قرآن پیر په داسې حال کې چې د سهار لمانځه لپاره د اوداسه تازه کولو ته یې تیاری کاوه، وویل: غواړم د مډرن مسلمان د سترو اندېښنو اړوند چې ته هم دا اندېښنه لرې یو څه ووایم.

موږ په یوه کمیتي ژبه خبرې کوو؛ حتی کیفیات هم په کمیاتو سره محاسبه کوو، زموږ احساسات کیفیات دی؛ خو موږ هغه په کمیتي ژبه بیانوو. که چېرې له یو چا پوښتنه وکړو چې څه احساس لرې؟ هغه د ښه، ډېر ښه، عالي، ډېر عالي؛ یا بد، بدتره، ډېر بد او بدترین؛ یا خوښ، ډېر خوښ او... یا خفه، ډېر خفه او نورو کلمو سره د خپل کیفیت احساس څرګندوي؟ که چېرې د بیان دغه بڼه کمیتي کړو چې د رواني ناروغانو په پوښتنو او ګروېږونو کې ډېر کارول کېږي او که د اعدادو په قالب کې یې بیان کړو، مثبت او منفي کېږي؛ څوک چې یو څه خوښي او ښېګڼه احساسوي خپل احساس یې د ۱ مثبت عدد، ډېر ښه او خوښ مثبت ۱۰، هغه چې ښه او عالي احساس لري مثبت ۱۰۰ او عالي‌ترین احساس لا یتناهي او برعکس د هغه منفي ۱، منفي ۱۰۰ او منفي لایتناهي بیانوي؛ خو دواړه حالتونه په ځان کې د ژوندانه ارامتیا او خوند نه لري.

هغه څوک چې تل خاندي، هغه په پوره ارامتیا کې نه دی او د چاچې تل په سترګو کې اوښکې وي الزاماً د نه ارامتیا والا نه دی. ډېری هغه کسان چې په

مثبت وضعیت کې وي، منفي ته د تلو ډار ترې ارام اخلي او کوم کسان چې په منفي وضعیت کې دي مثبت ته د نه رسېدو او د نشتوالي اندېښنه او د نه رسېدو درد يې غمجنوي. حتی هغه کسان چې د کمیتي معیار پر اساس باید په مثبت وضعیت کې وي، د کمۍ او نا تکمیلۍ احساس کوي؛ ځکه هغوی د تصوراتو توپیر لري. وړاندې مو د فقر ډولونه بیان کړي دي؛ خو د ویرې هغه خطرناکه ډول چې په اوسني عصر کې د ډېرو لپاره ازار ورکوونکی دی، هغه د تصوراتو فقر دی. یو څوک ښايي خواړه ولري، کور ولري او له اړتیا ډېر عاید ولري؛ خو بیا هم فقیر وي، ځکه په کومو تصوراتو چې هغه خپل ژوند برابر کړی دی هغه ته نه دی رسېدلی.

ډېری انسانان خپل ژوند له منفي نه د مثبت او له مثبت نه د منفي په لور د انتقال په پړاو کې تېروي، کله چې یو څه لري خوشاله وي؛ خو په ورته مهال يې ناداري او نا خوښي زوروي او کله چې څه نه لري خوشاله نه دي. انسان د انتقال په دې بهیر کې له مثبت نه منفي او برعکس له منفي څخه مثبت ته یوه محوطه هېره کړې ده، هغه د صفر محوطه ده؛ هغه محوطه چې نه د خپګان او نا خوښۍ وېره ده او نه د خوښۍ لپاره کوم غم په کې شته. داسې یوه محوطه چې نه د ناداریٔ وېره په کې شته او نه د شتمنۍ د نه شتون لپاره غم او ډار، هغه محوطه چې د شتمنۍ او خوښۍ په حال کې د ویرې، شکر، توکل، ناپیوستوب او د فقر او غم پر مهال پکې اندېښنې پر ځای امید، توکل، رضا او ازادي وي؛ هغه محوطه چې یوازې ارامتیا، ازادي او بې‌نیازي ده او د کاملیت احساس راوړي.

داسې یوه محوطه چې کولی شو په هغې کې له شتمنۍ او فقر دواړو څخه

خوند واخلو، دغه محوطه چې نه په هغه کې ډار وي او نه وېره، دا د الله ﷻ د اولیاوو او پرهېزګارانو محوطه ده؛ **أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ * الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ * لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ**[۱] **«واورئ! څوك چې د الله دوستان دي، پر هغو کومه وېره او کړاو نشته * هغوی چې ایمان یې راوړی دی او د پرهېزګاری کړنلاره یې غوره کړې ده * د دنیا او اخرت دواړو په ژوندانه کې د هغو لپاره زېری دی، د الله خبرې نشي بدلېدای، همدا لوی بریالیتوب دی».**

دا یوه الهي ژمنه او حق ده، په هغه کې هېڅ شک نشته، د الله تَبَارَک وَتَعَالَی اولیاء او پرهېزګاران که مقتدر وي او که محکوم وي، که غنیان وي که فقیر، که د خوښی اسباب ورسره وي او که نه وي او که د یارانو په مجلس کې وي او که په فراق کې، دوی په ارامتیا کې دي. دغه حالت نه تر لاسه کېږي؛ مګر د زړه په اطمینان سره او د زړه اطمینان بیا د الله د ذکر به ګرو کې دی؛ **الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللَّهِ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ**[۲] **«همدغه (د الله لوري ته ګرځېدونکي) خلك هغه کسان دي چې (د دغه پیغمبر بلنه) یې منلې ده او د هغو زړونو ته د الله په یاد سره ډاډ ور په برخه کېږي، خبردار اوسئ! همدغه د الله یاد هغه شی دی چې زړونو ته ډاډ ور په برخه کوي».**

الهي ذکر څه دی؟ پر مسنونه اذکارو سربېره تر ټولو ستر الهي ذکر الهي

---

[۱] سوره. یونس، آیات. ۶۲-۶۳

[۲] سوه. الرعد، آیه. ۲۸

کلام دی؛ **إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ**[۱] **«پاته شو دا ذکر (قران)، دا موږ نازل کړی او موږ په خپله د دې ساتندويان يوو».**

بناءً زما وروستی خبره دا ده چې له قرآن سره دايمي اړيکه ولره، لږ تر لږه هره ورځ د قران کريم يوه رکوع تلاوت، له ژباړې او تفکر سره مه هېروه، اخلاق د قرآني کړه، اعمال د قرآني وګرځوه، او قرآني ژوند کوه...

***

دواړه خاموشانه د صفي محوطې د احساس په کيفيت او د روحي خوند په احساس کې د جومات پر لور روان وو؛ ځوان د هغه ستر تغيير په خاطر چې په ځان کې يې احساساوه، د خپلو ډېرو پوښتنو ځواب ترلاسه کړی و، يوه بې‌ساري ارامتيا يې درلوده او د قرآن پير د دې لپاره چې شپه يې د الله په ياد او ذکر تېره کړې وه، د دوه لمونځونو د ثواب تمه يې درلوده (د خپل لمانځه او د ځوان په اعتراف سره د ځوان د جماعت د لومړني لمانځه)، الهي کلام ته د يوه انسان د را ګرځولو سبب شوی و؛ ځکه ځوان له قرآن سره د تلپاتې او همېشنۍ اړيکې وعده ورکړه او بالاخره په دې خاطر چې د يوه انسان په زړه کې د يوه مثبت تغيير د لمبې د روښانه کولو لامل شوی و، د الله په لاره کې يې د دعوت د بريا احساس کاوه.

**الله پوهيږي او مونږ نه پوهيږو.**

---

[۱] سوره. الحجر، آيه. ۹

هغه قرآن چې ذولجلال دی رالېږلی موږ ته
د ګمراه فکر سمبالښت لره راغلی موږ ته
چې جبرائیل د رب له لوري رسولی موږ ته
په محمد رسول الله (ص) یې استولی موږ ته
هغه قرآن چې خدای پخپله هدایت بللی
چې هم یې ذکر هم رڼا هم یې حکمت بللی

موږ د قرآن په معنا باندې پوهیدلي نه یو
چې قرآن څه غواړي په دې راز رسیدلي نه یو
ځان مو پیوه کړی د قرآن په آیاتونو نه دی
چې راغواړي یې په هغه لاره تللي نه یو
قرآن له موږ ځنې صحیح اسلامیت غواړي
له عبادته سره یو ځای اخوت غواړي

عبدالروف قتیل خوږیانی